د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تألیف ریاست

# پښتو

## یوولسم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۸۸ لمریز

**د پوهنې وزارت**

**د تعليمي نصاب د پراختيا او**

**درسي کتابونو د تأليف رياست**

# پښتو

## يوولسم ټولګی

**درسي کتابونه د پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.له سر غړوونکو سره قانوني چلند کېږي.**

**د چاپ کال: ۱۳۸۸لمريز**

## دبيا کتنې کمېټې

### د ژبې او محتوا کمېټه:

_ سيد احمد مومند د پوهنې وزارت سلاکار.

_ د مؤلف مرستيال محمد عزيز تحريک د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف رياست د پښتو ديپارټمنټ علمي او مسلکي غړی او د پښتو ديپارټمنټ آمر.

_ د مؤلف مرستياله فروزان خاموش د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف رياست د پښتو ديپارټمنټ علمي او مسلکي غړې.

_ سيد هاشم سادات د عاشقانو _ عارفانو د ليسې ښوونکی.

### ديني، سياسي او فرهنګي کمېټه:

_ ډاکتر محمد يوسف نيازی د پوهنې وزارت سلاکار.

– محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئيس.

_ د مؤلف مرستيال محمد سهراب ديدار د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف رياست د پښتو ديپارټمنټ علمي او مسلکي غړی.

### د څارنې کمېټه:

– دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعليمي نصاب د پراختيا، د ساينس مرکز او د خپرونو مرستيال. دکمېټې رئيس

– محمد صديق پتمن د پوهنې وزارت تدريسي مرستيال. غړی.

– د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر ګلستانی د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف رئيس. غړی.

### کمپوز او ډيزاين:

_ صفت الله مومند د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف رياست د کمپيوټر ديپارټمنټ غړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی ځوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام لـه پېل څخه ملي سترو مـــوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نوو پروګرامونو تګلاره پیل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کیدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چې تر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست ته دنده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي. زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیار شوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساینس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هېوادپالنې، ملي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلو او پیاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانک اویونیسکو)څخه چې دکتابونو په تالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

# لړلیک


| سرلیک | مخ | سرلیک | مخ |
|---|---|---|---|
| مناجات | ۱ | د بې وفايۍ سبب | ۳۶ |
| ويده ماشوم | ۲ | حکايت | ۳۸ |
| زموږ هېواده! | ۴ | اې هلمنده | ۳۹ |
| د مزار لوحه | ۶ | ژوند | ۴۲ |
| نړدې حج | ۷ | حقايق | ۴۴ |
| د ميږي عزم | ۹ | د لوی احمد شاه بابا احسان | ۴۶ |
| له بېوزلو سره مرسته | ۱۰ | د حضرت علي رضي الله عنه ويناوې | ۴۹ |
| امير کروړ | ۱۲ | د نېشې او عادت تر منځ څه توپير دی؟ | ۵۱ |
| بريالی شهيد | ۱۴ | روغتيا | ۵۳ |
| بي بي نيکبخته | ۱۶ | ښه ګټه | ۵۴ |
| پسرلی | ۱۸ | پښتو متلونه | ۵۶ |
| ناکامي | ۲۰ | د وطن مينه | ۵۸ |
| څلوريځې | ۲۲ | کمال | ۵۹ |
| د حضرت عمر رضي الله عنه ويناوې | ۲۵ | احسان | ۶۱ |
| حکايت | ۲۶ | لوړ هندوکش ته! | ۶۳ |
| پنځه ګوهره | ۲۸ | ستا سزا | ۶۵ |
| زرغونه | ۲۹ | ملي يووالی | ۶۶ |
| دوې تاريخي څلوريځې | ۳۲ | وچ تقليد | ۶۷ |
| ورمونه | ۳۳ | پسرلی او د ژوندانه راز | ۶۹ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| روغتیا | ۷۲ |
| لوی احمدشاه بابا د یوه ادیب په حیث | ۷۵ |
| طمع | ۸۳ |
| د پیغور حسرت | ۸۴ |
| نارینتوب | ۸۸ |
| د ګلو کر | ۹۰ |
| ملاله | ۹۲ |
| شیخ تیمن(رح) | ۹۴ |
| د سعادت کیمیا | ۹۶ |
| فکر پالونکی | ۹۸ |
| د زړه سوی غږ | ۹۹ |
| حریت | ۱۰۰ |
| حکایت | ۱۰۱ |
| ماشومان | ۱۰۲ |
| د مشرانو همت | ۱۰۴ |
| د محرم لسمه | ۱۰۶ |
| فضیلت | ۱۰۸ |
| سوله | ۱۰۹ |
| پیر روښان او د هغه تألیفات | ۱۱۱ |
| له بې وزلو سره مرستې | ۱۱۴ |
| نو څه | ۱۱۷ |

| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سید جمال الدین افغان | ۱۱۸ |
| د سولې ترانه | ۱۲۲ |
| ښه ځوانان | ۱۲۴ |
| ابو علی سینا | ۱۲۵ |
| وهم | ۱۲۷ |
| ښه نیت | ۱۲۹ |
| محمد هوتک | ۱۳۰ |
| زور زیاتی | ۱۳۲ |
| د قرآن عظیم الشان قانوني حیثیت | ۱۳۴ |
| د اسلام مسأله په قرآن کې | ۱۳۵ |
| د الفت خلوریځې | ۱۳۶ |
| د بدانو حال | ۱۳۷ |
| غوښتنه | ۱۳۸ |
| د شیدا مرغلرې | ۱۳۹ |
| شاعر او سوله | ۱۴۰ |
| سبا | ۱۴۲ |
| د بیان برخه | ۱۴۵ |
| د تشبیه غرض | ۱۴۷ |
| د تشبیه خواوې | ۱۴۸ |
| د تشبیه ادات | ۱۵۵ |
| مجاز | ۱۵۸ |
| کنایه | ۱۷۰ |

# مناجات

الهي ستا په حضور د عجز سر ږدم
د محشر په ورځ به څه د ستــا پــه در ږدم

قافله د بندګۍ مې را نه لوټ شوه
د جرس په دود فرياد آه پــه ځيـګر ږدم

چې نصيب مې سيورى ستا د مرحمت شي
دواړه لاسه په لمن د پــاك سرور ږدم

دا نا سور زړه مې چې وكړې څه پرې ســـوده
ستا د نوم پانه په دې زولـن پرهـر ږدم

چې د عرش د كنګر و زيب وزينت شو
درته مخكې د معـراج د شپې دفتر ږدم

چې د ستا د نازولو قــدمګـــاه وي
فرش د سترګو پــه دې لاره د نـظر ږدم

ستا دياد ژبه خو نه لرم په خوله كې
غوږ مدام پــه غـږ د الله اكبـــر ږدم

ته غفور يې ته كريم يې ته رحيم يې
په تندي درته د عرض لاسـونه بـر ږدم

راته خواست بې ستاله دره هومره ګران دى
ګويا دا چې د خپل ســر له پاسه غر ږدم

تازګـــي مې د هنرګلو ته راكـــړه
چې بلبل غوندې زه تل پرې بــال وپر ږدم

چې بې د له يې په يو وارې كتو شم
پــه ليمـو مې قــدمونه د د لبـر ږدم

چې د حق په ډيوې ځان ستي پتنګ كا
پــه ايـرو يې دادب بوسې ته سر ږدم

(حافظ)

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| عجز | عاجزي |
| جرس | زنګوله |
| ستي | وريت ،كباب |

# ویده ماشوم

مازیګر لمر په غرغره دی، دانګړ په منځ کې د ګلانو د کیاریو په غاړه وړوکی ماشوم په لوبو بوخت دی. په لمن کې خاورې اخلي، له یوه ځایه یې بل ځای ته وړي او هلته یې غونډوي، مور د کاله په کار اخته ده په ډېره بیړه لګیاده، کالي سمبالوي، ځکه چې ماښام او وخت نا وخته دی.

د کار په منځ کې یې چې پام شي ور غږ کړي چې زړګیه څه کوې، راځه نا وخته دی، هله جار دې شم!!!

ماشوم په خپله نیمکۍ او خوږه ژبه وایي: "ډوډو پکه کم"

مور څه کوې؟ ماشوم "ډو ډو پکه کم" یعنې "ډوډۍ پخوم" مور د کاله په کارو بوخته او ماشوم په خپلو لوبو. وړې مرغۍ چې په کیاریو کې یې ټوپونه وهل خوشحاله خوشحاله او جلتې جلتې ګرځېدې. یوه یوه والو ته او ټولې خپلو بچیو او ځالو ته ولاړې. وخت تیرېږي، لمر ولوېده تیاره را پورته او د ځمکې په مخ را خوره شوه.

د آسمان په شنه او نا محدوده فضا کې ځای په ځای ستوري را ښکاره شول. مور چې له کاره خلاصه شوه. له ځانه سره یې وویل: آه ماښام

دی، تر غوني شوه بچی مې هلته لوبې کوي او زما هېر شوی دی.ورغله چې ګوري: ماشوم له خاورو نه ورې ورې او پلني ډوپکنۍ (ټوپنۍ) جوړې کړې دي.

خړ پړ پروت دی، سترې شوی دی په خاورو کې يې سر ايښی دی او د خوب د قاصدانو لاس ته يې ځان سپارلی دی.

د ماښام په خړه تياره کې مور د خپل ماشوم سرته ولاړه ده. زړه يې د يو عالم ترحم او زړه سوي نه ډك دی او چورت وړې ده:
هو! د ژوندانه مثال همدادی!
مورې په خپل ژوند کې همدغسې په خاورو لوبې کوو!
په دغه لوبو اخته يو، چې د مرګ دروند خوب په موږ خپاو راوړي او بل عالم ته مو بوځي.
نو! آه څومره خوږې دي دالوبې!
او څومره خوندور دی دا خوب چې په خپله خوښه او آزادۍ سره وي؟
(د خادم له نوي ژوندون څخه)

---

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| کياريو | ماشومان چې په خپلو لوبو کی پټې جوړوي همدغو ته کياری وايي. |
| جلتې جلتې | تېزې تېزې، چُستې |

سپارښتنه:

- دېورته لوست مطلب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# زموږ هېواده!

چې دې خاوره د سـرتاج د ایشـیاده
د جنت په شـان دې ځمـکه نـوراني
د آریه نژاد زانګو هـم غـېـږه ستـاده
د زاړه تمـدن تـه وې ودانـــي
رب دې تا لري ودان زمـوږ هېـواده!
تر هغې چې لمر سپوږمۍ وي آسـماني
تاروزلي دي په غېږ کې ډېر مېـړونه
چې پرې ډکې په دنیا کې هـدیـرې دي
کار نامو دې ستـانیولـي تـار یخـونه
ډک له سرو لالو نو ستا خاورې ایرې دي
وخـوځېږه چـې راغـلې مـوقع بیا ده
تېره نه ده لاداسـتا ښـایسـته ځـواني
د وطـن ورونو راځـئ چـې را اوچـت شو
دکمک لاسـونه ور کـړو یـو لـه بلـه
دپلرو په شان خـاونـد دلوړ همـت شو
خپل ذاتي جوهر ښکاره کړو بیا یو ځـله

ګټه کړي له يووالـــي نــــه هـــرچـــاده
په کوښښ کېـــږي د ســــختو آســـــاني

پاڅئ، پاڅئ، افغانانو چې روان شـو
اوږده نــــه ده د مطــلب لاره ده لنــــډه

ساتندويه د خپل لوی نوم او نښان شو
پاك به ساتو خپل وطن له خـــارو خنډه
که په چا کې پښتنو اله په رښـــــتيا ده
پــه مېـــړانه ســـــاتـــي خـــپله وداني

(د شمس الدين مجروح له"منتخب شعرونه" څخه)

---

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| اېشيا | آسيا |
| مفاخر | فخرونه، وياړونه |

سپارښتنې:

- دپورته شعر مطلب په نثر واړوئ.
- ګرانو ښوونکو !تاسو په زده کوونکو کې دهېواد پالنې روحيه وروزئ.
- د هېـواد پـه مقابـل کـې تاسـو څـه مسوولـيتونه لـرئ؟ پـه اړه يـې يـوه مقالـه وليکئ او بيا يې دټولګيوالو په مخکې ولولئ.

# د مزار لوحه

کور په کور او کلي په کلي به ګرځېدم. د خدای په نامه به مې څه غوښتل. چا به یو موټی ناپاکه غله راکړه او چا به سوې ډوډۍ.

ډېرو کورونو به ځواب راکاوه او ځینو به په دروازه کې هم نه پرېښودم. څو ورځې د یو او بل له درګاه نه وږی او بینوا راغلم هېچا هېڅ رانه کړ، له ټولو خلکو مې زړه بد شو دنیا ته مې په کرکه وکتل.

خدای ﷻ ته مې رجوع وکړه او په دغه کوټنۍ (قبر) کې پرېوتم.

هغوی چې زه به یې په دروازه کې نه پرېښودم اوس ماته لاس په نامه ولاړ دي او له مانه څه غواړي.

زما په نامه زما کوټنۍ ته هر څه راوړي او د خدای ﷻ په نامه خوارانواو غریبانو ته سوې مړۍ هم نه ورکوي.

(دالفت له غوره نثرونو څخه)

---

| لغتونه: | معناګاني: |
|---|---|
| بېنوا | نا امید، خوار او نادار |
| رجوع | مخه کول |

# نړدې حج

عبد الله د ښتن دوست وايي يو كال
شو روان په نيت د حج صاحب د حال
چې درياب غاړې ته ورسيد له وارې
يو مردار مرغه يې وليد پروت په لارې
په دا حين كې يوه ښځه را ښكاره شوه
ډېر ساعت ددې مارغه په ننداره شوه
بيا يې واچاوه څادر كې شوه روانه
عبد الله وليده ويې وې له ځانه
مناسب چې له دې ښځې استفسار كړم
حقيقت ددې مردار مارغه اظهار كړم
په نژدې د ښځې راغى ها ښاغلى
ورته ويې وې چې يو سوال كړم له تاغلى
دا مردار مارغه چې تا كړ اوس اوچت
دا دى منعه دنبي ﷺ په شريعت
دې ووې چې خبر نه يې مباركه
مسئله هېره له تانه ده، بېشكه
دا مردار مارغه زما په حق مباح دى
روايت له كتابونو د صحاح دى
فرزندان راته له لوږې هلا كېږي
اې صاحبه! كه باور دې په دا كېږي

دا دریمه ورځ ده دوی چې بې طعـــام دي
پـه ژړا پـه نارو سر پـه صبح و شـــام دي
عبد الله چې واوریدې دغـــه خبـرې
پـه زړګي باندې یې بل شه اور د سرې
ده ویل چې حج مې دادی چې ادا کړم
دا توښه د حج دې ښځې تـه عطـــا کړم
هغــــه مال چې څه و ده څخــه موجود
وې چې واخـــله ښځې سردې شه مقصود
نه سل کاله عـبـادت زُهـد تقوی کې
تـه یوه روپۍ پـه لار د خدای ﷻ سخا کې
مرتبـــه د ســـخاوت د یـــو درهـم
دی سل کـــاله عبـــادت ورځنــي کم
(له "در المجالس" څخه)

---

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| استفسار | پوښتنه کول |
| مباح | جایز او روا |
| صحاح | د صحیح جمع ده |
| عطا | ببښنه |
| سخا | سخاوت ، بخشش |

سپارښتنه:

- دپورته شعر مطلب په ساده ژبه ولیکئ.

# د میږي عزم

وايي چې يوه میږي د شګو له ډېرۍ نه يوه يوه شګه وړله او د لارې نه يې بل طرف تې يوه ډېرۍ سازو له، يوه مارغه تې تپوس وکړ چې: "دا د څه له پاره بې فايدې لګيا يې؟ دغه کا رخو تر سره کېدونی نه دی." میږي ځواب ورکړ چې: "زما يوه معشوقه ده هغې وعده کړې ده چې دغه د شګو انبار چې له دغه ځايه ټول دغه بل ځای ته نقل کړې هله به وصال مومې، نو زه کوښښ کوم که دغه کې ومرم نو د چا د پېغور خو به نه یم او که په فضل د خدایﷻ کامياب شوم، نو زيات اميد مې هم دغه دی. که بې همتي وکړم نو مطلب به هم په لاس را نشي او ټول عمر به د عزيزانو د خندا شم او دغه شان د بې عزتۍ د کوزو سترګو ژوند مې هېڅ په کار نه دی".

(له "عنوان النصايح" څخه)

---

سپارښتنې:

- دميږي دټولنيز ژوند په هکله څوك خبرې کولی شي؟
- دميږيانو دکار او زيار په هکله يوه مقاله وليکئ.

**ګرانو زده کوونکو!**

میږی د خدایﷻ ډېر کوچنی مخلوق دی، مګر دده عزم او اراده ډېره قوي ده نو تاسې هم د میږي په شان با عزمه واوسئ. او خپلې ستونزې حل کړئ.

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| تی | ترې |
| مارغه | مرغه |
| ومرم | مړشم |

# له بیوزلو سره مرسته

هسې وايي د صدیق ﷺ په خـــلافت کې
یو سړی و ډوب تمــــام په معصـیت کې
ډېر فاسق فاجر میخور ډك له عصـیان و
نقـــــل کړی ده لـــه دې فانـــي جهـان و
هغه شپه صدیق په خـوب کې ولیـــدلی
شاهـــانـه تــاج یې پر ســـر و ځلیـــدلی
ابـو بکـــر ځنـې و کړ لـــه پوښـــتـنه
دا عزت دې په څه بیا موندله ښنــتـــنه
ته په فسق او فجور هر چېرته معروف وې
بیرون تللی لـــه نیکـیه لـــه وقوف وې
غه سړي ورته عـرض وکـړ اې صــدیقه!
دا خبــر رښتــیا وتــا تــه کړم تحـقـیـقه
یوه ورځ هـــر ګــوره وږی بې قــوت وم
کورته تللی د مــړی خو ړو په نیــت وم
چې مړی مــې په لاســـونو واخســـتله
هغه وخت فقیـر پرمـــا نـــاره وکړله

غه مړی مې هغه وخت فقیر تـــه ورکړه
زه هم هسې وړی کښیناستم بــاور کړه
اوس هغه مړی دلې زما په ښـــه شــوه
راوستم یې تردې ځایه زما مله شـــــوه
بارې خدای مې را معاف کړه ګناهونه
رایــــې و بخښــــله واړه نعمـــتـــونه

(له تفسیر الضحیٰ څخه)

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| معصیت | ګناه |
| فاسق | بدکاره |
| عصیان | ګناه |
| فاني | ناپایښته |

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! د پورته نظم مطلب په نثر واړوئ.

❖ تفسیر الضحیٰ غلام محمد لیکلی دی، غلام محمد د یو ولسمې هجري پیړۍ په سرکې ژوند کاوه٠ معراج نامه، جنګنامه او د سیف الملوك کیسه هم دده تألیفونه دي.

# امیر کروړ (رح)

په تاريخ سوري کې راوړي چې امير کروړ د امير پولاد سوري زوی و، چې په کال ۱۳۹ هجري د غور په مندېش کې امير شو، او "جهان پهلوان" يې باله.

وايي چې دغور کوټونه، بالشتان ، خيسار ، تمران، خول ماڼۍ او بر کوشك يې ټول ونيول او د رسالت له کهوله يې په خلافت کې ډېر کومکونه وکړل.

نقل کا چې امير کروړ ډېر غښتلی او پهلوان و، په يوه تن له سلو جنګاورو سره جنګېده، ځکه يې نو (کروړ) باله، چې معنا يې ده کلك او سخت. وايي چې امير کروړ به په دوبي په زمينداور کې و او هلته يې ماڼۍ درلوده. چې کټ مټ د مندېش په شان وه، او په دغه ځای کې يې ښکار کاوه او عشرت.

په تاريخ سوري کې راوړي چې دا اميران له پېړيو په غور، بالشتان او بست کې وو او دهغه "سور" نومي له اولاده دي چې د سهاك له پښته و.

امیر پولاد په هغه دعوت کې شریك و چې ابو العباس سفاح له بنې امیه سره جګړه کوله او ابو مسلم یې هم مرستی و.

په تاریخ سوري کې محمد بن علي البستي داسې کښلي دي: د عباسي دولت په جنګو کې امیر کروړ ډېرې سوبې وکړلې، شیخ کته علیه الرحمه له تاریخ سوري نقل کا چې امیر کروړ عادل او ضابط او د ښې وینا خاوند و، ده به هر کله شعرونه ویل په کال **۱۵۴** هجري د پوشنج په جنګو کې مړسو او ترده وروسته یې زوی امیر ناصراېوادو نه ضبط کړل او د غور او سور او بست او زمینداور پر مځکو خاوند شو.

(له پټې خزانې څخه)

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې د تاریخي ځایونو د ارزښت په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

# بريالی شهيد

چې پر کوټ د کالنجرخپله سپاه
خېژوله پښتانه غازي شير شاه
رژېدلې ککرې د ژوبله ورو
په ځوانيو سرېده د مرګي خوا
بهېدلې ځبله وينې د جګرنو
د ميراني غبر ته ورړه بري پناه
نژدې ور له پښتنو غازيانو سوبه
چې يې اور باروت خانې واخيست ناګاه
ډېرې هيلې د زړو پاتې شوې نيمګرې
ډېرې برندې ځوانۍ شولې نيمه خوا
ډېر مېړونه په کې وسول د غازيانو
هاله وې د ننګ پټن مکوټ شير شاه
د روږ کړي مې دی سر دا ستا په مينه
د جهان د پادشاهانو پادشاه!
ځو مې رږغ د سوبې نه دی تر غوږ شوی
په رحمت سره مې ټينګه لره ساه
لمسول يې پښتانه بسمل فوځونه
نه ده کورټ د نامېندۍ درب درګاه

ننګيالو! لکه زمري ورځئ پر تـــورو

دی بری په يقين "نصر مـــن الله"

ويني راغلې پر ايښناو پښـــتنو مټ کړ

په يوه يرغل يې کا غليـــم تبـــاه

چې خبر د سوبې راغی تر شېر شـــاهه

له ښادۍ ور باندې تنګه شوه بار ګـاه

وې: "غازيانو!" مبارکه موداسو به

پر حالت د ځنکندن دی خدای ګواه

چې غالب له دې دنيا ځمه مسعود يــم

نور ارمان مې پر دنيا نشته خوشنوديم

(عبد الشکور رشاد)

---

سپارښتنه:

- دپورته شعر مطلب په نثر وليکئ.

❖ کالنجر (د "آهنګر" پروزن) په هندوستان کې د يوې ټينګې او تاريخي کلا نوم دی چې په ۹۵۲ هـ ق کال شير شاه ونيوله او په دغه جنګ کې شهيد شو.

❖ سلطان العادل شير شاه سوري په هندوستان کې له ۹۴۷ څخه تر ۹۵۲ هـ ق پورې پا چاو.

# بي بي نيکبخته(رح)

دا عــصمت پنــاه او عارفــه د الله، د شــيخ الله داد لــور وه. پــه قــوم مموزۍ چې په اشنغر کې يې پلار او نيکه د ممو زيو مرشدان وو.

هسې وايـي کاتب الحروف (محمد) چې زما پلار روايت کا! چې شيخ امام الدين خليل غوريا خيل په خپل کتاب "اولياى افغان" کـې‌هـسې کښلـي دي چـې: شــيخ الله داد لــوى ولــي و او لــوريې نيکبخته چې په حقيقت کې هم نيکبخته عارفه ښځه وه علوم ديني يې ولوستل او په رياضت او عبادت د خداى ﷻ يې عمر تېر کا. په سنه (۹۵۱) هجري په حباله د نکاح شرعي د شيخ قدم قدس الله سره راغلـه. چې د خواجـه محمـد زاهـد خليـل متـي زى زوى و او عـارف د خداى و. پـه ۹۵۶ يـې لـه بطنـه غـوث الزمـان قطب دوران شيخ ميا قاسم افغان په بدني کې پيدا شو، او دا شيخ په معرفت د خداى شهرت وکا چې په هند او پښتونخوا مشهور شو.

نقل کا چې شيخ امام الدين هم د دې عرفا وو لـه اولاده دى او دى په کتاب د اوليا ى افغان هسې کاږي چې بي بي نيکبختـه چې د خداى ﷻ عارفه او رابعـه د زمانې وه، يـو کتـاب يـې کښلى دى چې نوم يې دى "ارشاد الفقرا" او په دې کتاب کې يې هسې نصيحتو نه په شعر ويلي دي چې فقراء او عباد الله تـه مفيـد دي. دا کتـاب پـه سنه ۹۶۹ هجري تمـام شوى دى، او زمـا پـلار يـې نـسخه ليدلې وه په "بنو" کې، هغـه وخت چې دى تللى و پـه سفر د هغـه ځـاى، دغـه شعرونه له هغه کتابه زما د پلار په ياد وو.

د خدای ﷻ حق ته غاړه کښېږده
نوري نوري وینا پرېږده
دنیا پاته له هر چا ده
په اخلاص کې ځینې لیږده
څو قوت لرې په ځان کې
سر دیار په رضا کښېږده
ځان له بده خویه ژغوره
زړه په ذکر دیار بلېږده
کل دنیا به دې دښنه شي
اوس له ببرې ځنې رېږده
ټوله غواړې حسابونه
که دې اوښه که دې میږده
دنیا ترک وهه که پوه یې
د بقا پر لوري پښې ږده
(له پټې خزانې څخه)

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| عصمت | له ګناه څخه پاک |
| عارف | خدای پیژندونکی |
| ژغورل | ساتل، نجات ورکول |

❖ ګرانو زده کوونکو! که غواړئ چې معلومات مو دپخوانیو شاعرانو او ادیبانو په هکله بشپړ شي له پټې خزانې څخه استفاده وکړئ او دغه اثر حتمي او ضروري ولولئ.

۱- بدني د پیښور ختیځی ډډې ته دیو ځای نوم دی.

# پسرلی

د پسرلي ښکلونکي بيا کړه سينګارونه
بيا يې ولونل په غرونو کې لالونه
مځکه شنه لاښونه شنه لمنې شنې شوې
طيلسان زمردي واغوستل غرونه
د نيسان مشاطې لاس د مچېدو دی
مرغلرو باندې وښکلل ښېونه
د غټولو جڼدی خاندي وريدي ته
زرغونو ښو کې ناڅې ځلمي جونه
لکه ناوې چې سور ټيك په تندي وکا
هسې وګاڼل غټولوسره پسولونه
مرغلرې چې او رو وخونوليه
په ځلا يې شوه راڼه خپاره دښتونه
سپينې واورې ويلېده کاندی بهېږي
لکه اوښې د مين په ګرېوانونه
هر پلو د ګلو وږم دی لونلی
ته وا راغله له ختنه کاروانونه
د مسيح په پو به مړو ژوندون بيا موند
پسرلی مګر مسيح شو په پو کړنه
له مړو خاورو يې آغلی ګل را ويوست
وچ بېديا او غر يې کړله جنتونه

د زلما ټاپې راغلې پر جنډیو
لکه پېغله غوټې کاندي مکېزونه
د یو پلو مخ سور کړی پسرلي دی
یو د بل په غاړه اچوي لاسونه
د هندارو په څیر غرونه سپین ورنګین دی
چې پرواورو باندې ځل وکا لمرونه
په غورځنګ غورځنګ له خولې څګونه باسي
لکه شنې هاتي شنها کاندي سیندونه

(ښکارندوی غوري)

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| سینګارونه | آرایش ـ ډول |
| ولونل | غوړول ، تیتول |
| شنې | مست |
| ته وا | ته وایې |
| راغله | راغلل |
| وخونولیه | وشیندل |

سپارښتنې:

ښاغلی ښوونکیه!

پورته نظم زده کوونکو ته معنا او تشریح کړه او زده کوونکي دې دپورته نظم مطلب په روانه ژبه په خپلو کتابچوکې ولیکي.

❖ ښکارندی غوري(رح) په شپږمه هجري پیړۍ کې ژوند کاوه او پلار یې احمد نومیده، چې د فیروز کوه کوټوال و.

# ناکامي

د ژوندانه له ناکامیو څخه مه مایوسه کېږئ!

هغه ژوند کامیاب ژوند نه دی چې یوازې کامراني لري.

هغه خوشحالي سږی نه خوشحالوي چې د درد او خوږو په قیمت نه وي اخیستل شوې.

د ورځې رڼا دشپې له تیارې څخه ده.

د لېدو خوند د بېلتانه په غم کې او د ژوند فتحه د جنګ په شکستونو کې ده. هغه چې له خدایﷻ نه ابدي راحت غواړي هغه د یو داسې جنت آرزو لري چې هلته دلیدو له پاره سترګو پرانیستلو، د خوړو له پاره خولې بېرته کولو او د اورېدلو له پاره غوږ ایښودلو ته حاجت نه وي.

تر څو چې ژوند دی، نو په دې کې برکت له حرکت څخه دی او کامل سکون عین مرګ دی. هغه چې وايي په دې دنیا کې بدي ولې شته، کمي ولې او بند شونه ولې، نو دی په حقیقت کې د

نیکی د پرېمانی او آزادی قدر نه پېژني او ددې مرغلرو پوره قیمت ادا کول نه غواړي.

هر څومره چې یوه خوشالي شانداره وي هماغو مره هغه لارې هم سختې وي چې د هغې د حصول له پاره لنډېږي.

د ژوند ناکامي په حقیقت کې داسې کسان غواړي چې دکامیابی وړوي.

(له نوي ژوندون څخه)

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! له پورته متن څخه مو څه نتیجه واخیسته، په څو کرښو کې یې ولیکئ.

❖ نوی ژوندون د ښاغلی قیام الدین خادم اثر دی.

# څلوريځې

عادت چې بد لري ځـــــان يې ژړلی دی
عادت چې رد لري سـر يې خــوړلی دی
عادت په پند نه ځي عادت په بند نه ځــي
عـــادت له سـره ســـــره[1] تړلـــی دی

❁ ❁ ❁

عفو کرم دې په هر چـــا عـــام نـــه وي
په کس ناکس دې دا کار مدام نـــه وي
کس چې خطا و کا باندې عطـــا بويه
ناکس لابد شي چې انتقام نـــه وي

❁ ❁ ❁

فرزند که ښه شي د ســتر ګونورشــي
د ستر ګو نورشـــي د زړه ســرور شـي
فرزند که بد شي غـاښ دې رنځور شي
غـاښ چې رنځور شي نور د انبور شـــي

❁ ❁ ❁

مردان هغـــــه دي چې همت نـاك وي
د ننګ په کار کې چست و چـالاك وي
کار چې آغاز کا انجام يې فرض ګڼـي
په زړه هم پاك وي په خوله هم پـاك وي

❁ ❁ ❁

---

۱- په دې بيت کې لومړی سره د "ککرۍ" او دوهم سره د فارسي د"همراه" په معنارا غلي دي.

زمانه او رده اې نانغـو تـــانـــده
ته وچ لرګی يې نـــه لښتــه تـــانـده
دا اوربه تـــاو ته په منـــډه درشـــي
که ژاړې ژاړه کـــه خـــانـــدې خانده

❁ ❁ ❁

دا پند مې نغوږئ مه کړئ دوه تـــوکه
خواست د خســـرې له خپـــله روکه[1]
دروغ خبـــره پـــه خوله را مـــــه وړئ
په کارو بار کـــې لـــه واړه لـــــوکه

❁ ❁ ❁

په چا چې نه پسندې ګرانې دشـــوارې
په تابه نـه درځي دشـــوارې چـارې
په خـــدای ږو واړه جـزا سـزا لـــري
تر ښو که لاندې کړې مېږی په لارې

❁ ❁ ❁

حق د خپلويه د خپـــل پـــه زړه کـړه
که هر څو بد کا ورســـره ښـــــه کړه
په هر سلوك چـــې پـــردی خپلېږي
سلوك هم هســــې ورســـره وکړه

❁ ❁ ❁

---

[1] روکه: د وړور مصغر

رنګ رنګ ګلونه په باغ کې واشي
لکه چې واشي هســـې فنـا شـــي
ګرمـــې هېـــځ نه دي د بـــاغ بلبلې
چې يې دا هومـــره فرياد ژړا شـــي

❁ ❁ ❁

دا ويل مې خوښ دي چې چا ويلـــي دي
ډېر مې په زړه باندې ښه لګېدلي دي
بد خوا دې خوښ کا په ښـــو خبرو
نېك خواپه بد و خپل ژړولــــــي دي

❁ ❁ ❁

د شپې څښتن دې سحر تـــه ګوري
ګوندې پرې وخيژي د سبا ستوري
هېڅوك دې طمعه اميد پرې نه کا
بـــاران په ترږو کښـــــتونو اوري

❁ ❁ ❁

خصـلت يې دادی چـــې لئيمـــان وي
نن چې څه ور کاګانده پښيمـان وي
که هرڅو ډېر ور کا خپله ورکړه کم ګڼي
دا شان يې دود دی چې کريمان وي

❁ ❁ ❁

خسيس که مال لري پرې ښاد به نه شي
بنـــده بنـــده دی آزاد بـــه نـــه شي

چـــې همـــت ناك دی هغه آزاد دی
آزاد آزاد دی عبـــاد بـــه نـــه شـــي

(د خوشحال خان له څلوريځو څخه)

---

سپارښتنه: پورته څلوريزې په نثر واړوئ.

# د حضرت عمرؓ ویناوې

۱- هسې رښتیني دوستان وومومئ چې په ښه ورځ مو مجلس پرې ښایسته وي او په بده ورځ مو ملا پرې وتړله شي.

۲- هر څوك چې زموږ عیبونه راښیي پاك خدای دې پرې ورحمیږي.

۳- طمع فقیري او قناعت بډایي ده.

۴- هر څوك چې بدي نه پیژني په بدۍ کې ښبلي.

۵- له هغه چا ځان وژغورئ چې په زړه کې مو بد ځنې راځي.

۶- که پر رښتیا وژل کیږئ هم له رښتیا مه اوړئ.

۷- که ساهو غوندې ژوند غواړئ له چا پور مه اخلئ.

۸- ګناه لږ کوه چې مرګ در باندې آسان شي.

۹- کار هغه کوه چې در پوره وي.

۱۰- د نن کار سبا ته مه پریږده!

۱۱- څومره چې ټوکې او وشتې ډیریږي هومره حیا او وایه کمیږي.

۱۲- ډیرې وعدې او زیات عذرونه د دروغجن خاصه ده.

(له الفاروق څخه)

---

سپارښتنه:

(دنن کار سبا ته مه پریږده) پرې یوه لنډه مقاله ولیکئ او بیا یې ټولګیوالو ته ولولئ.

# حکایت

شیخ متي[1] چې خلیلي و
دی له آره لوی ولي و
یوه ورځ روان په لار و
د څښتن په استغفار و
کړه ذکر د غفار
یوه شپه نه و وزګار
پر دې لار وې تیرې ګټې
لارې مځکې وې په پټې
ډېرې شپې راغی رویدار
چې یې صافه کړ له لار
یو دهقان به آبیاري کړه
شپه په شپه به یې خواري کړه
ده به لید په توره شپه
شیخ متي په زیار اخته
له راحته به بیزار و
ټوله شپه به هم بیدار و
یوه شپه را تېر ملیار سو[2]
شیخ متي ته په ګفتار سو

١- شیخ متي (رح) یو پښتون ستر ستانه تیر شوی دی. دی په ۶۸۶ هـ ق کال مړ او د کندهار په کلات (اوسني زابل) کې ښخ دی. اوس یې هم خلق زیارت ته ورځي او د کلات بابا په نامه یې بولی.
٢- سو- شو- په اوسنۍ املاء کې (شو) غوره ګڼل شوی دی.

اې د خدای روېداره څه کړې
دومره زور زحمت په څه کړې
تــه بــادار يــې د وليـــانو
تــه قـــدوه د صـــالحـــانو
ستا ددرخاورې سره زر دي
د هر چـا کجل البصــر دي
په شپو شپو يې ته بې خوا به
پــه زحمـــت په اضـــطرابه
پــــا کــوې د لارې ګټـــې
ددې خـاورو څــه دي ګـټې
داســـې ووې: شيـــخ متي
د مولا پـــه عشـــق تپـــي
چـــې خدمــت د خلـــق الله
يوه ګـړۍ پـــه يـــوه ســــا
تر هر څـه بهـــتر دي وروره
زده کــړه دا خبـــره ګـــوره

(له افضل الطرايق څخه)[1]

سپارښتنه:

- ددغه نظم مطلب په خپله ژبه وليکئ.

---

۱- افضل الطريق د مياجي پير محمد هوتك تأليف دی.

# پنځه ګوهره[1]

ستا په تن کې دا پنځه څیزه ګوهر دي. ته يې وساته عاقله! هر چې دا ګوهر خوندي کا د نبيﷺ لار يې ونيوله.

اول ګوهر ایمان دی، د ایمان زوال درواغ دي، لکه تول چې وربې کاږي په ناګاه يې ږلۍ ووهي پر بله.

دوهم ګوهر، عقل بيا د عقل زوال قهر، لکه ماهۍ کا تیاره اور پرې پورې کا په خپله.

دریم ګوهر علم، بيا د علم زوال کبر، لکه نادان چې په باغ ګډ شي اومه خربوزه پرې کاندي له ګله.

څلورم ګوهر سخاوت دی، بيا زوال يې پښېماني ده، هر چې پښېماني پر سخاوت کا خزانه يې شياطينو ولوټله.

پنځم ګوهر صبر دی بيا د صبر زوال حرص دی، هر چې حرص پرې غلبه شو غیره لار يې ونيوله.

(د مخزن الاسلام له ملحقاتو څخه)

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې دغه پورته پنځه ګوهره په یاد زده کړي او په خپلو کتابچو کې دې يې وليکي.

---

۱- دا نثر مقفی یا مسجع نثر دی چې په لسمه او یوولسمه پيړۍ کې يې د ليکوالو تر منځ رواج درلود.

# زرغونه[۱]

زرغونه د ملا دین محمد کاکړ لور وه. په پنجوا یي[۲] کې اوسیده. له پلاره یې وکا تحصیل، د علومو د فصاحت احکام یې زده کړل او د فصحاوو اشعار یې ولوستل. زرغونه په حباله د سعدالله خان نورزي وه، چې توریالي زامن یې درلودل او ټول د علم او هنر خاوندان وو.

ما ته هسې نقل وکا زما پلار چې زرغونې د شیخ مصلح الدین سعدي(رح) کتاب د بوستان ټول په پښتو شعر نظم کا، او نوم یې و "بوستان د پښتو" دا کتاب یې په سنه ۹۰۳ هجري قمري پای ته ورساوه او ټول نکات عارفانه او نصایح حکیمانه یې په پښتو کړل.

علاوه پردې زرغونې نور اشعار او غزلې هم وویل او په زمره د فصحایي شهرت وکا، هسې چې موزونانو دروزګار به یې اشعار لوستل او د پښتو په بوستان به یې سیر کا، او ګلونه د پند

---

۱- د ستر ټولواك لوی احمد شا بابا مور هم (زرغونه) نومېدله او دا بله زرغونه ده.

۲- د پنجوایې کلي د کندهار ښارلویدیز پلو ته کابو(**۲۵**) میله لیری پروت دی، دلته پخوا په دغه نامه یو ښارودان و د عربو جغرافیه لیکونکو په دریمه او څلورمه هجري پیړۍ کې ددې ښار نوم ډېر ځله راوړی دی.

او نصیحت به یې ټولول، هسې وایي چې زرغونه کمالداره ښځه وه خط یې خورا ښه و او کاتبانو به یې له حسن خط اقسام د خط زده کول.

زما پلار هسې وویل چې په سنه ۱۱۰۲ هجري ما د زرغونې په خط "بوستان د پښتو" ولید چې خپل اشعار یې په خپل ښه خط هسې کښلي وو چې ملغلرې[۱] یې خط ته عاجزي کا، او دغه حکایت له هغه کتابه زما د پلار رحمت الله علیه په یاد و چې زه یې په خزانه کې کاږم.

اوریدلې مې قصه ده — چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار — بایزید[۲] چې و رویدار
له حمامه راوتلی — په کوڅه کې تیریدلی
ایرې خاورې چا له بامه — را چپه کړلې نا پامه
مخ او سر یې شو ککړ — په ایرو په خاورو خړ
بایزید په شکر کښنو شو — د خپل مخ په پاکیدو شو

---

۱- ملغلرې= مرغلرې.
۲- بایزید بسطامي په دریمه هجري پیړۍ کې یو ستر ستانه تېر شوی دی. دده نوم طیفور او د پلار نوم یې عیسیٰ و، په ۲۶۱ هـ ق کې مړ او په بسطام کې ښخ دی.

چې زه وړیم د بـــل اور | چې په اور کې شم نســـکور
له اړرو به څـه بـد وړمـــه | یـــا به لـــړ شـــکوه کومـــه
هو! پوهانو ځان ایـــرې کړ | له لوینې نه یې ځـان پرې کـــړ
څوك چې ځان ته ګوري تل | خدای ته نشـــي کړی کتـــل
لویي تل په ګفتـــار نه ده | لو خبـــره په کــــــار نــه ده
تواضع به دي سـر لوړ کا | تکبر بـــه دی تـل ځـوړ کا

(له پټې خزانې څخه)

---

پوښتنې:

۱- زرغونه دچا لور وه او له چا څخه یې دعلم زده کړه وکړه؟

۲- زرغونې دچا کتاب په پښتو شعر نظم کړ او دکتاب نوم څه و؟

**د انشاء تمرین:**

- پورته شعر په نثر واړوئ.
- په پورته بیتونو کې د شعر قافیه په نښه کړئ.

# دوې تاريخي څلوريزې

محمد رسول کلات وال هوتك په خپل بياض کې هسې کښلي دي چې په هندوستان د برسات په موسم خليل خان نيازي هسې رباعي انشاء کړه او د سلطان بهلول پاد شاه[1] په مخ کې يې[2] وويله!

خړې وريځې ژاړي لــه پاســه
کويله رږغ کا بېلتــون له لاســه
يه! هغه لوني ګوهر په خول ستـا
دا مرحبا کاستا ، زمونږ مواسـه

سلطان بهلول "رح" چې دا رباعي و نغوږ له (واورېدله) په څواب کې يې دا رباعي سمدستي وويله:

ملك به زرغون کړم په ور کړه راسـه
ګوره وريځــې دداد لــه پاســه
خول مې د عدل پــه درو روڼ دی
جهان به زيب مومي زما لــه لاسه

(له پټې خزانې څخه)

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې پورته رباعي ګانی په ساده ژبه په نثر واړوي.

---

۱- سلطان بهلول لودی په شمالي هندوستان کې يو ستر پښتون پاچا تير شوی دی. له **۸۵۵** هـ څخه تر **۸۹۴** هـ کال پورې پاچا و. هديره يې په ډيلي کې دروشن چراغ د زيارت ترڅنګ ده.

۲- کی يې= کې

# ورمونه

خپل استاد و ماته ووې څو پندونـــه
هر يو پند يې مرغلرې دي لالونـــه
وې بې هره بدي کړه هغه بد مه کـړه
چې له لاسه دې آزار شي د چا زړونه
که دې زړه دی چې بد نه مومې له چانه
اول ته پرېږده د بـــدو خصـــلتونه
د شهوت په نغوته مه ځه شهوت اور دی
په دا اور د ډېرو سوي دي کـورونـه
له هرچا سره د ښو سلوك بايـــده دی
په بدۍ کې څه فايده ده کوم سودونـه
د دنيا په مال د نيکو نوم حاصـل کـړه
تل جهان و چاته نه پرېږدي مالونه
له هر چا ســـره نرمي ملايمت کـړه
ګوندې وي چې په دا خپل کړې د چـــا زړونه
هغه کار چې په نرمۍ تر ســره کېږي
څه حاجت چې رساوه شي تر جنګونه
و هغـــو وتـــه که قهر کړې روا دی
چې لري د بـدو فعـــل بد خو يـــونه
د هغو په مرګ ثواب ګټلـــی بويـه
چې يې سيځي له شامته غاړې غرونه
که دښمن دې ډېر زبون ته ځنې ډار کړه
پـه يوه بځري وســوځي ښــــارونه
د دښـــمن په تملق غلطـــي مه کـړه
د رستم غوندې هم مړه دي په مکرونه
عاقبت به خپل ورغوي په غاښ پرې کا
هرچې کار کا د دښمنو په ورمونه
که په خپله د خپل ځان په بدۍ نـه يې
د مارونو په غار مه منډه لاســـونه

پر خپلوانو باندې هومره خشم مه کړه
چې پردې درځينې ښتي په ملـکونه
د پيپلو پانې خوره نه هغه پاستي
چې يې خورې د نو کريه په شرطونه
که عمل که وکالت که پيـــرو پلور دی
د هوښيار له لاسه ښـه ايســي کــارونه
له بد خويه سره هېڅ بدي ته مه کـــړه
غليمانو لره بس دي خپل خويـونه
په هر کار کې چې د رېښتښ شي ښېړه مـه کړه
په تلوار سره ورانېږي جوړ کارونـه
چې دې قول له چاو کړ نور يې مـه کړه
تل په عهد په قول ټينګ وي ښــه مېړونه
په رښتيا که په دروغ وي سوګند مـه خوره
منافق دی چې ډېر، ډېر خوري ســوګندونه
د حرص سترګې دې مړې په قناعت کړه
چې په کور کې دې انبار شي نعمـتونه
که هر څو دې علم ډېر چې عمل نه کړې
ته حمار يې په تا لښلي[1] کتابـونه
د ښه دين له پاره علم دانش ښــه دی
نه په دا چې پرې لوټې پردي کورونه
په جهان کې که مردان دي هم هغــه دي
چې و سختې و ته ونيســـي ځانـونه
چې بدانو سره ښه کړي قبــاحت دی
د بدانو خو هم تور ښــه وي مخـــونه
چې بد فعله بد غرضه و بله ناست وي
د هغو له ناستې ښته په کروهونـه
که خبره که خندا کړې جګې جګې
هره چار تر حساب مه کوه بېـــرونـه

[1] لښلي = د لښل له مصدر څخه د ليږدولو او وړلو په معنٰی.

که دې زړه دی چې دې عیب ښکاره نشـــي
چا ته مه شماره د خلقو پټ عـیبونه

چې توانیږې د هغـــې خبرې لاف کړه
او کنـــــه په دروغ مه وهه لافـــونه

په دښتو کې چې دجنګو خرخښې وي
ته بیغمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه

خدای هغه په دواړو کونو دي نمـانځلي
چې په ورځ یې عدل و داد دشپې لمنځونه

چې په زړه په تامین د هغو نـاز وړه
تل نیاز منو سره وړي دي نازونـه

(خوشحال خان له کلیاتو څخه

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| ورمونه | نصیحتونه |
| نغوته | اشاره |
| تملق | غوړه مالي |

پوښتنې:

۱- پورته نظم کې شاعر په کومې موضوع باندې خبرې کړې دي؟
۲- پورته نظم په نثر واړوئ او بیا یې د ټولګیوالو په مخکې ولولئ.

# د بې وفايۍ سبب

يو وخت باز له چرګې سره جنګ آغاز کړ. ورته يې ووې! ته بېوفا او بد عهده يې. په اتفاق سره وفا له اخلاق پسنديده ده. ځوانمردي او خردمندي هم دا تقاضا کا چې ګرد د بېوفايۍ بويه په لمن د احوال د هېچا کښې نه ني.[1]

چرګې جواب ور کړ چې: له ما کومه بېوفايي او کومه بد عهدي شوې ده.

باز ووې: ښه د تا د بېوفايۍ داده چې باوجود ددې هومره مهربانۍ چې بني آدم يې په حق د تا کا او خوراك وڅښاك د تاله خوا نه د ديو[2] احسان دی او په طفيل د ديو د دولت توښه او ګوښه لرې هر ګاه چې ميل د تا په نيول و کا له مخې ګريزان او بام ته پران شې او په ګوښه کښېنې.

او زه با وجود چې جانور وحشي يم چې دوی درې ورځې طمعه په لاس راکا، حق يې نه فراموشوم. هر ګاه چې ښکار را څخه وغواړي

---

۱- کې نه نې= نه کښيني

۲- د ديو= دوی.

ښکار ورته وکړم ښکار پرې وخورم او که هر څه لیرې هېواد تر میان وي چې تش آواز کا په یوه پرواز راشم په لاس یې کښېنم.

چرګې ووې: "رښتیا وایې بیا راتلل ستا او تښتېدل زما دواړه سبب دا لري چې تا هر ګز یو باز په سیخ لیدلی نه دی. ما ډېرې چرګې په بتۍ پریوتې تلولې لیدلي. که تا هم دا هسې لیدلي وای لکه ما لیدلي دي شاید چې صحرا دې هم د دیو له غمه پرې ایښې وای".

(د افضل خان خټك له علم خانه دانش څخه)

---

سپارښتنه:

- کله چې ښاغلي ښوونکي پورته متن په مفصله توګه تشریح او لغتونه یې معنا کړل زده کوونکي دې دپورته متن مطلب په خپله ژبه په خپلو کتابچوکې ولیکي.

# حکایت

حکـــایت واوره لـــه مـــانه
یو غل راغی په شـــپه جانه
د دېوال په کینـــدل ســـر شه
دا څښتن یې ور خـــبر شـــه
په بام ورغی چـې څــــه یې
په څه کار بانـدې اختـه یې
غله ویـل: مطرب یـم ګوره
طبـــل ډول وهـــم پـــه زوره
بیا څښتن ویل: څـه راز دی
چې دا طبـــل بـــې آواز دی
غلـه ویـل دا آواز بـه وروره
ته ســـبا واورې پـــه زوره
ســـبا واوره آوازونــــــــه
په ژړا پـــه فـریـــادونـــه
چې غله وړی څو ډېر مال دی
چې مات کړی یې دېوال دی
زمـا د ډول آواز ســـبا دی
چې مخلوق په واویـــلا دی
عا قلان خپل غم ړومبی کا
جاهلان آخـــر هی هـــی کا

(له خزینة الفقراء څخه)[1]

---

**پوښتنې:**

۱- غله څه کول؟

۲- دکور څښتن ورته څه وویل؟

۳- غله ورته څه وویل؟

۴- دا نظم په خپلو الفاظو ووایئ.

**د انشاء تمرین:**

○ پورتــه نظـم په نثر واړوئ. او بیـا یـــې دټولګیـوالو پـــه مخکې ولولئ.

۱ خزینة الفقراء "محمد" پښتانه په ۱۲۶۱ هـ ق کال په بخارا کې لیکلی دی.

# اې هلمنده!

تــل بهېـــږې نـــه وچيـــږې!
اې ژونـــدى بهـــانـــده روده!
غاړې غاړې ځګ په خوله کې
ژوند دې ټوله تګ وپـــوده!
تل ښورېـږې حـرکـت کـــړې
تـه ډېر بد وړې لـه رکـــوده!
راشه ستا سـره خوالـــه کړم
د غمجـــن زړه تشـيده کـــړم

دلتـه ستـــا پر دواړو غـــاړو
څه ښارونــــه چـې ودان وو
لمر سپوږمۍ په زرو کــــاله
دلتـــه برېښـنده تـــابـان وو
ســـتا زامـــن وو نـــوموړي
را د مـــردان پهلـــوانـان وو
يو وار وګوره چـې څـه شـــوه
په تـور تم پـه ور کېـده شـــوه
داور[1] ولاړې ټولـه وران شـــو
بست[2] دې هـم خاورې ايرې شو
د زرنج[3] کـنـډ والـې وينـم
د لوړ تيا مـزى يې پرې شــــو

---

۱ داور= زميندا ور.
۲ بست = کلا .
۳ زرنج = سيستان.

(سروان) هم شـــولـو تہِ لوټېږ
څـه مـاتـم دلــږ هـورې شـو
(البستي) پــه ويـر کــکړ دی
(زرنجــي) په خــاورو خــړ دی
راشـــــــه اې بهــانــده روده!
درتـه لولـم افســـانه ســـتا
ســتا اوبــه آب حيـــات وي
ټـول زامن وو مـــــردانه ســـتا
چې د مرګ طوفان پرې راغــی
کنــډ والــه شــوه کرانه ســـتا
نه څــراغ د تهذيب بــل شته
نـــه رڼا شته نه مشـــعل شـته
د زرنج مدارس وران شــــول
علمــا يې ټول خـــاموش دي
نه د بست دا نشکده شـــته
طلبـــــه يې ســيه پوش دي
مدني ښارونه وران شـــــول
لــه عدمــه هم آغـــوش دي
يو وار وګـــوره هلمـــــنده!
څنګه تــشه ســـتا لمـــن ده

يـــو وار بيـــا حرکـــت وکړه
شـــا وخوا دې ژوند څپــه کــړه
بيا ودان کړه لــوی ښـــارونه
پـــرې ابلـه د ژوند چينــــه کړه

تش ډګر دې زرغون بـاغ کړه
(بســت) دې بيـا دا نشکده کړه
خپل زامن په ژوند خبـــــر کړه
زرغـــون داکنډو کپـر کـــړه

ولې هسې شوې بـې فيـــضه
اې هلمــنـــده! ځـــان ته ګوره

د ژوندون اوبــه خپرې کـــړه
غـــور ځه پر ځه خانده ښـــوره
زرغونه کـــــړه دا دښتـــونه
پريـــږده مه دا مځکـــه تـــوره
ته دژونـد مستـه چينـــــه وې
ولــــې نه ګـورې چــې څه وې

(عبد الحی حبيبي)

---

**دانشاء تمرين:**

- پورته نظم په نثر واړوئ.
- دهلمند په هکله که معلومات لرئ په خپلو کتـابچو کې يې وليکئ او بيـا يې دټولګيوالو په مخکې ولولئ.

# ژونـــد

د یوې چینې اوبه دي، څوك یې د زړو په جام کې څښي، څوك یې د خاورو پـه کنډولي کې، هغه چې نـه دالـري نـه هغـه پـه لپـه کې یې را اخلي. په اوبو کې هېڅ فرق نشتـه فرق په لوښو کـې دی. د شـاه او ګدا فرق په لوښو کېږي، د اوبو پـه خوند هغه څوك ښه پوهـېږي چـې ډېر تږی وي.

هغه لاروی چې له بېدیا نه ستړی ستـومانـه راځي، او تنـده یـې ډېـره زیاته ده دا اوبه خوند ورکوي.

هغه دهقان چې په سره غرمه کې یوې کوي، او خولې پر رامـاتې دي دا اوبه د هغه له پاره ډېر لوی نعمت دی.

یـو شـپـون چـې لـه غـره نـه تـږی را کوزېږي، او پـه چینـه بـانـدې خولـه ږدي د اوبو پـه خوند ښه پوهېږي.

یو بل سړی چې یخ سوړې ته په آرامه چوکۍ ناست دی، ښایسته صراحي یې له څنګه ایښې ده او په ښو ګیلاسونو کې اوبه څکي له اوبو نه هغه خوند نشي اخیستلای. هو! ده دلارو یو او شپنو تنده نه ده لیدلې، په سره او تکنده غرمه کې یې لونه دی کړی، ځکه هغه تلوسه په دې کې نشي پیدا کېدلی.

چا چې لوږه او تنده نه ده لیدلې هغه د خوړو او اوبو پوره خوند هم نه دی لیدلی او د ژوند په کیف نه دی پوه شوی.

( له غوره نثرونو څخه )

---

پوښتنې:

بزګر په سره غرمه کې څه کوي؟

یوشپون دخپلو میږو او پسونو په مقابل کې څه مسئولیت لري؟

## د انشاء تمرین:

- د پورته متن مطلب په لنډه توګه په خپلو کتابچو کې ولیکئ؟

# حقایق

چا چې خپل قــدر په خپله وكــړ ګلـه!
ستاره د هغه قوم په عـروج شـــــو لـه

خدای هم نه بدلوي حال د هغه قـــوم
ځوك چې نه بدلوي خپل حالت په خپله

تا ته ښايي په خپل لاس موقع پيـدا كړې
انتظار د موقع چـېرې دانا نــه كــړې

ته ناز كړې چې بدل كړی زمـانــې يم
مرد هغه دی چې بدله زمـــانــه كــړې

مستقبل و حال حاصل ستا د تـدبير دی
ته جهد و كړه ستا په لاس كې ستا تعبير دی

تا په خپله په ځان هســې چـــارې وكړې
بر نا حق دې بد نام كړی خپل تقدير دی

چې په كور كې د ښيښو اوسې په خپله
ولې كور دګــاونــدي پــه ګــټو ځله

فرمـــايلی مو مشـــرانو د امتــل دی
چې "په مالګه مه شلوه د ګونګړ وتله"

د حاسد خونه له غمه خالـــي نـــه شوه
د طامع چېرې نصيب خوشالي نه شوه
چې په کم نظر د خدای مخلوق ته ګوري
مرتبه د هغو خلقو عالـــي نـــه شـــوه
ګوره ونه په هغه هم ســـيوری کاندي
چې له بېخه يې وهي پــه تبــر باندې
ته سړی يې له دښمن ســـــره بـد مه کړه
په احسان سره يې کړه تر قابو لاندې
چې سړی وي هغه هېڅ وخت وزګار نـه وي
د هغه ژوندون په چا باندې بار نه وي
هر يو کار که ته همت وکړې آســـــان دی
کار له دې کاره ګران نشتـــــه چې کار نه وي

(له ګل کوهي څخه) (۱)

---

سپارښتنه:

- دپورته نظم دتشريح او دلغتونو له معنا څخه وروسته دې زده کوونکي دټولګيوالو په مخکې په لنډ ډول خبرې وکړي چې په نظم کې څه ويل شوي او غوښتل شوي دي.

(۱)- "ګل کوهي" د ابو سعيد فضل احمد خان افغان د پښتو اشعارو مجموعه ده.

# د لوی احمد شاه بابا احسان

چې روان شو شهریار
و ایران ته په دا لار[۱]

په جنبش شو تمام فوج
ترې غبار شو په دا اوج

شو بلوچ په دا خبر
د پادشاه راغی لشکر

شول و جنګ ته استوار
اوس فلك د چا شي یار

په هیبت سلطاني
په حشمت خاقاني

د نصیر[۲] طالع بلند شو
و هر چاوته څرګند شو

په خلعت شو سر فراز
په بلوڅو کې ممتاز

د بلوڅو شو سردار
په پایه شو استوار

د پادشاه شو په رکاب
د خلاف یې نه و، تاب

د محبت[۳] پر ځای امیر شو
په خدمت د شاه نصیر شو

بیا هرات ته شو روان
په طرف د خراسان

په فراه شو په هرات
شو له عدل یې انبساط

د تعدیل یې ښه کمال
ملك ترې بیا مونده جمال

چې نظر یې پر نظام شه
په دنیا ځکه نیك نام شه

---

[۱]- ستر تهولواك لوی احمد شاه بابا له لاهور څخه دبولان دري پر لار ایران ته خپلې لښکرې وخوځولې او په لاره کې بلو څو ورته مخه نیولې وه.

[۲]- نصیر خان بلوځ د ستر تهولواك احمد شا بابا له خوا د بلوچستان واكمن وټاكل شو.

۳- محبت خان تر نصیر خان پخوا د بلوڅانو سردار و.

تمام ملك شــه تري ګلزار — په عـــالم بيا شــو بهــار
و مشـــهد تــه شــو روان — مــخ تی[1] راغــی عالم خان
پــه اقبـــال شــاهـــانـــه — له دنيــا شــو بيګـــا نه
د (شاهرخ)[2] پيــدا شه غم — چې دا فوج شــو ورتـــه سم
د پادشـــاه و فـــوج تيـــار — زر مشـهد يې کړ حصـــار
نه د تيــر تفنـګ ګـو زار — چـــې ادب و د مـــــزار
و شاهرخ پــه ښـــار درون — غمـــزده پـــه رنـګ زبـــون
تمام ښـــار شـــو په فريـــاد — او س پـــادشـــاه که وکاداد
مجـاور غـــريـــب يتيـــم — تمام شـــوه پـــه زړه دوه نيم
په ډېر غـــم شـــو ګرفتـــار — برهنه شـو پــه تـــن خـــوار
پـــه ژړا پـــه اســـتغـفـــار — پـــه طـــــواف و د مـــزار
د دوی و شـــــــودا تدبيـــر — چـــې خـبـر و، پـــه تقديـــر
وې ايلچي دي شـــي روان — چې شـــيرين وي پـــه زبـــان
ښـــه کـلام دې کا بيـــان — مرواريــد دې کـــا عيـــان
"که څـــه حـکم شهريار کا — په دا ســـر زمونـــږ قرار کا
چې فر مـــايې شـــهريار — په خـــدمت دشـــاه تيـــار"
شوه آرزو د دوی تــمـــام — و پادشـــاه تـــه نـــام په نام

---

۱- تی= ته يې.
۲- شاهرخ ميرزا د رضا قلي ميرزا زوی او د نادر افشار لمسی و.

شوه معلومه په تفصیل — یقیني بې قال و قیل
چې دا حال يې هويدا شو — د پادشاه پرې مهر پيدا شو
د پادشاه غريب نواز — په کرم شو سر فراز
پرې يې شوه کلابندي — په احسان يې کړل بندي
و بنانده شاه رخ ته يخت — د مشهد هغه نيك بخت [1]
په شاهي کې يې بندي کړ — په احسان يې شرمنده کړ
مسخر چې په احسان شو — له مشهده شاه روان شو
نشاپور ته شو روان — شاهي بخش شاه شاهان

(له احمد شاهي شهنامې څخه لنډون)[2]

---

**د انشاء تمرين:**

- پوره نظم په نثر واړوئ.
- زده کوونکي دې دپورته نظم نثري ليکنه دټولګيوالو په مخکې ولولي.

۱- دا مطلب د شاهرخ افشار د مهر په سجع کې، داسې افاده شوی دی.
یافت از الطاف احمد پاد شاه — شاهرخ بر تخت شاهي تکیه گاه

۲- احمد شاهي شهنامه حافظ گل محمد مرغزي د لوی احمد شاه بابا په پاچاهۍ کې (۱۱۶۰-۱۱۸۶هـ ق) ليکل شوې ده.

# د حضرت علي رضي الله عنه ویناوې

۱- د هوښیار ژبه په زړه پسې ده او د بې عقل زړه په ژبه پسې .

۲- پر لوڅه شا له غره ډېرې راوړه، خو چاته د سوال لاس مه اوږدوه.

۳- ډېر بې ښې هغه دی چې ځانته وروڼه نشي موندلی او تر دې زیات بې ښې هغه دی چې موندلي وروڼه ځنې پردي شي.

۴- ډیر ښه زهد دزهد پټ ساتل دي.

۵- د لږ شي په ورکړه مه شرمېږه، ځکه چې نا امیده کول تر هغه لږ دي.

۶- هغه ګناه چې ته په زړه کې پرې نو لېږې ترهغې نیکۍ د خدای جل جلاله په مخ کې ډېره ښه ده چې په تاکې لویي اوغرور پیدا کوي.

۷- له ورې سخي او ماړه موذي څخه وویرېږئ.

۸- عقل غوندې بډایي، جهل غوندې فقر، ادب غوندې میراث، او سلا غوندې ښه مرستیال نشته.

۹- صبر دوه ډوله دی: یو پر هغه چې بد ځنې ورځي او بل پر هغه چې ورته هوسېږي.

۱۰- څوك چې په خلكو پسې بد وايي خلك په هغه پسې هغه څه وايي چې دی په خپله پرې خبر نه وي.

۱۱- چې د نعمتو در ته مخه شي په ناشكرۍ یې له نیمې لارې مه ستنوئ.

۱۲- ناروغي چې څومره در سره تلی شي هومره ځه.[1]

(له علي "بن ابي طالب" له كتاب څخه ژباړه)

## سپارښتنې:

۱- پورته ویناوې په یاد زده كړئ.

۲- دحضرت علی ﷺ په هره وینا باندې په خپل منځ كې خبرې وكړئ چې څه یې ویلي او غوښتي دي.

۳- پورته ویناوې په خپله ژبه بیان كړئ. او بیا یې دخپلو ټولګیوالو په مخكې ولولئ.

[1] یعني تر څو چې دی ناروغی پرې نه باسي له كاره لاس مه اخله.

# د نېشې او عادت ترمنځ څه توپير دی؟

عادت هغه حالت ته وايي چې د انسان په وجود پورې تړلی دی او د هغه پرېښودل پر وجود ناوړه اغېزه نه کوي.

نېشه هغه حالت ته وايي چې سړی له ځان او چاپېريال څخه بې خبره شي او د خپلې نېشې د لاس ته راوړلو له پاره پرته له نېشې د بل هېڅ شي په فکر کې نه وي. دغه ډول خلک د کورنۍ او ټولنې په اوږو باروي او د نشې د پرېښودلو په صورت کې ورته جسمي او روحي ستونزې پيدا کېږي.

خلک ولې نېشه کوي؟

دا چې خلک ولې نېشه کوي ډېره مهمه پوښتنه ده. د هغې عوامل او سببونه په لاندې ډول دي:

هغه پيسې چې پرته له کوم زحمته تر لاسه کېږي کېدی شي چې دغه ډول پيسې د بدو عملونو له پاره په کار واچول شي.

نوي زلميان ډېر زيات د ملګرو او خپلوانو په وسيله چې ورسره ناسته ولاړه لري په مخدره موادو اخته کيږي. په لومړي سرکې يوازې په دې نامه چې (مزه يې وڅکه) پرې پيل کوي او وروسته پرې روږدي کېږي.

هغه خلک چې د نېشه يي موادو د پېرلو او پلورلو چارې تر سره کوي د خپل کار د ښه والي له پاره يې په پيل کې ډېر و زلميو ته

وړيا ورکوي. او په دغه بد عمل يې اخته کوي. چې بيا يې وروسته ور باندې پلوري.

تنکيو ځوانانو ته د مور او پلار نه پاملرنه داسې کورنۍ ستونزې منځ ته راوړي چې نه يوازې د دوی روحيه مړژواندې کوي، بلکې دغه ډله ځوانان دې ته مجبور وي چې د نېشې لمن ونيسي او خپل ژوند د نېشو په لوګيو کې تور او ککړ کړي او په پای کې اخلاقي انحرافاتو ته راکښل کېږي.

په نېشو اخته کسانو ته هېڅوک د کارکولو زمينه نه شي برابرولی. او که چېرته څوك پرې تېر وځي ډېر ژر يې له دندې څخه لرې کوي، ځکه چې نېشه يې سړی خپله وظيفه لکه څنګه چې ښايي په ښه توګه سرته نه شي رسولی.

د تل له پاره نشه يي سړی يو ډول ستړی او ستومانه ليدل کېږي او له کار څخه د تېښتې په لټه کې وي، کورنی ژوند يې له يوې مخې برباد شوی وي. د خپلې کورنۍ حقوق په ښه ډول نشي برابرولی کوم شی چې لاس ته راوړي هغه ورڅخه په خپله نېشه لګېږي. که چېرته ور ته د کا راو مزدورۍ له لارې څه شی پيدا نشي، نو بيا د خپلې نېشې د دودولو له پاره په غير قانوني کار، لکه غلا وژلو او نورو لاس پورې کوي.

---

## سپارښتنه:

- زده کوونکي دې دنېشې په زيانونو باندې په خپل منځ کې خبرې وکړي.

**د انشاء تمرين:**

- د دغو زيانمنو موادو په هکله يوه مقاله وليکئ.

# روغتیا

لوی نعمت دی په دنیاکې د روغتیا
شي خبرې شاو خوا کې د روغتیـــا

چې روزي دې سالم فکر شي په ژوند کې
غم خوري کړه نن سبا کې د روغتیا

په بازار چې د صحت ور برابر شـــې
ځنډونه کړې په سودا کې د روغتـــیا

کور صفا کړه که دې روغ صورت په کـاروي
حـکمت پروت دی دې صفا کې د روغتیا

هم کوڅه دې کړه له دوړو څخه پاکه
چــې ښکاره شي ننبې تا کې د روغـتیـا

په پنځه وخته لمانځه کې له پاك ربه
غـواړه روغ صـورت دوعـا کـې د روغتیا

چې ناروغ شوې نو ډاکټر ته دستي ورشه
پـدل شته دی په دوا کې د روغتیا

ښوونځی پاك او جامه پاكه، كور يې پاك وي
چــې پیدا شي خـوی په چـا کې دروغتیـــا

(حافظ)

---

سپارښتنې:

- پورته شعر په نثر واړوئ.
- دروغتیا په هکله څو کرښې مقاله ولیکئ.

# ښــه ګټـه

قصابي پرېږدئ له مېږو او پسونو نه بل شان ګټه واخلئ! د وريو له پوستکو نه پوستينونه مه جوړوئ، له وړيو نه يې ښه توکي جوړ کړئ.

که تاسې وړين کالي واغوندئ پوستين ته څه حاجت نشته، هغه وخت چې انسان نه پوهېده د مېږو او وزو پوستکي يې اغوستل کله چې انسانيت ترقي وکړه او شپون د رمې خاوند شو پشمينه پوشي رواج شوه او د زاهد خرقه له وړيو نه جوړه شوه، د مېږو او پسونو له غوښونه د غرو لېوان او پړانګان استفاده کوي او شپانه ترېنه يوازې پې او وړۍ اخلي.

د وحشي او مدني انسان فرق همدغه دی چې هغه د ونې ښاخ راماتوي او ميوه يې خوري، دی ترېنه يوازې ميوه ټولوي او ونې ته زيان نه رسوي. دا ګټه ښه ګټه ده د انسان ګټه بايد همدغه راز وي د ګټې ښه او سمه لاره پېژندل د انسان کار دی. ګټه په کار او زيار پاکېږي او بېکاره ګټه ښه نه ده، د ګټې لاره چې هر څومره اوږده وي هغومره ښه وي.

هغه کسان چې د نورو په تيارو درمندونو داړې غورځوي او د ګټې له پاره يې لنډه لار غوره کړېده لاسونه او پښې يې د تړلو دي. تاسې کوښښ وکړئ چې ګټه له لرې ځايه راوړئ او د کار برخه په کې زياته وي.

هغه چې د کلي په دوکان کې سودا کوي او هغه چې له لیرې ښاره سودا راوړي په متاع او بها کې یې ډېر فرق موجود وي، تاسې په خپلو بانډو او بازانو د همسایه ګانو چرګوړي مه نیسئ.

د هوا مرغان او د غرونو زرکې اوسیسې ونیسئ. له نژدې ډنډونو څخه نا پاکې اوبه مه راوړئ. لرې لرې لاړ شئ له هغه سیند یاله هغې چینې نه رڼې او پاکې اوبه راوړئ چې رنګ او خوند یې ډېر ښه وي. دا ښه ګټه نه ده چې یوه روپۍ په دوو روپیو ورکړئ او خوشې په خوشې د ګټې خاوندان شئ.

ګټه باید په غیر مستقیم ډول وي او کار په کې ډېر دخل ولري. په مستقیم ډول هېڅوك سره او پارو دغلې په کندوانو کې نه اچوي مګر هغه غله چې له همدغه ناپاك جنس څخه د کار په وسیله پیدا کېږي پاکه او حلاله ده.

لنډه دا چې بې کاره ګټه که په غلاوي که په سوال وي، که په زور وي انسان ته نه ښايي او هغه ګټه چې په کار او زیار پیدا کېږي ډېره ښه ګټه ده.

نو راشئ! چې کار وکړو او هر څه په کار پیدا کړو. ښه کار او ښه عمل د خدایﷻ په دربار کې ډېر قدر لري او په مثقالونو خر څېږي.
(غوره نثرونه)

---

سپارښتنې:

- له پورته لوست څخه مو څه نتیجه تر لاسه کړه؟ زده کوونکي دې پرې خبرې وکړي.
- دکار دارزښت په باب یوه مقاله ولیکئ او بیا یې ټولګیوالو ته ولولئ.

# پښتو متلونه

د ګور شپه نه پر کور کېږي.

مار خوړلی له پړي ویرېږي.

چې په تمه د سپرو شي، هغه پاتې په مېروشي.

چې بد ګرځي، بد به پرځي.

بنده په خپل وس پړ دی.

څوك چې خوب کوي، مېښه يې نر کټی زېږوي.

اوبه په ډانګ نه بېلېږي.

اوبو اخیستی څګ ته لاس اچوي.

دغنمو له رویه ځوز هم اوبېږي.

مېړونه مري، نومونه یې پاتېږي.

یوه ورځ د بلې مور ده.

په درنو دروند ، په سپکو سپك.

په یارانه کې بنګړي ماتېږي.

د کبر کاسه نسکوره ده.

کبږدی، په خپلو مراندو ولاړه ده.

مه کوه په چا چې وبه شي په تا.

خپل عیب د ولیو منځ دی.

تشه لاسه ته مې دښمن یې.

دوست به دې وژړوي دښمن به دې وخندوي.

کوږ بار تر منزله نه رسېږي.

وسله هغه ده چې په لاس در غله.

وینې په وینو نه مینځلی کېږي.

له یوه لاسه ټك نه خېژي.

په یوه څپېړه سل مخه خوږېږي.

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې دپورته متلونو دکارولوپه هکله خبرې وکړي چې هر متل دیوې ټاکلې موضوع له پاره کارول کیږي.
- دهر متل موخه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او بیایې ټولګیوالو ته ولولئ.

- ښوونکی ته بویه چې ددغو متلو دکارولو ځایونه په عامه محاوره کې زده کوونکو ته وروښیي.

# د وطن مینه

موټی خاورې د وطن به پرې ور نه کړم
که په سر د مځکې هر وطن ختن شي
خپله خاوره به په خپلو وینو پالم
که حاجت یې قرباني زما دتن شي
د اوبو په ځای د زړه وینې به ورکړم
که محتاجه طراوت ته دا چمن شي
که غلیم له ما بری یو وړ محبوبې!
ستا پړونی دې زما د تن کفن شي

(همېش خلیل)

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! دوطن دوستۍ حس او په خپل فکر کې دوطن دخدمت له پاره دسالم فکر په هکله یوه مقاله ولیکئ.
- پورته شعر په نثر واړوئ.

پوښتنې:

- ○ موږ ولې له خپل وطن سره مینه لرو؟
- ○ د هېواد حق په څه شي اداء کیدی شي؟

# کمـــال

که طالع او هنر دواړه سره کښېږدې

زه خوشحال بـه پکـې ونیســـم هنر

مې په علم په فضیلت بویه فضیلت او دولت سره توامان دي. د علم د فضیلت د څښتنو محتاج پادشاهان وي. هر څیز نقصان او کمال لـري. د سـړي کمـال پـه علـم او فـضیلت کـې دی. کـه یـې حاصـل کـا کمـال یـې حاصـل شـه[1] او کنـه پـه نقـصان کـې پـاتو [2] شـه، مـثلاً اوسپنه پیدا ده چې توره شي که د استاذ تر لاسه ورغله توره ورځنې سازه شوه، تېره شوه، موتی میان یې مرتب شول، تر مـلا شـوه، غـزا پـرې وشـوه. کمـال یـې حاصـل شـه او کـه دا هـېڅ نـه وي هـم هغـسې پونده په نقصان کې پاتو شوه نابوده شمارلې بویـه، پـه داشـان د هر شي نقصان او کمال شته لکه شاهین چې له جالې[3] راوړشي که ښـه

---

[1]- شه= شو.

[2]- پاتو= پاته = پاتې.

[3]- جاله= ځاله.

میر ښکار وي تربیت یې ښه وشي آموخته یې کا باوله یې ور کاپایه په پایه یې په ښکار ګیرا کا زانې چې دده د کمال پایه ده ونسي[1] کمال یې حاصل شه او کنه هم هسې په نقصان کې پاتو شه، دونې نهال وي د مېوو یا دګلونو دپاره یې په باغ کې کښېږدي میوه یې وشوه یا ګل پرې پورې شو د باغ د څښتن په کار شول کمال یې حاصل شه او کنه په نقصان کې پاتو شه. هم په دا رنګ د هرڅیز قیاس په زړه راوړه چې هر څیز دا حال لري ترکاڼي تر بوټي پورې.

(دستار نامه)

---

## سپارښتنه:

- زده کوونکي دې د پورته نثر په باره کې یوه مقاله ولیکي.

"دستار نامه" د خوشحال خان خټک اثر دی.

---

[1] ونسي = ونیسي.
باوله: هغه غوښه چې باز پرې آموخته کیږي.

# احسان

د اخبارو راویان وایي چې کوم وخت سکندر د پښتونخوا هېوادونه ونیول او دیونان بیرغ یې د آریانا په غرونو کې لوړ کړ، نو دلته یې د امنیت د ټینګولو او په ساړه زړه سره د حکم چلولو له پاره ډېره موده کوښښونه وکړل، مګر هېڅکله د بغاوتونو او انقلابونو څخه فارغ نه شو او نه په راټول زړه سره پر تخت کښېناست.

په آخر ه کې چې نور ټول دستورونه بېکاره ثابت شول نو خپل مشهور مدبر او حکیم استاد ارسطاطالیس ته یې چې د سکندر د ټولو فتوحاتو راز دده په حکیمانه مشوره او تدبیرونو کې پټ و، یو مبسوط خط ولیکه چې د هغه یوه ټوټه داده:

"ډېره موده وشوه چې په دې ممالکو کې ما د امنیت د ټینګښت او د قانون درایجولو له پاره هر قسم زیار وایست، لیکن دې خلقو چې زما په مقابل کې کومه وسله راپورته کړېده هغه یې کېښنښوده. دلته همېشه جنګ او جګړې اوسي دهرې خوانه بغاوتونه او انقلابونه پورته کېږي.

دا خلك حکم ته هیڅ غاړه نه ږدي. زما خپله رایه په دې قایمه شوې ده چې په دې عالم کې یو عام قتل وکړم او د تورې په زور یې غلي او آرام کړم."

ارسطاطاليس چې د پورته خط په ځواب کې خپله کومه نظريه ليکلې ده د هغې پايله لاندې ليکل کيږي:

څه رنګه چې زه ددغه ملك په طبيعي وضعيت او فطري آب و هوا باندې فکر کوم نو دا معلوميږي چې ددغه ملك طبيعي تقاضا داده چې ددې خاورې نه پيدا شوي دې جنګيالي، زړه ور، غيور او آزاد يخواوي.

ته دمملکت طبيعي آب وهوا نشې بدلولی، که عامه وژنه په کې وکړې دا خاوره به بيا همدغه ډول وګړي پيدا کړي او هغوی به ستا ددغو کړنو په اثر تا سره لازيات دښمنان شي، نو بهتره طريقه داده چې د احسان په زور يې قانع کړې، ځکه چې د احسان په زور په زړونو حکومت کاوه شي او دا قوت په توره کې نشته.

(له "نوی ژوندون" څخه)

---

❖ ګرانو زده کوونکو! له پورته متن څخه مو څه نتيجه واخيسته؟

❖ احسان څه ته وايي؟ داحسان کولو په هکله يوه لنډه مقاله وليکئ.

# لوړ هندو کش ته!

لویه لوړه هندو کشـــه! د زمري او باز وطنـــه!
د هېرمند او آمو پلاره د طوفان او سېل مینـه
د ایشیا د غرونو تـاجه د پښتون د کام عدنـه
اې خوادې خوا ستا په څو کو وریځې لړې را تاوېـــږي
که د پښت[1] د کام غیرت دی چې په تا باندې غوړېږي

د هېرمند په غورځنګو کې د آمــو په طوفـــانو کې
د کو کچې په نـاروچـیغـو د اټك په ســـېلاوو کــې
د مرغاب د سیند په موج د هـــرې پـــه تـرانـــو کې
ستا دلوړو کاږو پر ښویا داســـتان یا ترانې دي
یا د "پکت" د کام د تړو په ویاړنه افسانې دي

ستا په لور مې چې نظر شي له غېرته لېـــونـــی شـــم
ســــتا دتـــړولــــه جنونـــه په غرو ګرځم غر څنی شـــم

---

[1]- پښت= پکت، پخت، پښتون.

د غیرت لمبې راتـــاوشـــي          ستا په ښنو کې ســپیلنی شم

په تاو یاړ و تا به ساتو د ښتون د کام سنـګره

د تاریخ د باغ ښایسته، د هېواد نـومیالی غره

ستـــا له شـــاوخوا روان دي          نهضتـــــونه پـــه څپـــو کې

غواړي نوی افغان جوړ کړي          ستـــــا په ښنو او قدمو کې

ستا د مست باد له جنـــونه          وینې ایشـــي پـــه رګو کې

دا چې وزي زما له خولې نه، نه پوهېږم ترانې دي

که زما په سوی زړه کې ستا له عشقه زلزلې دي

خانـــده فخـــرکوه ویـــاړه          را روان کـــړه ســـېلابـــونه

په غرا کړه دې ځـلمـــو ته          نـــوي نـــوي ربـــابـــونـــه

چې کړم ډك دا ستا له عشقه          د ژونـــد نـــوي کتـــابونـــه

ویاړه ویاړه چې راغلی په افغان نوی شباب دی

په هر فکر و هر نظر کې د ژوندون یو نوی بـاب دی

(لایق)

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! پورته نظم په نثر واړوئ.

# ستا سزا

د یوه دهقان باغ و. په قسمونو ګلونه او مېوې په کې وې. یوه ورځ دهقان د ګلونو ننداري ته ولاړ و. ګوري چې بلبل په ګل کښېناست او په مښوکه یې ګذارونه شروع کړل. آخر دا چې ګل یې پاڼې پاڼې کا. سبا له[1] بیا او بله ورځ بیا هم دغه قصه وه.

باغوان په دې خبره ډېر خپه او بلبل ته یې قهر پیدا شه او ده ته یې دام کښېښود، ګرفتار یې کړ او په پنجره کې یې واچاوه. بلبل خوار باغوان ته فریاد شروع کا چې "بې انصافه! په څه خطا دې بند کړم ما څه ګناه کړې وه.

که زما خوږې نارې دې یادېږي، نو زما ځاله خو ستا په باغ کې ده او هر سهار زما نارې اورې او که څه بل غرض دې وي، نو له هغه نه مې خبر کړه."

باغوان ورته ووې: اې بلبله! ته لاله خپلې ګناه خبر نه یې زما معشوق ګل دې پاڼې پاڼې کا او زه دې د خپلې معشوقې په جدایۍ، غمجن او زهیر کړم. دا د هغه جرم سزا ده چې دواړه به خپه پراته یو. زه به په ګل پسې ژاړم او ته به له خپل یار آشنا، خپلو خپلوانو او له کوره جدا پروت یې. بلبل ووې: "اې باغوانه ما خو ګل پاڼې پاڼې کړی و. دامې سزا شوه او تا چې زما زړه ټوټې ټوټې کړ، نو ستا به څه سزا وي؟"

له (پښتو انوار سهیلي څخه)

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې دټولګیوالو په مخکې دغه کیسه بیان کړي.

---

[1] - له = ته

# ملي يووالی

د ملي وحدت په چاره فکر بويـــــه
پــه دې پـاکه ښکلې لاره فکــر بــويــه

خدای مو يو، رسول مويو، وطن مو يو دی
په دې کار کــې ايمـانداره فـکر بـــويه

دغه لوی افغانستان د افغان کـور دی
په دې برخه کې هــوښياره فکـر بـــويـه

په بازار د اتفاق چې کله پيښ شــې
په ســوداکـې خريـداره فـکــر بـويــه

وطن وايي په يـــوه لاره روان شـــه
دی لــه ستا نــه طلبـګاره فـکـر بويه

دوطن مور راته پند را کوي داسـې
ځـومـره ښـکلی مــزه داره فـکـر بويه

چې د سيمې او د ژبې توپير ورك کړه
لــه غـفلتـــه شـــه بېـــداره فکـر بويه

چې په يو وطن کې اوسو نـو يو وروڼه
د وطــن د بـــڼ مـاليـــاره فـکـر بـويــه

په ملي يووالي وران وطـن ودان شي
د وطــن دبـــڼ مـاليـــاره فـکـر بـــويـــه

چې حافظ پرې خوشحالېږي دی يووالی
وطـنـــوالــه بـر خـــور داره فـکر بويه

(حافظ)

---

## سپارښتنه:

- له پورته شعر څخه مو څه نتيجه واخيستـه؟
- دغه شعر په نثر واړوئ.
- ګرانو زده کوونکو! دملي وحدت په هکله يوه مقاله وليکئ.

# وچ تقليد

په هر قام کې هغه کسان چې پردۍ رشې او اخلاق له يوه مخه خپلوي او دړندو په څير يې وچ تقليد کا، د قام په کور کې د هغو کولکو او کړکيو کار ورکوي چې ترهغه غليمان دغه کورته لار مومي.

د دوی په فکرونو کې وسوسې ځای ونيسي او ذهنونه يې د فريب ټاټوبی شي. زړونه يې د هغه قام په درناوي سپيڅلي وي چې دوی يې وچ تقليد کاندي او هر څوك چې د هغه قام پر لاره نه درومي دوی ته سپك ايسي، ځکه نو دوی د خپل قام زامنو لره د بد مرغۍ سبب شي، په کښته سترګه ورته ګوري، سپکاوی يې کوي، د قامي ميړونو چارو ته هر څومره چې لويې او ګټورې هم وي په ښه سترګه کاته نه کا، د تذليل او حقارت وړ يې بولي.

په قام کې چې داسې ميړونه وپاځي چې په ټينګه اراده دسترو سترو مقصدونو لور ته هڅه کوي، دوی په ګډه ورغورځي او تر

وسه زيار باسي چې لتاړ او څورنګ يې کاندي. تر دې چې په قام کې د توريالیتوب او بهادرۍ روح ووژني او د ننګ او غيرت پر اور يې اوبه تويې کړي.

دغسې کسان پياوړو لښکرو لره د سرلاري او پنځم ستون کار کوي. د پرديو تاړاکونو له پاره په ملك کې لارې جوړوي، پردي قوتونه چې يې ملك او قام ته راننه ايستل بيا يې نو ر پښې ټينګوي او ملا يې تړي چې لا يې ښه پرقام مسلط شي، دا ځکه چې د دوی په خيال دغه يو پياوړی قوت پردنيا شته چې هيڅوك يې نشي ماتولی او يوازې دوی د علم او هنر څښتنان دي او بس.

(علامه سيد جمال الدين افغان)

---

سپارښتنه:

- دعلامه سيد جمال الدين افغان دخدمتونو په هکله خپل معلومات ديوې لنډې مقالې په بڼه وليکئ.

# پسرلی او د ژوندانه راز

یوه ورځ د سیند په غاړه شین سحر و
کایناتو کې ښـکاره د ژونـد اثـر و
پاس له غره نه په مستۍ او بـه راتللې
پـه یـوه ګتـه او بلـه لګـېدلـې
د سیند هرې خواته شین د ونو بـڼ و
د مرغانو په کـې شـوراو ښـه اتـڼ و
ځمکې اېښي وو په سر کې ښه ګلونه
هم په مخ باندې دشـنو بوټو خالـونه
غر ټول پټ و په نښترو سر تـر پــایه
د شپـنو نارې راتلې لـه هـره ځـایه
د اوبو زوږ مې په سیند کې اورېـدلو
زرکو غره کې د بهار صفـت کـولو
د ځوانۍ دوره راغلې پـه جهـان وه
په ګلانو ځولۍ ډکـه د بـاغـوان وه
تك شنه بوټي مې ولاړ وو شا او خوا کـې
چې لوی شوي وو په دې تازه هوا کـې
چې کاته مې ددې بوټو ښې ځوانـۍ تـه
د بهار ښه طراوت او تـازګـۍ تــه
یو ناڅاپه را په یاد وخت دخـزان شـو
په نظر کې مې تیاره دغه جهان شـو

ما ویل چې دا شنه بوټي تول وچیـــږي
پس له څو ورځو دا حا ل نه پاته کېږي
هسې دا ګــلان بهــار دلــتــه کرلــي
د سېلاب مخ کــې یې بوټــي درولي
دا هر بوټی چې نن دلته ستـا یل کېږي
د خزان په لــور لــه بیخــه ربېــل کېږي
چې خزان شته غوټۍ هسې باغ کې خـــاندي
بورا خوشې د ګل بوټي ته ور دانګـــي
ما سره دغه تشویش دغه ســـودا وه
پټه خوله مې لـه بهـار سره وینـــا وه
ښه ورږمه د پسرلي نـا څـاپه راغــله
په راتلو یې هر یو بوټی شو خوشحـاله
زما غوږ ته رانژدې شــوه پــه تلــوار
راته وې ویل د ژونـد ځینـې اســرار
بېهوده یې راښکاره زما ســودا کړه
د حیات معنا یې ښــه راته رڼــا کړه
زه یې پوه کړم چې دا بوټي فنا کېـږي
خو فنا ځنــې هېڅـکله نــه و یرېـږي
ته هم وېره د خــزان له زړه بهر کـــړه
په بهار کې دې ښکاره اصــلی جوهــر کــړه

وده وکړه د بهــــار تاثیـــر قبـول کړه
د ژوندون په کارو باندې ځـان مشغول کړه
که یوه ګړۍ ژونـدون لـرې دنیـــا کې
خاورو لاندې یې تېر نه کړې پـه بېدیـــا کې
په ګلانو خپـــله سـیمه کړه ګــلزاره
چې ونه اوســــېږې ګوره خـوارو زاره
دا چې بېرته لږ څه پاتې دي شـرقيـان
سبب دا دی چې دوی ټول دي شــاعران
په بهار کې د خــزان تصـــور کــاندي
ژوندی ځان خپل ګڼي تورو خاورو لاندې

(ګل پاچا الفت)

---

پوښتنې:

۱. په پورته شعر کې څه ویل شوي دي؟
۲. له پورته شعر څخه مو څه نتیجه واخیسته څوك پرې غږېدای شي؟
۳. الفت څوک و؟ په ژوند یې خبرې وکړئ!

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! پسرلی چې دکار او زیار موسم دی. په دې کې د زده کوونکـو دنـده څـه ده؟ یـوه لنډه مقالـه پـرې ولیکـئ بیـا خپلـه مقالـه دټولګیوالـو پـه مخکـې ولولئ.

# روغتیا

د جهان له ټولو نعمتونو نه ډیر ښه اوپه زړه پوري نعمت روغ وجود او صحت دی. که څوك غواړي چې نیکمرغه او سوکاله ژوند وکړي او د لوی خدای ﷻ د عبادت په ګډون د ژوند ټولې چارې په سمه توګه تر سره کړي، نو د هر څه نه د مخه یې لاژمي او فرضي دنده داده چې خپلې روغتیا او غښتلتیا ته ډیر پام وکړي.

هغه څوك چې د ښه صحت او روغتیا خاوند وي ددنیا له ټولو نعمتونو څخه خوند او لذت اخستلی شي. په انساني ټولنو کې ځینې پخې خبرې له یو نسل نه بل ته په میراث پاتې کیږي. دغه شان خبرو ته د کاڼي کرښې وایي، لکه چې هوښیارانو ویلي دي: "روغ عقل په روغ بدن کې وي" له نورو حیواناتو سره د انسان د ټولونه لوی توپیر په عقل کې دی.

ځکه هغه عقلیه ځواك چې په انسانانو کې شته په نورو حیواناتو کې نشته، نو کله چې انسان ته په نورو حیواناتو باندې د عاقله قوې د درلودو له امله دومره غټه برخه او ارزښت ورکړ شوی دی، باید له دغې قوې څخه داسې کار واخلي چې نه یوازې خپل ځانته ګټه ورسوي، بلکې بشریت او خپلې ټولنې ته سربیره په ګټه

رسولو ویاړلي خدمتونه وکړي او خلك ددې تائید وکړي چې دده کارونه او عملونه ټول په خپله دده او دده د ټولنې په ګټه دي.

انسان د نورو انساني دندو ترڅنګ باید دتل له پاره او په دوامداره توګه خپل صحت ته ډېره زیاته پاملرنه وکړي. د روغتیا ساتنې لومړنی شرط له میکروب او ویروس سره مقابله ده، که چېرې میکروبونه نه وي، نو ناروغۍ به هم نه وي، د ټولو ځوروونکو او وژونکو ناروغیو سر چینه میکروبونه دي، میکروبونه هم د خپل وجود، کور، کلي او د ژوند د چاپیریال له نا پاکۍ څخه پیدا کېږي.

د طب پوهان دې مهم اصل ته متوجه شوي چې له تداوۍ نه د وقایې ارزښت ډېر اوچت دی، په وقایه کې له یوې خوا مالي تاوان نشته او که وي ډېر به لږ وي او له بلې خوا د ټولو خطرناکو ناروغیو مخه نیول کېږي، که چېرې وقایه، یعنې د ناروغیو مخنیوی و نه شي، نو له یوې خوا په روغتیایي معاینات او درملو باندې زیاتې پیسې لګېږي او له بلې خوا کله چې څوك په ناروغۍ اخته شي د وجود د کمزورتیا او د مرګ له خطر سره یې مخامخ کېدل حتمي دي، دغه راز هغه طبي درمل چې د ناروغۍ دله منځه وړلو په خاطر استعمالېږي جانبي عوارض هم لري او نورې

ستونزې پیښوي، نو ښه به دا وي چې موږ پاکوالي ته په یوه سترحیاتي ارزښت قایل و اوسو.

خپل لاسونه هروخت په تېره بیا د ضرورت له رفع کولو وروسته په صابون پرېمینځو، پاك خواړه وخورو او له ډېرو پاکو اوبو نه ګټه واخلو په هغو اوبو کې چې د پاکوالي له پلوه اشتباه موجوده وي ښه لاره یې داده چې له جوشولو وروسته استعمال شي.

هغه څوك چې د پاکوالي مراعات نه کوي روغتیا له لاسه ورکوي. ډېر ژر د لنډ عمر په موده کې له منځه ځي او که چېرې ژوندي هم وي نو ژوند یې په ژوند کې نه شمېرل کېږي.

---

پوښتنې:

۱. دپاکوالي په ګټو باندې څوك غږېدلی شي؟
۲. په پورته متن کې مو څه زده کړل هغه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

سپارښتنه:

- دروغتیا په هکله یوه لنډه مقاله ولیکئ.

# لوی احمد شاه بابا د یوه ادیب په حیث

تـر اوسـه ځینـې خلـك د منځنـۍ آسـیا نـامتو، بریـالی او معـروف شهنشاه لوی احمد شاه بابا یوازې د تـورې او مېړانې خاوند بـولي او د دوی په فکر یې یـوازې په همـدغو اوصـافو مځکې نیـولي او د افغانستان د شهنشاهي تېږه یې ایښې ده.

خو په حقیقت کې داسې دی چې لـوی احمـد شـاه بابـا لکـه د آسـیا د منځنیو فاتحینو، چنګیز، تیمور، نـادر افشـار غـوندې یـوازې پـه خپلو سوقیاتو او تـوره، ملکونـه، نـه دي نیـولي، بلکـې ده لـه تـورې سره قلم لـه خپلې سر تیـرۍ او توریـالي تـوب سـره علـم، فـضیلت، تقوا، احسان، زړه سوی او ادب هم درلودل.

ځکـه نـو دی نـه یـوازې یـو عـادل پاچـا، بلکـې عـالم مـشر، تـو لنیـز مصلح، روحاني مقتدا، یو تکړه ادیب او لوړ شاعر هم ګڼل کېږي. په عربي ژبـه ډېر خونـدور اشـعار ځنې پاتـه دي چـې تـر ۱۱۶۶هـ ق کال پخوا د کتاب په ډول په فارسي ژبه شرحه پرې لیکل شوېده. دفارسي دېوان یې هم درلود، د تصوف غـامض او مغلق نکـات یـې هم په یوه کتاب کې چې "علم ګنج" نومېږي په پاړسو ژبه څیړلي دي، پښتو دېوان یې چې ۳۰۰۰ بیتـو تـه رسېږي ډېر لـوړ اخلاقـي مـضامین لـري. دده پـه شـعر کـې دده عـالي فکـر، لـوړ همـت، د پښتونـوالي جـذبات، د شاهنـشاهۍ جـګ نظـر، د ښـنـې هـسك عـواطف، د توریـالیتوب احـساسات، د جهـان ګیـرۍ کلـك عـزم، د ایمـان او عقیـدې ټینګـار، د عـشق سـوځند دردونـه او د میـنې او الفـت د دنیـا عجیـبې پېښـې ښکـاره دي، او دا څرګنـدوي چـې

احمدشاه بابا لکه څنګه چې د توري پر میدان یو بریالی او ننګیالی سر تېری و د پښتونولۍ پر ډګر بشپړ پښتون، د سیاست او مشرتوب له پلوه دخپل عصر لوی سیاسي مشراو فاتح او په اجتماعي دنیا کې یو تکړه اخلاقي شاعر هم دی. د لوی احمد شاه بابا ویل ډېر ساده او موثر دي. پر ویناېې تصوف اثر لري. شاعري یې د تصنع او نمایش له پاره نه ده، بلکې د زړه ږغ یې دی او تشه وینا نه ده. کلام یې له تعقید او ابهامه څخه خلاص دی، خپل لوړ افکار او د سوي زړه ږغ په ساده او خوږو الفاظو کې څرګندوي. له وینا څخه یې پښتونواله ښکاره ده د تصوراو تخیل په دنیا کې د پښتونوالی ترحدودو نه ووځي دده د وینا ځینې ټوټې دادي:

## د وطن مینه:

لوی احمد شاه بابا له خپل وطن سره دومره مینه لري چې په لږو شاعرانو کې لیدل کېږي، لکه ده چې عملاً هم خپل وطن ګران ګاڼه، او دغه خاوره یې د ټولو افتخاراتو ادبي، عمراني او اقتصادي چارو مرکز کړه. یو وخت لوی احمد شاه بابا د شهنشاهي له شوکت او عظمت سره د هندوستان په ځنګلونو کې پروت دی، دده بریالی لښکر د ډیلي ښار فتح کوي او نوموړی بابا په برم اوجلال ور داخلېږي، مګر په دې حال کې هم د خپلو غرو خوږ نسیم نه هېروي اود زړه ګل یې بې له دې وږمې نه غوړېږي:

د زړه ګل به مې له خاورو کا سر پورته
که نسیم لــه کــوهســـــتانه وزیـــده

په دې رباعي کې یې هم خپل وطني احساسات ښه څرګند کړیدي:

د زړه فریـــاد مې لـــه جـدایۍ
اورمې ورك نه شي د آشـــنایۍ
چې پر وطن وي زړه څه قـراروي
یم بې طاقتــه پــه پـردیســـۍ

د لوی احمد شاه بابا دالاندینۍ وطني بدله د یوه دېوان قیمت لري اود پښتنو په وطني ادب کې خورا مهمه ده:

ستا د عشق له وینو ډك شوه ځیګرونـه
ستا په لاره کې بایلـي ځلمي ســـرونه
تاته راشمه زړګــی زمـــا فـــارغ شـي
بې له تامې اندیښـنـې د زړه مـــارونـه
که هر څومې د دنیا ملکونـــه ډېـر شي
زما به هېر نشي دا ستا ښکلي باغـونه
د (فریــد) اود (حمید) دور به بیـــا شي
چې زه وکـــاندم پرهر لـــوري تـاختـونه
که تمامه دنیـــا یو خواتـــه بـل خـوایې
زما خوښ دي ســتا خالـي تش ډګــرونه
"احمد شاه" به دغه ستا قدر هېـرنـه کا
که ونیســي د تمام جهـــان ملکـــونه

په دې بدله کې تاسو ګورئ چې احمد شاه بابا د شهنشاهۍ ټولې ښـیګڼې او خوندو نـه تـر خپـل وطـن پـورې هېـروي او د شـیر شـاه سوري (فرید) او سلطان حمید (لودي) رڼې دورې پـه خپـل همت او وطن خواهۍ بېرته جوړوي.

## ملي وحدت:

لوی احمد شاه بابا ډېر مدبر او هوښیار سړی و. دی پوهېده چې دهېواد لوړتیا په ملي وحدت پورې اړه لري. د هېواد تاریخ یې کتلی او دا یې ځنې را ایستلی وو: هرکله چې افغانان سره یو شوي دي، هرې خواته یې د خپل برم او جلال توغ جګ کړی دی، نو ځکه پوه او نومیالی پلار خپل ښاغلي ملت ته د ملي یووالي تبلیغ کوي او وایي:

قافله د عشق راغلې له کوم خوا ده
پر زړګي باندې میشته کا څه غوغاده
چې عمل یې د نیکۍ وي مېړه هغه
که اغوستې یې ګډله د خمتا ده

د برې لار:

لوی احمد شاه بابا په ژوندون کې د ټولو لوړتیاوو او بریو لار زیار او کوښښ ګڼي، لکه چې وایي:

بې زحمته راحت چېرې مونده نشي
د "احمد" ځکه په هر لوري غزاده
"احمد شاهه" دلته جوړه سر بازي ده
د لوړتیا خرید کوه له دې بازاره

"احمد شاهه" څو دې کار په لاس دی مت کړه
حیف هغه چې په تېر کار موږې لاسونه

**حماسيات:**

لوی احمد شاه بابا د نورو پښتنو شاعرانو په دود لوړ لوړ حماسيات لري او لکه عملاً چې هم يو بريالی قوماندان و. په وينا کې يې هم داسې لوړ احساسات ښکاره دي:

راته يو دی بحر و بر | که څه سمه ده که غر
په همت به يې تسخير کړم | شاهانه په شان وفر

په برېښنا د تورې ژوند کوه احمده!

د بري جولان پر لور دهر ديار کړه

په افغانيت کې پت او ننګ هغه مقدسات دي چې تل يې هرافغان په سر ساتي. لوی احمد شاه بابا د افغانيت پر دغې ښيګڼې داسې ټينګ ولاړ دی:

پر ننګ مړ خو څه مړ نه دی | د بې ننګه ژوند جفا ده
چې سر پرې کړي احمد شاهه | د هغو مينه رښتيا ده
پر ننګ مړ خو څه مړ نه دی | د بې ننګه ژوند جفاده
لاس به وا نخلم له ننګه | که پر ننګ پاته دنيا ده

په دې بدله کې زموږ د ښاغلي بابا حماسي او رزمي افکار ښه برېښي:

چې بر کړی مې خدای لاس پر رقيبانو

ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم

چې د هند دملکو فتحه مې روزي شوه

نور ايران لره به توغ په نغاره ځم

پر دا کړي دا ددې خدای نشي پښېمانه

ترنګين مې ايران لاندې شاهانه ځم

چې زما دولایت فتحه روزي شوه
ترو به څه دیار له نازه کناره ځم

**اخلاقیات:**

دلوی احمد شا بابا د وینا اخلاقي برخه هم خورا ګټوره وه، مثلاً د شهنشاهۍ له برمه سره هم ځان نه ورکوي:

یاره زه خو هغه ستا د در ګدایم
څه شو نن که احمد شاه درانی یم

د تکبرپه هکله داسې وایي:

تکبر دې له شیطانه مه یې نغوره
چې په کبربه سروچ کړې لکه لوخه

**عجز داسې ستایي:**

کمیني شکستګي د تا کمال دی
خود بیني په بداېي ګڼه ګناه

**د وفا اړتیا:**

مرګی ښه دی په دنیا کې
نه چې څوك شي بېوفا
سر په تېغ پرې کړی ښه دی
نه بې پته په دنیا

**د رښتیا ستاینه:**

پر رښتیني بازار تل کلپې کوټه ځي
سخ د هغه چې په دې بازار مخ سپین کا

**اجتماعي پيرزوينه:**

چې ديار په درد رضا کاله اخلاصه — پــه دنيا کې دغــه هسې کار د مرد دی
يو د بل په درد و غم چېرې خبرېږي — مگر هغه، چې په درد بې بيا همدرد دی
يار هغه دی چې په غم ديار شريك وي — چې په غم يې غمجن نه، هغه نامـرد دی
يار چې ښه وايي له ياره هغه يار دی — کلـه يار دی چې له ياره يې نبرد دی
احمد شاهه! بې پتي ننگ کړه يارانو — چـې پر پت ديـارۍ سربښندي اوس فرددی

**تصوف:**

د لوی احمد شاه بابا د وينا لويه برخه تصوف دی. مگر دا تصوف يـو راهبانـه تـصوف نـه دی چې سړی بـه ضـرور دنيـا پرېـږدي او د رهبانيت په گوټ کې بـه ميـشتېږي، بلکې د لـوی احمـد شاه بابا تصوف او افکار له هغو کانونو څخه تاوده شوي دي چې د حضرت شيخ احمد فـاروقي کـابلي (مجدد) تړلـو عرفـاني اوسلوکي حالاتو پـه کـې وده موندلې وه. لـوی احمـد شـاه بابـا د ميـا فقيـرالله جـلال آبادي (ثم شکار پوري) ته ارادت درلود او د تـصوف درس يـې لـه ده څخه لوستی و. د دوی په تصوف کې جهاد، عمل او دخلکو هدايت ډېره برخه درلـوده، نـو ځکـه احمـد شـاه بابـا يـو مجاهـد ، مـصلح او متـشرع صـوفي و. دده پـه ديـوان کـې د تـصوف ډېـرې خـوږې بـدلې شته چې دلته يې يو څو بيته راوړو:

**د انسان فطرت:**

دا زمــا د صـــورت ختـــه — پـــه څلـــور عنصـــرو پـــته
چې د روح په رڼا ورك شوم — په خپل څېـــر ده کـــته مـتـه

**د انسان د اصلي وطن یاد:**

چې د روح په رڼا ورك شـوې ځکـــه مـــا لیـــدلی یـــارو
"احمد" اوس که یکتنها شوې ســــتا وطـــن د یـــارکنارو

**علم ته تشویق:**

لوی احمد شاه بابا عالم پاچا و، نو ځکه په خپله وینا کې خپل ملت علم ته ډیر تشویقوي. او داسې وايي:

څو ډیوې د علم دي همېشــــه بلې
د غفلت په تیاره څو ګرځې عجوزه
د یقین علم له ځانه سـره مـل کړه
د همــــــت پــه وزر الــــوزه الــوزه
له ځلـورو خوا به نور درته ځلېږي
که د علم روڼ څراغ و در ته بـل کړې
روح له علم رڼا اخلي هله زده کړه
احمد شاهه چې بد خوی په ښه بدل کړې
علم ګوره څه څرګنـده لوی دریـاب دی
بیا هم دی را بهېدلی په څو بـــــاب دی
دا د عـلم دریاب هر چېرې محیط دی
علم زده کړه چې د علم لوړ جنــــاب دی

(پښتانه شعراء لومړی ټوک)

---

سپارښتنه:

- دلوی احمد شاه بابا په هکله مو چې څه معلومات زده کړل په خپلو کتابچو کې ټول ولیکئ.
- داحمد شاه بابا پورته اشعار په نثر ولیکئ.

# طمع

چې سړی له سړي کړي د دنیــا طمع
سړیتوب به یې سپیتوب شي په دا طـــمع
د هغو د حیا پښه مــدام ښـــوئېږي
چې یې واخیسته د نس په هوا طمـع
د دانې په طمعه بند آزاد مرغه شــي
ژر به ستا  په سر  بلا شــي دا ســـتا طمـع
له هغو تر خه ویل د حق شـــي پـــاته
چې یې خوله کاندي خوږه د حــلوا طـــمع
ژر یې رنګ د آشناییه سره وران شي
چې پیدا شي له آشـــنا د آشنـــا طمع
د اوبو څاڅکی یې دُرشــي په ســـینه کې
څو چې پرې کاندي صدف د دریـــا طمع
هېڅ علاج یې د جهان په حکمت نشـــي
چې یې سازه په وجود کړي بـــلا طمــع
پردي پرېږده که په قطعه پلار او مــور وي
د هېچا و چاته مشــه پېـــدا طـــمع
له دغې طمعې طاعون ښــه دی (حمیده)
چې کوې د نفس له پاره له چا طمـع

(د حمید مومند له دیوانه)

---

سپارښتنه:

- پورته شعر په دقت سره ولولئ او بیا یې  په نثر واړوئ.

# د پېغور حسرت

چې لښکر و د جسرت[۱] راوئ[۲] نا تار
پښتانه ځلمي يې کړله تار په تار
ډېرې مېندې سره بورې کړې بريدونو
ډېرې خوندې سره ورارې کړې ټينګار
ډېرې ناويې[۳] سره کونډې کړې بريو
ډېرې نجونې يتيمانې کړې ايثار
ډېرو غشو سره پيودل زړونه زغرې
ډېرو تورو سره سکښتل سرو سپار
ډېرې تورې سره پڅې شوې پر پړو
ډېر سرونه وو پراته انبار انبار
ډېر سرونه د ځلمو په سانګونجتي
ډېر سرونه د مېړو د فتراك بار
ډېر سرونه رغړېدل په وينو لژند
ډېر تنونه ترپېدل پرهار پرهار
ډېرو رنونه وو تر سوو لاندې مات شوي
ډېر لېچو نه وو تر پښو لاندې افګار

---

۱- جسرت د پنجاب په شمالي برخه کې د ګهکړو نامتو مشر و په (۸۴۲۰) هـ ق کال يې د ډيلي د پاچا (سلطان محمد شاه) په حکم د سر هند پر پښتنو بريد وکړ.

۲- راوئ = راووړ.

۳- ناويي= ناوياني.

ډېرې هيلې نيمه خوا کړلې غښتليو
ډېر ډاګونه يې په وينو کړل ګلنار
په ولجه کې يې بندي بو تئ جسرت ته
فيروز خان د پښتنو لودي سردار
پر ګکهړ تېر د سوبې لمر راوخوت
ښا د نامويې پر سرو اخيستی دربار
برياليوبه په نخوت وړاندې کولې
ککرۍ د نوميالیو وار په وار
ورښوول به فيروز خان جسرت ګکهړ ته
دهر سر نوم د کهول ملك وتبار
په دې ترخ کې يې يو سر راوئ دربار ته
چې فيروز يې له نامه وکا انکار
سر يې مه بوله د سرو ګلو ګېډۍ وه
نا مرادۍ يې ژړول يارو اغيار
له ښکلا ميندې ور باندې خوندې
له پرتمه يې زمريو کاوه ډار
نازېدل يې په وصال د جنت ښکلې
پرښتو يې په تپاك ځارله لار
ښاپيرو به يې بلابلل خپل لور ته
ښايستو به پر زړو واخيست ګذار
په کتو يې بانه غشي شول دزړونو
په لېدو يې د ښنو ووايه ځار ځار

پر ځوانۍ باندې يې توی کړې هغو اوښکې
چې يې وينو وته تـړې ووبـاربـار
په کلو يې چې مرګي وته سترګۍ وې
شول هغه غليم ليمه پسې خونبـار
هغه خولې يې په ثنا ستاينې سر شوې
چې يې وازې په ښېراوې هر سهـار
ډېرو ډېرو يې پر توره آفـرين کـړ
ډېرو ډېرو شا باسی کړ پـرې نثـار
ډېرو ډېرو يې کېسې د تېنګار وکړې
غليمان يې پر مېړانـه شـول اقرار
هاله ووې په مسـا فير و ز ښـاغلي
چې: "دا راز به اوس په فخر کړم اظهـار
دا زما د لېمو تو رد ګو ګل ستن وه
د غليم د زړه نشتر د سـترګو خـار
دا زما د ګرت، تو برۍ د موټې تېـغ و
د غليم د پښو ځنځير د غاړې مـار
دا زما د پړي سـاه د شـارګ وينـه
دا زمـا د ګوګل زړه د زړه قرار
دا زما د کاله مالګه د کور خونـد و
دا زما د باغ مېـوه د بـڼ بهـار
دا زما د لاس امسا د امېد څانګه
دا زما د ژوند حاصل د مرګ يادګـار

په حيرت ور ته جسرت ووې: فيـروزه؟
تا لومړی ولې ونه ښود دا نامــدار
ستونی ډك شو د فيروز له ډېره غمـه
تر لېمو يې ورته وغورځېد شـــرار
وې يې: "موږ هېڅكله نه شـمېرو پـــه ځــان كې
څوك چې مخ پرتندي نه واخلـي ګذار
څوك چې ژغوري پر ناموس څړی لــــه تورې
څوك چې نه اخلي پر زړه د ننګـــي وار
څوك چې تمه په پرېږدي د سـيالو سيله
څوك چې هيله په پلوري دين په ديـنـار
څوك چې نه پيري جنت په لپه وينـه
څوك چې نه ښندي يو سر د خدای پر پـار
څوك چې پريږدي ودښنو ته ميدانونه
څوك چې نوغی پر نامه ږدي د فـرار
مايې نوم په ژبه نه واخستی ځكه
هسې نه چې ورنه شوی وي ادبار
هسې نه چې "شاهين" مړوي په ســـپيتا نه
خدای ومه كا چې را پاته نه شي عــار
دزرو نامرادو زو يو داغ جســرته!
په حسرت د پيغورنه ارزي د پــــلار

"عبد الشكور رشاد"

# نارينتوب

کوم وخت چې سردار محمد ايوب خان غازي له انګريزانو سره نظر بند و نو يوه ورځ په لاهور کې د آسونو د ځغلولو سيل ته ورغی د فوځ غټ غټ مشران حاضر دي لوبه جاري ده. دی بې پروا پر آس سپور مينځ ته ورننووت. يو کرنيل دده مخې ته راولاړ شو. دی يې له وړاندې تګ نه منع کړ او په ستغه وينا سره ورته لګيا شو چې ودريږه! دلته اجازه نشته! ته دلته څنګه راغلی يې.

په دې مينځ کې دغټ مشر (لوی جرنيل) له ورايه په دوی سترګې ولګېدې. دستي يې په آس پښه واړوله په تراټ راورسېد وارله واره يې سردار ته خولۍ کوزه کړه او د سردار يې خورا ډېر تعظيم وکړ. کرنيل چې دا حال وليد ډېر وارخطا شو چې ما د دومره لوی سړي سره بې ادبي کړې ده. جرنيل ورته مخ راواړاوه چې: "ته دانه پيژنې! چې دا څوك دی. دا د ميوند زمری دی!!"

له دې نه وروسته يې سردار ته ډېر عذر وکړ چې: "کرنيل صاحب تاسې ونه پېژندلئ. تاسې سره بې ادبي وشوه. زه ډيره معافي

غواړم. تاسې طبعه خفه نه کړئ". بیا یې نو له ځانه سره خپلې هغه لویې خېمې ته بو ته[1] چې هلته کرسۍ او مېزونه اېښي وو، ړومبی یې دی پرکرسۍ کښېناوه خپله جرنیل او نور فوځي منصبداران وروسته شاوخوا کښېناستل او دلته یې بیا ور نه عذر وغوښته چې: "تاسې خفه نشئ، تاسې سره په ناپوهۍ کې، بد سلوك وشو زه معافي غواړم!"

دا څه وه... دا د سردار هغه توره وه چې د میوند په جنګ کې یې دښمن ته ښودلې وه او دهمدغې مېړانې په سبب یې خپل او پردی ټول د زمري په نامه یادوي. د نامه احترام یې کوي او همداسې به تر پېرېو په عزت او حرمت یاد یږي.

(له نوي ژوندون څخه)

---

سپارښتنې:

- زده کوونکي دې د پورته متن کیسه په خپلو الفاظو ووایي.
- د هېواد نور دغسې شخصیتونه که پېژنئ معرفي یې کړئ.

---

[1] - بوته= بوتله.

# د ګلو کر

کر د ګلو کړه چې سیمـــه دې ګلزار شي
اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شـــه
چې همدا غشی به ستا په لور ګذار شـــي

کوهي مه کینه د بل سړي پـــه لارکـــې
چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شـــي

ته چې نورو ته په خوارو سترګو ګـورې
لاړ ومبی به ستا صورت ترخـاورو خوار شـــي

آدم زاد په معنـــا واړه یـــو صـــورت دی
هـر چـــې بـــل آزاروي هغـــه آزار شـــي

که ته نــه کـوې نظـر د چـا و عیـب ته
هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شـــي

د مات لوښـــي آواز کلـــه ثابت خېـــږي
د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شـــي

نن چې صبحه ده روښانه لاړ صحيح کړه
نا ګهــانه بــه دا صبـحه شـــب تار شي

لړ يې مه ګڼه که هــر څو ګنـــاه لـــږ وي
چې لږ لږ وبله جمع کــړې بسـيار شي

هغه زړه به له طوفـــانــه په امــــان وي
چې کښتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي

خداى دې بد له لاسه نه کا او که وي هم
د "رحمان" دې له کل بدو استغفار شي

(درحمان بابا له ديوان څخه)

---

پوښتنې او سپارښتنې:

١. په پورته بيتونوکې دڅه شي په هکله خبرې شوي دي؟
٢. پورته شعر په نثر واړوئ.
٣. لـه پورتـه لوسـت څخـه مـو څـه نتيجـه واخيـسته پـه خپلـو کتـابچو کـې يـې وليکئ.
٤. دشعر ديوه يوه بيت په هکله دې زده کوونکي خبرې وکړي.

# ملالــه

د کندهار په علاقه کې (میوند) یو تاریخي کلی دی ددغه کلي نارینه او ښځې چې له خپل نوم سره میوندوال یا میوندواله وایي ویاړي. دا ځکه چې د میوند په جنګ کې یوې میوندوالې پښتنې میوندوالو پښتنو ته غیرت ور واچاوه په خپله مخکې شوه او زړه ختلي ځوانان ور پسې روان شول با یللی جنګ یې وګاټه.

په ۱۲۹۷ هجري قمري کال کې د برات دمیاشتې اوولسمه ورځ وه. د فیرنګي فوځ د میوند په میرې کې پروت و په هر سازو سامان پوره، په خوراك څښاك موړ و. سور اوړی و. له آسمان نه اور اوریده، ځمکه تېغنه وه، ملك سورتنورو، کاڼي د ګرمۍ له تاوه چاودل، پیریانو تنورونه اچولي وو، هوا سره لمبه وه او به نه وې او که چېرته کوهي یا چینه وه، نو په هغه د دښمن قبضه وه. له مسلمانانو غازیانو سره اوبه خلاصې شوې وې. له تندې د هر چا ژبې وتلې وې، مرۍ و چې، شونډې سپینې تښتېدلې وې. ساه ختلي... سره له دې ملا تړلي ولاړ وو او دا یې غوښتل چې د دین د ښمن د انساني آزادۍ غلیم له خپل ملك نه وباسي، ورك یې کړي. خو د دښمن زور ډېر و. ښخ ناست و او جنګېده. آخر چې په غازیانو تندې ډېر زور و کړنو داسې وایي چې ځینو، ځینو په شاو کتل زړونه یې پرېوتل او په شاروان شول. وروسته د دوی ښځې وې. په هغوی کې یوې نجلۍ[1] سر هسك کړ او له ځانه سره یې ووې چې: "دا خو کار خراب شو" دا جینۍ (ملاله) وه (ملاله) له ملي غرور او

---

[1] نجلۍ= جنۍ.

کلکې پښتو ډکه، په تلوار د ښځو له منځ نه راووتله او د غازيانو په لور روانه شوه. چې نږدې ورغله لکه زمرۍ ودرېدله او دزړه له اخلاصه يې ناره وکړه چې:

"اې پښتنو مېړونو!!؛"

د هر جنګيالي پښتون غوږ ته دا خبره ورسېده او په جنګ کې يې د ملالۍ لور ته وکتل: ملالۍ د زړه له جوشه دا لنډۍ وويله:

که په ميوند کې شهيد نه شوې خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينـــــه

د (ملالۍ) دې لنډۍ يو يو توری د هر غازي په زړه لکه غشی ور ښخ شو. دې چې دا ټپه ختمه کړه سمدستي يې د الله نوم واخيست: "الله اکبر" او د زمري په دود يې د دښمن په لور ور منډه کړه. د ماتو غازيانو د غيرت جذبه په جوش شوه. مات زړونه يې جوړ شول، لکه چې مړه را ژوندي شي. د هر غازي په رګ رګ کې پښتنې وينې منډه و کړه، ويښته يې ودرېدل. (ملاله) بيا د دوی له منځه وتلې او په دښمن ورغلې وه. هر يوه ور پسې منډه کړه او د کفارو په لښکرو ورغلل، دښمن څه مقابله وکړه خو افغانان چې يو وار په کلکله د الله نوم واخلي، نو غرونه ورته هم نه ټينګېږي آخر دښمن مات شو. هغوی به په شا تښتېدل او مېړنو غازيانو به وهل، ډېر يې مړه کړل او ډېر وتښتېدل، توپونه او ګولۍ ترې ځای په ځای پاتې شوې ميوند فتحه شو. (له "پښتنې کتاب" څخه)

---

پوښتنې:

۱. ملاله څوك وه؟

۲. مېرمن ملالې دجنګ په ډګر کې کومه لنډۍ وويله؟

# شيخ تيمن (رح)

نقل کا چې شيخ تيمن د شيخ کاکړ (عليه الرحمه) زوی و، کله چې دی د غور برې خواته ولاړ او هلته مېشت شو. نو خلك يې اوس اولاده په کاکړو کې نه شميري. خو په اصل دوی د کاکړ له اولادې دي او تېمن (عليه الرحمه) زاهد او عابد، ولي و.
نقل کا: چې کا کړ بابا لا ژوندی و تيمن [1] له غوره راغی او په ژوب کې يې د کاکړ بابا ليد نه وکړه. بيا ولاړ او په کجران کې واوسېد او د علاؤ الدين حسين سام په زمانه کې وفات شو.د تيمن بابا دغه شعرونه زما پلا رله (بستان الاولياء) څخه نقل کول ماله ده واورېدل:

ګهيځ رڼا د لمر خپره شـــــوه

زما په کور د وير نـاره شـوه

د بېلتون ورځ توره تيـاره شـوه

رېغ شو نا څا په چې بېلتون راغـی

زړه مې له دې ويـرنې شـين دی

پـه ژړا ژاړم څـه نـاورين دی

زرغون له اوښو مې سـادين دی

په نول نولېږم چې تا خون راغـی

[1]- د شيخ تيمن نيکه اولاده اوس په (تايمني) مشهوره ده.

نه به بیـایم نــه به بیـــا راشــي

نه به تیـاره شــپه زمــا رڼا شـــي

نه په شـــهـۍ راتــه پخــلا شي

بېلېږي پير يې اوس دیون راغی

اور بل دې پرېښـودو واتــه کـړې

زما د بـــل اور کـړوون راغـــــی

(له پټې خزانې څخه)

سپارښتنه:

- پورته شعر دې ښوونکی صاحب په ساده ژبه معنا کړي.
- زده کوونکي دې پاس شعر په نثر واړوي.

# د سعادت کیمیا

درته وښیم کیمـــیا د ســــعادت
لــه بـدانو ســـره مه کــوه صحبت

مه بد ګوی مه بد آموز مه بداندیش شه
که دې زړه وي چې درنـه رســي آفت

که لویي غواړې ځان کـم ګڼـه تربلـه
بل تر دا د پـاســه نشــته نصیــحت

په دوستانو  تلطف کړه ځو په تاشــي
له دښمن سره هم ښــه کـوه خلقـــت

د نیك خوا خبرې نغوږه پرې عمل کړه
نا نغوتانـــو تــه تیـــار دی ندامـت

د لمانځه تر قضا ګرانه دا قضـــا ده
چې قضا شي د څلــورو مصـلحـت

نو راني کا هغه ځای چې سره کښېني
د پرینه، څلور هوښیار په مشــورت

په اخلاص چې په دعا لاسونه هســـك کا
ور به پرانیست شي د فتحې د نصـرت

بې کنګا شه به هیڅ کار په لاس وا نه خلې
که خبـر یې د کنګـــاش په بــرکـت

که حاتم غوندې کرم کړې د مهرانـو

د یوې مړۍ په چـــا مــه ږده منـــت

څو بدانو سره بد شي هومره ښـه دی

ولــې عفـــوه کـــرم ډېر لـــري لذت

که دې سر ځي که دې مال ځي که دې نور څه

استوار اوســـه په کـــار د رفـــاقت

که راحت غواړې په ځان محنت قبول کړه

بې محنته هېڅوك نه مومي راحـت

که دوا په خواست مونده شې مه يې اخله

که دې مرګك وته نژدې کاندي زحمت

که آسمان دې د زمري په خو لـــــه کې ورکا

د زمري په خوله کې مه پرېږده همت

که ژوندون دې هم هغه دی په جهــان کې

چې یاد ېږي د سړي د ښـــو خصلت

چې کالي يې پاته نشي مرده شوی ته

خـدایه وکړې د"خـوشحـال" هسـې رحلت

(د خوشحال له کلیاتو څخه)

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې پورته نصيحتونه په ځان عملي کړي.
- پورته نظم په نثر واړوئ.

# فکر پالونکی

پیر او فقیر نه یې چې خلکو ته دعا وکړې او د هر چا له پاره د تسلۍ زیارت شې. فیلسوف او عالم نه یې چې خلك درڅخه علم او پوهه یوسي. طبیب نه یې چې درنځورانو علاج وکړې.

قاضي یا حاکم نه یې چې عدالت وچلوې او د حق ملګری شې دغه راز افتخارات ستا په برخه یو هم ونه رسېده.

ته یو شاعر او لیکونکی یې. مګر له تا نه ښه شاعران او ښه لیکوالان ډېر پیدا کېږي. سره له دې زه تا ته په ډېر قدر ګورم او په ډېر لوی حق قایل یم.

دلته د فکر او قلم خاوندان ډېر دي. مګر د فکر او قلم د آزادۍ علمبرداران ډېر لږ دي. ځکه ستا مقام له نورو هسك ګڼمه. که څوك تاته د فکر خاوند ونه وایي زه ورسره کار نه لرم، مګر که د فکر خاوند تا خپل حقدار ونه ګڼي زه به ورته بې انصافه ووایم. هغه څوك چې په وطن کې هېڅ نه لري او د وطن د آزادۍ له پاره سر ورکوي په وطن باندې حق لري.

همدغه وجه ده چې د فکر پالونکي مقام له فکر لرونکي څخه ډېر اوچت دی او زه هم دواړو ته په یوه نظر نه ګورم.

**( له غوره نثرونو څخه)**

---

سپارښتنه:

- زده کوونکي دې پورته ادبي نثر په غور سره ولولي او دهغه نتیجه دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د زړه سوی غږ

ټول دې مه شه په زرګونه زر و سـیم
چې ته یو ککوړی خورې په کې یا نیم

تش په توره لکه مـار پـه پـردو زرو
پیچ و تاب خورې برنا حقه شوم لئیم

د هغه لسـتوني لاس ید بیضـاوي
چې پرې وچې کاندي اوښکې د یتیم

دوست په دوست ددې دنیا کاهسې چارې
چې یې نه کا هیڅ غلیم په بـل غلیم

تر ناداره دارنـده سـړی حریص دی
اور دخس په قدر زور کـاله قـدیم

تر ګدایه دسر درد د پاد شـاه ډېر دی
هغـه غـم کـا د ګلیم دی دا قلیم

نفس په بده درته پند کازه پـه نیـکو
د قارون په نغوتـه ځـې که د کلیم

چې غنچه یې د (حمید) د خاطر واکـړه
پرې له کوم لوري را والوت دا نسیم

(د حمید مومند له دیوان څخه)

# حُریت

د مجنون ژوندون به څه وي چې لیلا مري
څه په کار دی تش کالبد چې زړه د چا مري

زړه ډیوه ده دا د خټو په قالب کــــې
خدای ومه کړه چې به دا ډیوه د چا مري

چې مرغه لاړ شي قفس د ماتېدو دی
که به زړه مري تش ګو ګل دې لاپخوا مري

هیڅ ممکن نه دی پایښت د هغه پړې
زړه چې مري کالبد مجبور دی خامخا مري

حــریت د هـــر ملــت د بـــدن زړه دی
که دا نـــه و هــم ملت مري هــم بقــا مري

(عبد الشکور رشاد)

# حکایت

یو سړی زر ګر له[1] لاړ او ورته یې وویل: ماله کنډه راکړه چې زه پرې وړې وړې ټوکړې د زرو وتلم.

هغه زر ګر ورته وویل: چې غلبېل زما بل چا وړی دی.

هغه سړی ورته وايي : ته څه وایې او زه څه وایم.

زرګر وویل : جارو مې په دکان کې نشته.

هغه سړي ورته وویل: ما ته معلوم یې چې کوڼ نه یې خبره اورې، زه له تانه یو څیز غواړم او ته بل څیز یادوې.

زر ګر وویل: ښه اورم چې ته کنډه غواړې، مګر وینم چې ستا لاس رېچیږي او دا ز ربه درنه[2] پریوزي، نو بیا به وایې چې جارو راوړه چې د زرو ټوټې پرې را ټولې کړم او بیا به غلبېل غواړې د چاڼولو له پاره. نو ما څکه د جارو او غلبېل عذر وکړ چې تا لایق نه وینم چې دغه کار وکړې نو خامخا به دې دواړو ته حاجت پرېوزي او دا دواړه خو نشته.

(له ګنج پښتو څخه)

---

سپارښتنه:

- ښاغلی ښوونکی دې دحکایت لغتونه معنا کړي. او له زده کوونکو څخه دې د کیسې مطلب وغواړي.

---

[1] له = ته

[2] درنه = در څخه

# ماشومان

موږ ناست وو. ماشومانو زموږ له څنګه لوبې کولې.

کله به یو له بله و نښتل چیغې به جګې شوې او ژړا انګولا به شوه.

کله به خندا شور او زوږ د ومره اوچت شو چې په عذاب به یې کړو. یوه به چې د بل د لوبو شیان ګډوډ کړل هغه به په قهر شو او کنځلې به یې کولې. زموږ پام نه و یو را پاڅېده د بل مخ یې شوکارې کړ. د هغه په مخ وینې و بهېدې او له مستۍ نه جنګ جوړ شو.

موږ ویل: خیر دی واړه دي نه پوهېږي.

زموږ لویوالي دا تقاضا درلوده چې د کوچنیانو طفلانه لوبې هېڅ و ګڼو او ملامت یې نه کړو. ماشومان د عمر او وجود په لحاظ په ربښتیا له موږ نه واړه دي. مګر دومره واړه نه لکه موږ چې د خدای په دربار کې واړه یو.

د ماشومانو پوهه به له موږه لږه وي، مګر زموږ پوهه د خدایﷻ په حضور کې هېڅ ده.

هلته موږ له ماشومانو نه ډېر واړه او زموږ پوهه ډېره لږ ده. زموږ لوبې هم د وړو غونـدې دي زمـوږ خنـدا او ژړا همـا غـسې ده. ماشومان پوهېږي چې واړه يو او موږ نه پوهېږو.

راشئ چې په دې خبره ډېر خوشحاله شو او د لوی خدایﷻ لويوالي ته په ډېر امید وګورو.

(له غوره نثرونه څخه)

---

سپارښتنه:

- ښوونکی دې د متن په مطلب خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د لوستل شوي متن مطلب په څو کرښو کې وليکي.

# د مشرانو همت

ډېر ملوکان په ډېر دولت کې هسې په ځان سترې ناست وي چې د ځان خلاصی په دعا غواړي. اما نه بويه چې کم همتي کېږي، زمری له خپل کاره نه جاروزي. څه شو که زنځيرونه يې په غاړه کې پراته وي هم دغه زنځيرونه د ديو[1] لويي ده ولې په (تروړيو) ګيدړو څوك زنځير ونه، نه اچوي.

چې لويې چارې غواړي دلويو غمونو پروا دې نه کا.

هرڅوك چې يې پيدا کړي دي د يوه کار له پاره دي. د سړي په لاس هيڅ نشته يو چې په ډېرو کې و نمنځي خاص يې کا د عام مصلحت له پاره وي چې په هر کار د پروردګار له لوريه[2] مامور دی خو پړ دی په اختيار په همت بويه چې په همت کې سستي بې همتي دې نه کا. که هرڅو کار ګران ور پيښ شي پرې دې همت وکا.

که ډېرې حادثې واقعې پرې راشي زړه دې قوي لري، واردې خطا نه کا دده خو همت بويه مشکل به خدایﷻ آسانوي که واړه ملك وما ل يې په يوه ورځ د سيلاب په مخ لاړ شي زړه دې لربر نکا په زړه دې داوايي هغه چا چې را کړی و هغه را څخه رانيوه که يې راکوي بيا به يې راکا او کنه دنيا له چا سره وفا کړې ده چې له

---

[1] ديو= دوی.

[2] لوريه= لوری.

ماسره به يې کادا هومره ملو کان څه شول د ديو ملك خزانې څه شوې خو وار و په هر چا تېر شه په ما به هم تېرېده.

د چا تملق چاپلوسي دې نه کا چې کم همت ياد ېږي. په (پت او همت) کې مرګ ښه دى نه په بې همتىۍ، بې ننګى کې ژوندون. که تمام عالم هم دده په کمې شي پروا دې د هيچا نه کا خپل هوډ، همت دې له لاسه نه اچوي.

د همت له تالاش دې په خپل کا رکې هيچېرې سستي کاهلي ونه کا.

| | |
|---|---|
| سر چې وځنډي ځوانـــــان | څه مزري څه يې هاتيـــان |
| سر ګيا ورته ښـــکارېـږي | چې همت لري هوډ يـــــان |
| سر دې ځي همت دې نه ځي | تل ځوك نه وي په جهـــان |
| ځان ساته نشي لــه مـــرګه | که هرڅو ساتي خپل ځان |

---

سپارښتنه:

- ښوونکي دې پورته نثر تشريح او معنا کړي، او بيا دې زده کوونکي پورته نثر په خپله ژبه بيان کړي.

- په پورته بيتونو کې دصفت کلمې په نښه کړئ.

# د محرم لسمه

د محرم لسمه چې مذهباً هم اهمیت لري په پښتني کورو کې په دغې ورځ څه نا څه خیراتونه کېږ ي. کوم یو چې هېڅ وس او قدرت و نه لري هغه هم دپنډه و وریجو شو له هرو مرو پخوي او په جوماتو او کورو یې ویشي.

دا شوله په زعفرانو یا په بل ژېړ رنګ ژېړه شوې او خوږه شوې هم وي په دغې ورځ مسلمانان هر ډول خېراتو نه کوي. له پسونو څخه بیا تر غوایانو پورې هم حلالېږي او غوښې یې اومې خیراتېږي. په دغه ورځ وږي او بې وزلي کورونه کتغ او خواږه مومي او ماړه شي. ځیني خلك او ګره پخوي پسونه غوایان حلالوي، غوښې یې په همدې او ګره کې اچوي.

ددې ورځې بل دود دادی چې هره کورنۍ هدیرې او مقبرې ته ځي او خپلو مړو ته دعا کوي او پر قبرونو یې اوبه اچوي چې دا ددې ورځې یو نیك عمل ګڼل کېږي.

د محرم لسمه په اسلامي ادابو او مراسمو کې يوه ښه او نيکه ورځ ګڼله کېږي چې د ټولنې د يووالي، د زړه سوي، مرستې او نورو سبب ګرځي.

(پښتني دودونه)

---

## سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! دمحرم لسمه ورځ په مسلمانانو کې ډير ارزښت لري ددغې نېکمرغې ورځې نمانځنه په ځان کې وروزئ.

## پوښتنې:

١. ښوونکی دې د زده کوونکو سره په دې بحث وکړي چې د محرم ورځ څه او ولې لمانځل کېږي؟
٢. موږ له بېوزلو خلکو سره د خپل وس په اندازه څه وکړو؟

# فضیلت

فضیلت د انســـان علم او عمل دی
که په سر یې پټکی شال او که ململ دی

په چپن او بالا پوش ونه غولېـــږې
ما دلنګ څښتن لیدلی مکمل دی

د هرچا معنا ته ګوره نه لبـــاس ته
ما د ښه لباس خاوند ولید مهمـــل دی

فضلا و ته په ښه سترګه تـــل ګوره
که اغوستی یې خمتا او که بخمل دی

افتخار په مال او عارله فقره نـه کا
د کمال خاوند په هر صورت افضل دی

همېشه په ښه سیرت سړی ښه ښکاري
په صورت باندې که ځیږ او یا شډل دی

د افکار و تجلي یې نـــه ور کېږي
د چا زړه کې چې څراغ د علم بـــل دی

په تورتم کې به هغه سړی وي وړانـــدې
چې یې لاس کې د عرفان ښایسته مشعل دی

(الفت)

---

پوښتنې او سپارښتنې:

۱. پورته شعر دڅه په هکله ویل شوی دی؟

۲. د نظم د هم قافیه الفاظو د لیکلو تمرین وکړئ؟

۳. د پورته شعر مطلب په نثر واړوئ.

# سوله

جنګ توري شپې د بد مرغۍ، سوله سبا راولي
جګړه تیارو سره راځي، سوله رڼا راولي
جنګ بوري میندی ژړوي په ځواني مړګو بچو
په وچو شونډو د یتیم سوله خندا راولي

دا چې وایي ژوند ډېر خوږ دی او د ژوند هره شیبه ډېره ارزښتمنه او له خوږو څخه ډکه ده یوه په ځای او منل شوې خبره ده. خو همدغه خوږ ژوند او دغه خوږې شیبې هغه وخت لا پسې خوږې او ګرانې شي چې ژوند په سوله او امن کې وي. په سوله کې ژوند سوکالي، خوشحالي او مینه راولي. او په زړونو کې د محبت او دوستۍ، هیلی لا پسې ټینګوي د یوه هېواد او یوې ټولنې آبادي، ښادي او بیداري هغه وخت منځ ته راځي چې د هغه وطن او اولس په آسمان کې د سولې پرښتې خپل وزرونه ښوروي. او د سولې وریځې وربانديې خپل د رحمت بارانونه وروي.

نن چې زموږ په سوله خوښوونکي هېواد کې د ملي یووالي او له دې سره د سولې او خوښیو غړونه پورته کېږي. دغه غږونه دومره خواږه او دومره په زړه پورې دي چې په ټولو زخمي زړونو، لکه د ملهمو پټۍ هسې لګېږي. د میندو په سترګو کې د اوښکو د مرغلرو په ځای د خوشحالۍ د ګلونو غوټۍ غوړېږي. او د هېواد د

پلرونو کړې ملاوې په سمیدو دي، خویندې د خپلو وروڼو د سرې ډولۍ د راتلو لارې څاري.

د نیمزالو د ژوند هیله په غوړېدو ده. او په کلیو بانډوکې د سولې او امن له برکته دخوښۍ او خوشحالۍ سرودونه غږېږي. موږ دغه هیله لرو لکه څنګه چې په خپل ګران هېواد کې سوله ستا یو او دامن ستاینه کوو، په ټوله نړۍ کې د تل له پاره د سولې سپین بیرغ اوچت او رپېدلی غواړو. ژوندی دې وي سوله او روښانه دې وي په جهان کې د سولې لمر.

(حافظ)

---

سپارښتنه:

- زده کوونکو! دسولې دغه خوږه کلمه په عملي توګه په ځان عملي کړئ دسولې درس او روحیه په خپلو افکارو کې ورو زئ.

**تمرین:**

- دسولې او د هغې د ارزښت په هکله یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي. او بیا خپلې مقالې دټولګیوالو په مخکې ولولئ.

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

# په نکاح کې د نر، او ښځې رضایت

یوه ورځ حضرت پیغمبر(ص) وغوښتل چې د خپل زړه ټوټه، یعنې خپله ګرانه لور (فاطمة الزهراء (رض)) حضرت علي(رض) ته په نکاح کړي؛ نو حضرت ابوبکر صدیق (رض)، حضرت عمر (رض) حضرت عثمان (رض)، حضرت طلحه(رض) حضرت زبیر(رض) او دمهاجرینو او انصارو مشران یې را ټول کړل او د ټولو په مخکې یې حضرت علي(رض)رضایت وغوښت او ورته یې وویل:

ای علي(رض) "زه غواړم چې د ۴۰۰ مثقالو سپینوزرو مهر په بدل کې خپله لور فاطمه (رض) تاته په نکاح کړم. آیا ته راضي یې؟"

حضرت علي(رض) وویل: ای د خدای رسوله! زه راضي یم. ټولو حاضرینو مبارکي ورکړه. بیا حضرت پیغمبر(ص) خپله لور حضرت فاطمة الزهراء(رض) هم د دغه نکاح په اړه وپوښتله. حضرت فاطمةالزهراء (رض) هغې حیاء له مخې چې درلوده یې ،خپل رضایت یې په سکوت (چوپوالې) سره وښود.

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

*هرڅوک حق لري چې دهیواد په ټولیزه اداره کې برخه واخلي.*

.............................................

دافغانستان اتباع داتتخابولو او اتتخابیدلو حق لري.

(دافغانستان داساسي قانون له دري دیرشمې مادې څخه)

هرڅوک حق لري چې دخپل هیواد دټولیزو چارو په اداره کې، په مستقیم ډول او یا هم دخپلو استازو له لارې چې په آزادانه ډول ټاکل شوي وي ګډون وکړي.

(دبشري حقونو دنړیوالی اعلامیې یوویشتمه ماده، لومړی بند)

# پیر روښان او د هغه تألیفات

پیــر روښــان او رمـړ پښتــون چــې اصــلي نــوم یــې (بایزیــد) و. پــه ۹۳۱ هـ ق کال په یوې پښتنې علمي کورنۍ کې زېږېدلی دی. پلار یـې شـیخ عبـد الله نومېـده چـې پـه اووم پښـت شـیخ سـراج الـدین انصاري ته رسېږي، د نیکه نوم یې محمد و.

پیر روښان هم لکه خپل پلار او نیکه عـالم سړی شو. په فلسفه او حکمت کې یې ډېر غښتلی لاس درلود او په حکمت او استدلال کې دومـره قـوي و چـې هیڅـا نـه شـو پـړ کـولای. دده پـه وختـــو کـې پیـــر بابا چې اصلي نـوم یې سید علی دی په بونیر کې اوسېده یـو منلـی سـتانه او بـزرګ و. پیـر بابـا او غښتلـی مریـد یـې اخونـد در ویزه د پیر روښان په مخالفت پاڅېدل ډېرې مناظرې او منـازعې یـې تـر منځ وشوې. اخونـد درویـزه غونـدې حریف یـې هم پـه خپلـو آثارو کې پر عقل او فراست قایل دی هوښیاري او ځیرکي یې مني.

په " د بستان مذاهب" کتاب کې یې لیکلي دي چې پیـر روښـان پـه عربي، پارسي، هندي او پښتو کې زیات تصانیف لري، موږ ته یې تر اوسه دغه آثار څرګند شوي دي:

۱- مقصود المومنین: یو کتـاب دی چې په عـربي ژبـه لیکل شوی دی.

۲- **حال نامه**: په دې کتاب کې پیر روښان د خپل ژوند حالات په پاړسي ژبه لیکلي دي، یوه ټوټه یې داده :

"عبد الله (پدرم) مرا سوی علم فقه مې ګماشت تا قاضي شوم مه آن علم را از جهت ترس نمي آموختم. در دل مې ګفتم نباشد که از کسی رشوت بستانم یا ریایي کنم که به حق کسی نا حقی شود ، از علم فقه در علم سلوك فایده دین بهتر شمردم و از قاضي ګری درویشی بهتر دانستم".

۳- **صراط التوحید**: دا کتاب پیر روښان په ۹۷۸ هـ ق کال په پارسي ژبه لیکلی دی. په دې کتاب کې یې خلکو ته د خیر او هدایت بلنې ورکړې دي.

۴- **خیر البیان**: دا کتاب د پیر روښان په ټولو تصانیفو کې زیات شهرت لري. اخوند در ویزه په مخزن او نورو کتابو کې ډېر ځله د خیر البیان ذکر کړی دی. دولت ، نورو شعراوو او دبستان مذاهب هم د خیر البیان نوم اخیستی دی. په دې ټولو کتابو کې دا خبره یو شان راغلې ده چې خیر البیان په څلورو ژبو عربي، پارسي، هندي او پښتو لیکل شوی دی، یوه ټوټه یې داده: "   ځان ګنهګار ګڼم.

له بد کارونو د محمد ﷺ په امت کې، امید واري مې ستا و
نیکی و رحمت و بخشش وته ده راوبخښه وماته، او زما یارانو
فرمانبردارانو ته، ګناهان. بل مې زړه په قرار شي او ستا کلام
وته وزګار شي".

پیر روښان په پښتو کې د وحدت الوجود د مسا لې لوی مبلغ تیر شوی دی. د واصل، مخلص، میرزا خان او دولت لواڼي غوندې پښتانه شاعران په دې مساله کې په ده پسې تللي دي. د وحدت الوجود مسا له شیخ محي الدین ابن العربي مشهور فیلسوف او متصوف هم پخوا ترده ډېره څېړلې ده مولاتا بلخي، حسن بصري، شیخ عبد القادر جیلاني، جنید بغدادي، ذوالنون مصري، بایزید بسطامي، فرید الدین عطار، شمس تبریزي، سعدي، حافظ، جامي، او داسې نورو اکابرو علماوو او مشایخو هم هر یوه په خپل وار ددې مسالې کلکه طرفداري کړېده، دا یوه نوې مساله نه وه چې پیر روښان مینځ ته را ایستلې وه، بلکې دی ددغه شان ډېرو نورو سترو او منلو عرفاوو پر منهٔ روان و.

(د قیام الدین خادم له تألیف "بایزید روښان" څخه لنډون)

---

**پوښتنې:**

۱. پیر روښان کوم علوم ولوستل؟
۲. خیرالبیان په څو ژبو لیکل شوی کتاب دی؟
۳. پیر روښان په کومو کومو ژبو کې آثار او تصانیف لري؟
دپیر روښان دآثارو نومونه واخلئ!

# له بېوزلو سره مرسته

بني آدم ټول په خپل مینځ کې سره برابر دي او یو د بل له پاره داسې نسبت لري لکه د یوې ماڼۍ د ودانۍ تېږې چې یوه یې له بلې سره لري چې یوه تېږه پر بلې باندې محکمه وي. انسانان په خپل منځ کې له یو بل سره داسې اړیکې لري لکه چې د یوه جسم او بدن غړي چې یې له یو بل سره لري. که یوه غړي ته صدمه ورسېږي ټول وجود پرې اغېزمن کېږي او درد پېږي، نو د یوه انسان له پاره دا خبره لازمه ده که یو مسکین، ضعیف او بېوزلی انسان وویني د هغه په حالت متاثر او ورسره مرسته وکړي. ډاډ ورکړي، د وس په وخت کې یې سوال و مني، ځکه کوم خلك چې سوال کوونکي له ځانه شړي او مرسته ورسره نه کوي پاك خدای ﷻ په دې برخه کې داسې فرمایلي دي:

چې یتیم ته مه په قهر کېږه فقیران مه رټه (اومه یې بې هیلې کوه) او د خپل خدای ﷻ په نعمتونو شکر کوه.

که انسان د زمانې احوالو ته ځیر شي او دخلکو په حالت غور وکړي نو دا خبره به ورته ښکاره او ثابته شي چې نه د زمانې ثروت

او بدایي بقا لري او نه يې فقر او بېوزلیتوب، نه یې عزت او ذلت او نه يې غم او خوشحالي، نه يې زلمیتوب او زوړوالی او...

زه وينم زمانه مختلف دورونه خوري او چورلي. نه د زمانې خپگان او خوشحالي تل پاتې کېږي او نه يې ضعف او بېوزليتوب. په دنيا کې ډېرو پاچاهانو ماڼۍ او لوړ لوړ قصرونه ودان کړل. ليکن زمانې نه هغه قصرونه پرېښوول او نه هغه پاچاهان.

نو د انسان له پاره دا خبره لازمه ده چې د شتمنۍ او بدايۍ په وخت کې د خپلې بېوزلۍ او د زلميتوب او روغتيا په وخت کې خپله ناجوړي او زوړوالی په پام کې ونيسي او په دې ونه غولېږي چې زه به تل شتمن، روغ او زلمی يم، کوم خلك چې ددنيا په اقبال او د خپل ژوند د کارونو په ښه والي او پايښت غولېږي کبر او لويي کوي دا بې فکره خلك دي او کيدای شي په مصيبتونو او راز راز تکليفونو اخته شي او د بد حالۍ په لاس کې به داسې کښيوزي چې هر چا ته به يې د سوال لاس اوږد شي، نو که څوك غواړي چې پاك خدای ﷻ يې د زمانې له ناوړو حوادثو څخه وساتي ښايي تل کار وکړي او خپله انساني وظيفه هم د نورو په مقابل کې ادا کړي

ځکه پاك خدایﷻ له خپل بنده سره د هغو کارونو په کولو کې مرسته کوي چې دی یې د انسان د ښیګڼو له پاره کوي او د پاك خدایﷻ په بې نیازه دربا رکې د هغه کار او عمل نه ضایع کېږي. خاوند تعالی فرمایلي دي چې له خدایﷻ څخه وویرېږئ او احسان کوئ او که تاسو احسان وکړ، نو تاسو به کامیاب شئ خدایﷻ د هغه چا مل دی چې هغه له خپل خدایه ویرېږي او ښه کارونه کوي.

---

پوښتنې او سپارښتنې:

۱. له پورته لوست څخه مو چې کومه نتیجه اخیستې په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.
۲. په ټولنه کې دانسانانو دندې دبېوزلو په مقابل کې څه شی دي؟
۳. د بېوزلۍ له منځه وړلو اساسي لارې کومې دي؟

# نو څه

د غلطې لارې مـل بانــدې نــو څـه
چې لار ورکه شي مزل باندې نو څــه
چــې آواز د بلبــلانو په کــې نــه وي
په دې هسې ګڼ ځنګل باندې نو څه
چې د خولې خوند يې خراب وي له مرضـه
په خوږو شهد و عسل باندې نو څـه
چې دې شپه په کې توده د ژمي نشي
په هغه ښايسته کمپل بانـدې نـو څـه
د جګړې په وخت کې غوڅه چې ونه کـا
د هغې تورې په ځل بانـدې نو څــــه
تورياليي زلمي ځوانان چې په کې نـــه وي
په دا هسې کلک مورچل باندې نو څه
چې سرې په علم و فضل ښايسته نه وي
د ډولي جامې په ځل باندې نوڅـــه
چې جذبات د محبت په منځ کې نـــه وي
په هغه سـاړه محفـل باندې نو څــه
چې آواز يې په قام باندې اثرنه کا
د "مجروح" خواږه غزل باندې نو څه

(سيد شمس الدين مجروح)

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! دپورته شعر مطلب په نثر واړوئ.

# سید جمال الدین افغان

بې حسابه څاڅکي توی په بحرو برشي
له لکونو او کروړونو یو ګوهر شــــــي
رنګ په رنګ ګلان پیدا شي غرو رغو کـــې
په کې یو نیم دلیلی پیکي تــه ورشــي
مرغلــرې ډېــرې وځي لـــه دریـــا بـــه
ځینې ځینې ښکلو پېغلو ته زېـور شـي
په عمرو او رونه بل په یــوه ځـــای وي
څو پیدا په ســرو لمبـو کې ســمندر شي
عالمونه پیـــدا کېــږي بـــې حســــابه
په دنیا کې د څو تنو تاج پـه ســر شــــي
میندې راوړي ډېر زامن ډېر اولادونــــه
یو یادوه یې افلاطون او سکندر شــــي
جوداني قدر یو لعل په کې پیـــدا شـــي
نو رهمــه واړه د تــورو کاڼــو غرشــــي
په هر سره رنګ سرخ رویي نه شي حاصله
هسې نه چې په رنګ سور شي نو سره زرشي
یوه کور کې پیدا کېــږي او لـــوییږي
یو یې ګوره ابـــراهیــم بل یې آذرشــي
فرعونیان د خدایۍ دعــــوا آغاز کړي
یو ماشوم د خدای له لوري مقرر شــي
چې طلسم کاندي مات د سر کشـــانو
ډېر بتان بت پرســتـان زېـرو زبر شــي

کاهنان یې د راتګ خوبونه ویني
ظالمانو ته پیدا د سر خطر شي
لا پیدا په جهان نه وي نه یې نوم وي
زلزله ګډه په کور د ستمګر شي
لوی جهاد له معصیت سره شروع کړي
په دنیا کې غرق فرعون هم یې لښکر شي
څوك چې حق او حقیقت پالي دنیا کې
یوه وخت کې وي موسی بل وخت عمر شي
د اسلام دطوفاني بیړۍ له پاره
لکه نوح لوی کشتیبان قوي لنګر شي
د خلقت له کار خانې نه کله کله
په جهان پیدا یو بل شانې بشر شي
چې رڼا یې په ملکونو کې خپریږي
ټول عالم لره څرګنده لکه لمر شي
د کونړ د لوړو غرونو په لمن کې
نابغه فرزند پیدا د سید صفدر شي
پښتنه مور هسې زوی واخلي په غېږ کې
چې د دهر او جهان نامي پسر شي
ډېر پوهان ورته سر ټیټ په شاګردۍ کړي
ډېر شاهان یې په تعظیم مخې ته ور شي
همېشه یې قدر کېږي په عالم کې
څوك چې لوی په علم وفضل او هنر شي
هسې نوم هسې نشان یې شي په برخه
چې لوی فخر د ملت او خپل ټبر شي

په شاهي لويو قصرو کـــې نه ځائېـــږي
لوی کور غواړي چې اوار دده بستر شي
ټول جهان وربانديې تنګ شي له ناکامه
آو اره لکه نسـيم په بحـــر و بر شـــي
ترکيه، مصرو لندن، فارس و پاريس کې
آرام نه مومي هر لور ته يې سفر شـــي
سر ګردان وي په جهـــان هغـــه ميړونه
چې د ټول عالم غمونه يې په ســر شي
سر يې مه بوله بل نوم ور لـــره بـــويـــه
چې پيدا په کې لوی فکر لکه غـــر شي
نه دی مړ لوی پهلوان ددې جهـــان دی
هغه څوك چې ځمکې تل نه را بهر شي
قيامت نه وي سر را پورته کړي له خاورو
را روان په لور د خپل اصلي مقر[1] شـــي
په رښتيا چې حق په خپل ځای قرار مومي
د پښتون سيد آرام په خپل بستر شـــي
دې تابوت کې د پښتون ډېر خاطرات دي
چې يې ګورم بل عالم مې په نظر شـــي
ددې خـــاورو د ور نمـــاته نظر بـــويه
که دې کله په دې لار باندې ګذر شـــي
ښکاره کېږي کارنامې ډېرې نامدارې
سترګو رتـــه آئينـــه د سکـندر شـــي

[1] مقر: د قرار او اوسيدو ځای.

لوی عظمت، شان اوشوکت راځي خاطرته
لوړ فکرونه، لوړ خیالونه مصور شـــي
په یوه موټي سپېر و خاورو کې ګـــوره
د تمام جهان بهار پټ او مضمر شـــي
هسې شانې هنګامې شـي په کې غلـې
چې غوغاور ځنې جوړه په محشر شي
لوی داستان، لویه قصه لري په زړه کـــې
که ددې خاورې له حاله څوك خبر شـــي
پښتانه به ورنه اخـلي الهـــامونـــــه
تېر دورونه به يې مخکې لرو بر شـــي
دې زيارت کې وينم بل راز تاثيـــرونه
دلته مـه کـوئ واړه واړه ســـوالـونه

(د الفت له غوره اشعارو څخه)

---

سپارښتنې:

- ګرانو زده کوونکو! تاسې هم دعلم او پوهې سمه زده کړه وکړئ د علم او پوهې په قدر پوه شئ. ترڅو په راتلونکي کې دخپل هېواد او خلکو لـه پاره دښه خدمت او کار خادمان شئ.
- ګرانو زده کوونکو! تاسې هم کوښښ وکړئ چې د سيد جمال الدين افغان په شان عالمان شئ.
- زده کوونکي دې پورته نظم په نثر واړوي.

# د سولې ترانه

سوله دې ژوندۍ وي په دنیا کې سوله غواړو موږ

سوله باندې ویاړو موږ

بې سولی ژوندون د مرګ خطر دی هر انســـان لره

امــــــن د جهـــان لره

❋ ❋ ❋

موږه په نړۍ کې غږ د ســولې پورته کـــــړی دی

لاس کې مو نیولي سپین د سولې بیرغونــــه دي

موږ د جنګ جګړې ځنې بیزاریو جګړه نــه غواړو

د بر د جنګ په اور کې سوزیدلي اولســـــونه دي

موږه د اتل افغانســـتان له هســـکو غــرونو نه

دا آواز جـــګ کـړی دی

سوله دې ژوندۍ وي په دنیا کې سوله غواړو موږ

ســوله باندې ویـاړو مـوږ

بې سولې ژوندون د مرګ خطر دی هر انســـان لره

امـــــن د جهـــان لـــره

❁ ❁ ❁

ګرځي مو د ګران هېواد فضا کې خپرې شوې دي

هره خوا کـــوترې ورســره پیغــام دســــــولې دي

دا سپینی کوترې له خوشـۍ نــــه اتڼونـــه کړي

وایي دنیـــــا والـــو ته لاژم دوام دســــولې دی

ناستی د سپین غره په ســپینو څـوکو باندې وایي دا

بیــا دا رنګک غړونــه کړي

سوله دې ژوندۍ وي په دنیا کې سوله غواړو موږ

ســوله باندې ویاړو موږ

بې سولې ژوندون د مرګک خطر دی هر انسان لــره

امــــن د جهـــان لـــره

❁ ❁ ❁

(حافظ)

---

سپارښتنه:

- زده کوونکو ته ښايي چې په خپل منځ کې دسولې په فضا کې یو له بل سره مینه او محبت ولري او په ډېره مینه خپل لوستونه ولولي.

# ښه ځوانان

جهان په دوه توګه انتظام او قیام لري: په علم او توره. که توره نه وي، علم بې قوته دی قوت یې توره ده. د علم څښتن محتاج د تورې د څښتن دی. د تورې څښتن محتاج د علم د څښتن دی.

ښه ځوانان هغه دي چې دواړه توکه ولري. په یوه لاس کې کتاب په بل لاس توره.

(د خوشحال له دستار نامې څخه)

---

سپارښتنې:

- زده کوونکي دې په ټولنه کې د ځوانانو په مسوولیتونو او مکلفیتونو یوه لنډه مقاله ولیکي.
- ښوونکی دې زده کوونکي په وار سره وپوښتي چې د ځوانانو ښې او غوره ځانګړنې کومې دي؟

# ابو علي سینا

نه يې سیال نه يې نظیر شته په جهان کې

بو علي باندې نـــازېـــږي افغـــان ځـکـه

رب ور کړی دې وطـن ته اســـتعداد دی

ترینه زېږي داناو متـــو فرزنـــدان ځـــکه

د مشرق رئیـــس او شـیخ د فلســـفې و

یادوي يې نن د علم دوســــتان ځـــکه

دده فکــــــر و قانــــون شــــفا دپـــاره

په حکمت کې يې مو جز دی بیان ځـکه

چې دده نبض شناســـه ګوتـــې نشـــته

د مرګي له ویرې رګ دی لـــــړزان ځکه

که هر څو ورپسې ګرځې نه يـــې مومـــې

دی ترور او ســـرګـــردانه آســـمان ځکه

ځمکې هسې اولاد ونـه لیـــد تر اوســـه

پسې سر په خیږې ګر ځي حیران ځکــه

که پخوا ځمکه ساکنه ځای پــه ځــای وه

نا قراره یې اوس ویني انســـــان ځـکه

راوتلـی و لـــــه ځـــالـــې د آســـمانه

دده فکر کوي جګ جګ طیران ځـــکه

د پره لـــویه هستي شوه له خاورو لاندې

بلخ دده له غمــه وینمــه وران ځـــکه

(الفت)

---

سپارښتنه:

- زده کـوونکي دې دابـو علـي سـینا د ژونـداو علمـي شخـصیت پـه هکلـه یـوه مقاله ولیکي.

# وهـــم

اې لويـه خدايـه! زمـوږ لـه سترګو نـه  د وهـم پـردې پورتـه کـړې چـې حقايق هغسې ووينو لکه څنګه چې وي او په دې توګه له بد مرغۍ او ګمراهۍ څخه وژغورل شو.

لويه خدايه ته وهم تپ کړې ځکه چې وهم کلـه کلـه د ويـرو هيـنداره شـي. او ډاروونکـې څېـرې پـه کـې ليـدلى کېـږي او کلـه کلـه بيـا بې حقيقته خوشحالي سړى ته ځلوي، وهم په هر حال کې د حقيقت حجاب دى او پر لېمو باندې يوه پرده غوړوي. وهم د ارادې واکمن دى او پر عزم باندې غالب.

له ده څخه شر زېږېږي او خير تښتي، ځکـه نـو وهـم د شـر رابلـونکى او  د خيـر شـړونکى دى. وهـم کمواکـه غښتلـى ښيـي نـژدې ليـرې ايسوي، دامن ځـاى لـه خطره ډك ښکاره کوي او د پنـاه ځـاى د مـرګ خوله ښکاره کوي.

وهم و همېدلي له ځانه بې خبره کوي. او لـه صـحيح حس څخـه يې لېرې بيايي. مو جود يې پـه خيـال کـې معـدوم راځي او معـدوم يې موجود. وهمېدلی په يوه بې حقيقته دنيا کې اوسي او په يوه داسې عالم کې ځان ګڼي چې ليدل يې ناشوني دي، و هميـدلي پـه دغـه خيالي عالم کې د ميرګي نيولي په څېر لوڅې پوڅې کوي. هڅو نـه پوهېږي چې کوم څوك ولاړه څوك راغله. څه راکړه شول. څـه را څخـه يوړل شول. وهم وهميدلی د ګمراهۍ چول تـه غورځوي. پـه ناليـدلو او کړو وړو لارو يې سر کـوي، څو بيخي د مقصد لـوری ځنې ورك کړي.

(د سيد جمال الدين افغان له ارشاداتو څخه)

---

سپارښتنه:

- ښـاغلی ښـوونکی دې د پورتـه درس مطلـب پـه روانـه ژبـه زده کوونکـو تـه وړاندې کړي.

# ښه نيت

هغه څه دی روغ صـورت دی　　چې بهتر تـر سـلطنت دی
د دنيا دولت که ښـه دی　　تـر دولت نـه ښـه عزت دی
چې ډېر ښه دی تر توقيـره　　يو عفـت بل صـداقت دی
چې سړی له غمه خلاص کا　　هغـه څه دی قنـاعت دی
په طاعت که ته لويي کـړې　　حبطـه هغـه طاعـت دی
چې فايده لري بې شـماره　　هغه څه دی مصـلحت دی
په منت چـې ورکـول کا　　هغه کلـه سـخـاوت دی
چې دوزخ دی په دنيـا کې　　د ناپـوه سـره صحبـت دی
خپل نيت ښه لره خوشحاله!　　که څه ښه دی خوښه نيت دی

(خوشحال خان خټک)

سپارښتنې:

- په هر کار کې بايد دپاك نيت خاوندان واوسئ چې په خپلو ورځنيو کارونو کې بريالی واوسئ.
- پورته نصيحتونه په غور ولولئ او بيا يې په نثر وليکئ.
- هر زده کوونکی دې د شعر د يوه يوه بيت مطلب په خپله ژبه څرگند کړي.

# محمد هوتک

د پټې خزانې مـؤلـف محمـد هوتـك د داؤد خـان زوی د قـادر خـان لمسي خپل حال د پټې خزانې پـه خاتمـه کـې داسې کښلي دي: زمـا راتـګ دې نـابودې دنيـا تـه يعنـې تولـد مـې واقـع سـوی او پـه ديـار لسمه درجب المرجب سنه ۱۰۸۴ هجري پـه کـوکران کـې. او سـن تـه د تميز ورسيدم. نومې پلار درس راته شروع کـا. او تـر اتلسمه کالـه د عمـر مـې ولوسـتل احکـام ددیـن او فقـه او اصـول او تفـسير او د فصاحت علوم لکه قافيه او عروض او بيان او معاني او نور.

چې زما پلا رمرحوم وفات شو. او زه په تقاضا د شاه حسين راغلم د قندهار ښار ته تر اوسه په نظر کيميا اثر د پادشاه اسلام ښاديم او هـر کلـه پـه احـسان او مرحمـت ددې خانـدان عـاليـشان سـر بلنـد يـم. عمر مې تيرېږي. پـه لوستلو، کښلو د کتـابونو، لـه نعمتـو د جهـان بله بهره نه لرم او زړه مې هم خوښي نـه کـا، بېلـه دې اشغالو پـه بـل څه په دې او قاتو د عمر مې تير کړل، څو کتابونه مې و کښـل، چې يو له دغو څخه دغه خزانه ده او نور دادي.

يـو كتـاب مـې كښلـى دى، پـه بيـان د علومـو د فـصاحت چـې "خلاصـة الفـصاحت" بالـه سي. او پـه دغـه كتـاب مـې ټول علـوم د فصاحت په پښتو د خپلو طالبانو له پاره خلاصه كړل.

بـل كتـاب مـې كښلـى دى، پـه بيـان د طبابـت او عـلاج چـې "خلاصـة الطـب" يـې نـوم دى پـه سـنه ۱۱۳۹ هجري چې مې دغـه كتاب د پادشاه مخ ته پېش كا، سل طلايې ماته صله كا او هر كله مې داسې مراحم دپادشاه ددې فقير غريب په حق ډېر دي. او اركان د دولـت ابـد مـدت هـم پـردى فقيـر د مرحمـت نظـر كـا. خـاص بيـا بهادرخان عالي مكـان چـې نـن ورځ پـه قندهار د غربـاوو پـر سـر ظل درحمت دى. خالق دي عمر ډېر كا.

ما له يو دېوان د اشعار و هـم شـته، چـې پـه دې وخت كـې مـردف او مدون شوى دى. او غزلونه او قصايد او رباعي لـري، كلـه چـې طبـع قاصره ميل د شعراو وينا كا، شعرونه كـاږم او مـوزو نـان د روزګـار يې خوښوي.

# زور زياتی

څو به خو رې پردي مالونه په ستم
يوه ورځ به دې په نس کې شي اړم

د مظلوم د مال روټۍ خپله بوټۍ خورې
مه شه هېڅ په دا خوراك خوښ وخرم

بې شبهې مارو لړم دی نو رڅه نه دي
پېرودلې په ستم دام او درم

د ستم په دام درم مه هوسېږه
مه کړه خدای مار ولړم دچا همدم

په حرامه دنيا سازمه شه يوکار ستا
چې سل نور در څخه وران کاندي برهم

چې يوه کوډۍ د ظلم په کې ودري
په شوميت يې شهروران شي چم په چم

د ظالم د ودانۍ مخ په ورانۍ دی
دا خبر دی په جهان کې مسلم

دا چې ته آزمويې زور نن په کم زوري
دغه زور به شي سبا در څخه زوم

زمانې دي ډېر زمري هسې خوار کړي
چې وهلای و پيشو ته نشي دم

بڼه کړی دی فلك د باد په مخ کې
لکه غر هسې عالم په زور محکم

چېرې نشي د هــاتي تــر قـدم لاندې
په عاجـــز مچ او مېږي مه ږده قـــدم

هغه مه پسنده په بل باندې انصاف کړه
چې يې نه پسندې په ځان باندې ماتم

چې په خپل صورت اغزی منلای نشـي
بـــل تــه ولــې رســوې د تېـــغ الم

آدمــزاد دی د يـــوې ونــې ښـــاخونه
چېر ته يو ښاخ زعفران شوې نور شړ شم

سبا ورځ به يې لغته په شـــــاوخورې
مه شه نن په يوه سوك و چا ته ګرم

چې سبا دې ژړوي په اوښکو وينـو
نن بايده ده غمخوري د هغه غـــم

د غفلت زخم به ژر دا ستا ناسور شي
چې پرې نه ږدې د نيکخوا د پند مرهم

که امسا يې د موسی بولي وګـــړي
ښايي نن ساعت "حميده" ستا قــلم

(د حميد مومند له ديوانه)

---

سپارښتنه:

- پورته نظم دې ښوونکی زده کوونکو ته بيان کړي.
- زده کوونکي دې دپورته نظم مطلب او نتيجه په خپلو کتابچو کې وليکي.

# د قرآن عظيم الشان قانوني حيثيت

د اوقيانوس اطلس نه نيولی د ګنګا د رود تر غاړې پورې يوازې دانه چې قرآن فقهي قانون پېژندل شوی دی، بلکې داد قانون يوه داسې مجموعه ده چې قضايي رويه، مدني او جزا يي اصول د بشرمالي امور حتی د بنيادم ټول کارونه اداره کوي او دغه ټول امور چې د قرآن عظيم الشان د ثابتو او نه بدلېدونکو احکامو له مخې اداره کېږي، بېشکه چې د خدایﷻ له ارادې نه پيدا شوي دي.

په بل عبارت قرآن عظيم الشان د مسلمانانو عمومي او اساسي قانون دی، داسې چې پرټولو قوانينو شامل دی، عام له دې نه چې ديني وي، که اجتماعي، مدني وي که تجارتي، نظامي وي که قضايي، حياتي وي که جزايي او د بشر دورځنۍ ګذارې نه نيولې ان تر فردي او ټولنيزو حقوقو، فردي او ټولنيزو منافعو پورې، اخلاقيات او جنايات ددې جهان مکافات او مجازات، د هغه جهان تر عذاب او مکافاته پورې ټول په کې ښودلي دي.

(کيبون)

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! دقرآن کريم اصولو ته درناوی خپله ديني او ايماني دنده وبولئ. او په خپل ژوند کې ددغې لويې پانګې څخه ګټه واخلئ.

# په قرآن کې د اسلام مسأله

که څوك غواړي چې د اسلام په بېلابېلو برخو کې ځانته معلومات پيدا کړي. نو قرآن کريم دې په غور او دقت سره مطالعه کړي، ځکه چې په دغه مقدس کتاب کې هغه حقايق په پوره وضاحت او صراحت سره ښودل شوي دي، چې د اسلام عالي مقام او د حضرت محمد ﷺ د شخصيت لوړوالى او دده د روح نهايه تقدس او پاکي ترې څرګند يږي.

(تولستوی)

انسانيت د دوستۍ، وروروليۍ، برابرۍ او آزادۍ غږ دی، چې د حضرت محمد ﷺ له پاك زړه نه راوتلی او اوچت شوی دی.

(کار لايل)

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! دقرآن مجيد تلاوت وکړئ او په ډېر غور سره يې مطالعه وکړي او اصول يې پر ځان او پر خپلې کورنۍ باندې تطبيق کړئ.

# د الفت ځلورېځې

## مسخ کېدل

ښه سړی چې له بدانو سره مـــل شي
دده فکر د هغوی فکر کې حـــل شي
همدغه مسخ کېدل دي په معنا کې
چې يې خوی د کوم حيوان په خوی بدل شـــي

## علم او پوهه

بصيرت او پوهه نشـــته په کتـــاب کې
که څه نه وي د مغزو په پيچ و تاب کې
علم او پوهه بل شی نه دی بينايـــي ده
خوشې ناست يې پټې سترګې په محراب کې

***

پوهه ټولـــــه راوتلـــې لـــه مغـــزو ده
هسې نه چې پـــه دې ډېـــرو کتابو ده
په نظر کې که دقت صحيح سنـــجش وي
علم زېـــږ نـــده د دغســـې کتـــو ده

## همدردي

پتنګ نه دی په ډيوه چې ســـتي نشي
بلبل نه دی چې په ګل فريادي نشـــي
زړه يې مه بوله تورکاڼی د صحرا دی
په ليدو د زخمي زړه چې زخمي نشي

(ګل پاچا الفت)

# د بدانو حال

د هر تخــم اصــل پاك راځــي له پاسه
په باطل يې آلــوده کــانــا ســـپـاســـه
که ګوهر په لاس کې ور کړې بې قيمته
په کسيره به يې بـــدل کـــانا شـــناسه
د انسان په پوست کې خوی د درنده کا
چې غوړ باسـي جــورو جبر لــه خناسه
څه ګيله له بېـګانــه کــوې نــامـراده
چې په خپل خرمن کې اور اېږدي له لاسه
لـــه الله پنـــاه غـــواړه لـــه ګـــمراهه
که له جن څخه درسـي که لــه نــاســـه
اور د بد عمل مېــوه د طــاعــت نور دی
بل باطل فکر فـدوی له زړه وبــاســـه

(د جانان فدوي [1] له دیوان څخه)

---

سپارښت:

- پورته نظم مطلب په نثر واړوئ.

[1] جانان فدوي په (۱۲۸۳) هـ ق کال خپل ديوان ترتيب او تدوين کړی دی.

# غوښتنه

چې يې تا چا ته تېښ نشي ننګيالی زما ژوندون کړه
زړه زمادې مسلمان وي تفکر مې د پښتون کړه

زه له وخته ګيله نه کړم چې ښادي يې له ما يو وړه
خوکاروان مې د همت او استقلال بېرته راستون کړه

په تب جنه زما نه کې، د حالاتو زبيرګی اورم
ته حکمت زما د حضر اندېښنه د افلاطون کړه

خدايه! زيات کړې يو په لسه د پښتو د ليلا حسن
يا زما مينه هم زياته يو په لسه تر مجنون کړه

را عطا لکه د ګل کړې جمعيت په پريشانی کې
چې حاصله ترې خنداوي خوښ مې هغه زړه چاودون کړه

په ګلشن يې کړې بدلې دا زما واړه شډلې
هر يو زړی د ملت مې تيغ په لاس کې را زرغون کړه

زه دې وچ هډوکی شپېلم خو ملت مې دی سلطان وي
دا زما د صحن سيوری په معنا کې همايون کړه

(امير حمزه شينواری)

---

سپارښتنه:

- پورته شعر په خپله ژبه په نثر واړوئ.

# د "شيدا" مرغلرې

چې ممسکان کاسيم وزر جمعه — په صرف يې ژاړي مانند شــمعه
که يې په سيم وي کيسه لـبـريزه — لـه غيـره کانــدي د زرو طـمعه

***

په لږ قانع شه خاطر کـړه جمعـه — ليـــرې له زړه کړه د ډيرو طمعه
چې قناعت يې په سيم ونـــه کړ — سر بريـــده شـــوه په زرو شـــمعه

***

فروتني کړئ سـر بلنـدانـــــو! — بهـره يـونـه وړه خـود پسندانو
تل خميده وي بار ورې څـانــګې — تواضع خوی کړی بهره مـندانـو

***

لويي که مومي زنهار لويي مه کړه — چې مکافات شته جز نيکويـي مه کړه
وابنه په خوله کې د کهکشان نيسي — حال د آسمان وينې فتنــه جويي مه کړه

***

صاحب سـريره بلند اقبـــاله! — غـافل په حال شوې له استقبـاله
درته ضرور دی د تا پــه سـرږو — ترس لـه زوالــه بيـم لـه وبـاله

***

حرکت نه کړې له خپله ځـــايه — له مـاهي زده کړه طلب خود رايه
که پکې مات شي هزار خارونه — پر سينه څکېږي بې دست و پايه

***

مردان هغه دي چې شرم وننګ لري — کشاده چنګ وراى و فرهنـګ لري
په بزم ورزم باندې چې راشـــي — د تـــوتي ژبه زړه د پلنـــګ لري

(د شيدا له ديوانه)

---

❖ دا لاندې بيت معنا او مطلب يې څرګند کړئ.

تل خميده وي بار ورې څـانــګې — تواضع خوی کړی بهره مـندانـو

# شاعر او سوله

هو! زه شاعر يم، د هغه ماشوم په مسكا مين شاعر، چې د مور په تي يې له مسكا ډكه خوله ايښې او د هغې خوږ او مهربانه نظر يې تخنوي.

زما د شعر رنګينه دنيا په مينه او محبت ودانه ده.

زه د جهان په ودانۍ او په كې د رنګا رنګ ګلونو په خندا مين يم.

د انسان خوښي او خوشحالي، نيكمرغي، هوساينه او سوكالي زما د شعر مضمون دی.

زه دهغه چا مقام، په خپلو سندرو كې ډېر اوچت ستايم، چې د انسان له سر نه شر او آفت، كړاو او مصيبت كموي او دا يې هيڅكله په چا نه لوريږي چې جهان خوږوونكي او بېوزلي نيكمرغه كوونكي ماغزه يې د جنګ او جګړې په سوز وونكو لمبو كې په ايرو بدل شي.

څومره چې جهان ښكلی او ښايسته وي، څومره چې د انسان جوړوونكې متې د خپلې نړۍ د ښكلا او د خپل ورور په نيكمرغه كوونكي كار بوختې وي هومره به زما شعر ښايسته او له رنګينو څخه ډك وي. څومره چې د نړۍ پر مخ سوله، امنيت او كرارۍ خپله هوسا كوونكې او له سوكالۍ ډكه لمنه خپره كړې وي هومره به زما د شعر رنګينه نړۍ مسته وي او د هر بيت بېلې بېلې كلمې به د

مصیبت ځپلو خولې له داسې خندا څخه ډکوي چې ازانګې به یې د لمر په نوراني ښار کې خوښي او خوشحالي خپروي.

نو ځکه له عدالت خوښوونکې او سوله دوسته نړۍ څخه د خپل شعر په خوږو جملو کې غوښتنه کوم چې د بشریت ځوروونکي جنګ او نړۍ تباه کوونکې جګړې دتورو لوخړو پلوی تور دیو ګونډه کړي او پرې نه ږدي چې د نړۍ د ورانولو او د ماشومانو په شونډو د ملیح تبسم د وچولو په خاطر لېوني خوبونه ویني.

پرېږدئ چې تل سوله وي او د ورورولۍ او صمیمیت، مینې او محبت نه په ډکه فضا کې د لمر خوشحالوونکې وړانګې د نړۍ پر مخ وځلیږي، پرېږدئ چې انسان د خپلې نیکمرغۍ، د انسان د هوساینې او سوکالۍ له پاره خپله نړۍ نوره هم ښکلې او ښایسته کړي او زما د شعر عندلیب په کې د سولې او دوستۍ سندره د ستورو روښانې نړۍ ته ورسوي.

(قتیل خوږیانی)

---

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې د پورتنې درس مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکي.

سپارښتنې:
ګران زده کوونکي دې په وار سره د پورتنې درس په اړه خبرې وکړي اودا دې څرګنده کړې چې موږ ته څه راښي او څه باید وکړو.

# ســـــبا

هغه ورځ چې تر اوسه يې نه د لمر وړانګې د غرونو په سرو لوېدلې دي او نه يې د پېښو او واقعاتو مطلع چاته معلومه ده د سبا په نامه يادېږي.

دا ورځ لکه يوه پټه معشوقه له هر چانه پټه ده او د سحر نسيم يې هم له مخه پړونى نه دى ليرې کړى.

دا ورځ له دغه مجهوليت او معماتوب سره د هر چا په زړه کې محبوبيت لري او هر څوك ورته په اميد ګوري. د هر چا کار اوزيار د سبا ورځې د ښه والي له پاره دى او د نن ورځې د عمل نتيجه د سبا ورځې په لمن کې لټوي.

هر څوك هيله لري چې د نن ورځې زحمت به د سبا ورځې په راحت بدل شي او سبا به له نن نه ښه وي په همدغه سره د ژوندانه مشقت سپکېږي او د اميد مزې غځېږي.

چا چې نن د خوښۍ او خوشحالۍ ډولۍ کاله ته راوړېده هغه يقين لري چې سبا ته به د زوى پلار شي او له دغې خوشحالۍ نه به بله خوشحالي پيدا شي.

د ژوندانه ټول خوږوالى په همدغه شي کې پټ دى. که دغسې سبا ته څه امېدونه لرو د ژوندانه تحمل هېڅکله نشو کولى. مځکه او

آسمان په همدغې ورځې پسې سر په ځېرېدو سرګردانه ګرځي او د اتیاکالو بوډا هم له دغې ورځې نه نا امیده نه دی.

که د سبا ورځې مینه زموږ له زړونو نه ووځي موږ بیا ژوند نشو کولی، ځکه چې زړونه سړېږي او آرزو ګانې مري. که موږ له سبا سره خپل تعلقات قطع کړو، ډېر تاوان به وکړو او خپل ژوند به فاني وګڼو.

زموږ نظر به بیا لیرې ځارنه کوي او ډېر لنډ به ګوري. په دغسې حالکې موږ بیا اوږده فکرونه نشو کولی او د مریخ سفر رانه پاته کېږي.

د سبا ورځې فکر زموږ په اخلاقي ژوند کې هم ډېره اغېزه لري او د بشر هر راز مادي او معنوي ترقیات ور پورې تړلي دي. دهقان د همدغې ورځې دپاره کر کوي او باغوان په باغ کې نیالګی ږدي.

د خرما زړی په مځکه کې کرل او د خر ما له ونو نه خرما ټولول د هغو کسانو کار دی چې سبا ته امېدونه لري او د نن ورځې تنګه دایره کې ایسار نه دي.

څومره چې د انسان ذهن او د ماغ ترقي کړې ده، په هره اندازه چې انسان لوی شوی او پوه شویدی، هغومره یې له سبا سره تعلق زیات شویدی، د سبا ورځې غم خوړل، د سبا دپاره فکر کول دي. د سبا

ورځې ضرورت او احتیاج په نظر کې نیول د ډېرو پوهانو او د ډېرو لویانو کار دی.

زه لوی او کوچنی په همدې پېژنم چې یو ډېر لیرې ګوري او بل ډېر نژدې ګوري.

د یوه سبا هم ډېر لیرې او د بل لنډ دی.

د مسلمان سبا پس له مرګه هم شته. دده نظر باید ډېر لیرې ځارو کړي او ابدي ژوند په نظر کې ونیسي. ابدي ژوند همدغه دی چې سړی له سبانه غافل نه وي او د سبا اندېښنه ورسره وي.

نن او سبا هغه دوه مېلمانه دي چې یوځي او بل راځي موږ له یوه سره وداع کوو او د بل په خدمت مشغولېږو، زموږ خدمت باید د سبا ورځې له پاره وي او خپله آینده په نظرکې ونیسو د عقل او دور اندېشۍ تقاضا هم دغه ده.

(له غوره نثرونو څخه)

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! پورته ادبي نثر په ډېر غور سره ولولئ او وروسته تاسوهم د سبا په هکله څو کرښې ولیکئ چې هم پیغام او هم ادبي بڼه ولري او بیا یې د خپلو ټولګیوالو په مخکې ولولئ.

# د بیان برخه

## د بیان علم

بیان په لغت کې ایضاح او څرګندولوته وایي او په اصطلاح کې هغه پوهنه ده چې د هغې په ذریعه کولی شو چې یو مضمون په مختلفو عباراتو کې بیان کړو او په مختلفو قالبونو کې یې واچوو. مثلاً که موږ وغواړو چې د زلمي زړه ورتیا بیان کړو نو په دې لاندې بېلو عباراتو کې دا مطلب څرګندولی شو:

۱- زلمی د زمري په شان زړه ور دی.

۲- زلمی په زړه ورتوب کې زمری دی.

۳- زلمی زمری دی.

۴- زلمي د زمری، شیدې رودلې دي.

۵- د زلمي په سینه کې د زمري زړه پروت دی.

د بیان علم له درېو شیانو څخه بحث او څېړنه کوي: تشبیه، مجاز او کنایه.

## تشبیه

که یوشی له بل شي سره د هغه مشترك وصف په وجه، چې د دوی ترمنځ پروت دی مشابه شي، تشبیه بلل کېږي، لکه په دې بیت کې:

د خپل عمر شپې او ورځې چې په زړه کړم　　　　هسې درومي چې ګویا د سیند اوبــه دي

په پورتني بيت کې عمر مشبه او د سيند اوبه مشبه به بلل کېږي تېرېده د دوی په منځ کې يو مشترك وصف دی چې شاعر په همدغه وجه خپل عمرد سيند له اوبو سره تشبيه کړی دی.

**د تشبيه نو رمثالونه دا دي:**

سرې سرې اوښکې دې پرمخ عبد القادره — و خپل يارته د ياقوتو مهـــماني ده

چې پرمخ دې کړه خواره د زلفو ولونــه — زړونه زانګي په هر تـار لکــه ګلونه

نن شيدا له ځـــانه سـيردی لکه شمع — ستا محفل ته يې بې سره ګردن راوړ

دازما له غمه شين زړه په کې خيال د يار د شونډو

هسې رنګ زيب و زينت کا لکه مې په شنه پياله کې

دا هلال دی چې ليده شي په شفق کې — که په لاس د ګل اندامې سپين وښی دی

لکه بت چې په رڼو سترګـو بيده وي — هسې زه په بيدارۍ کې وړی خواب يم

د دنيا د مال په تللـو د لګـــير مشـــه

مات اغزي دې لــه پښو خيژي زهير مشه

# د تشبیه غرض

د تشبیه غرض اکثره مشبه ته راجع کېږي. کله تشبیه څخه غرض د مشبه د حال بیان وي. ځینې وخت یې مقدار، ښکلا، ښه والی، بدوالی یا داسې نورې خواوې په نظر کې نیول کېږي. مثلاً په دې بیتونو کې د تشبیه غرض د مشبه د حال بیان دی.

لکه ونبلي مرغۍ په سست دام د سلولومو　　هسې زه پریشانو زلفو کې یستم په کشاله کې
هسې کار په ما د ترکــوخنــدا وکړ　　لکه ووژني یو بل پــه مســـخرو کې
د میزان په شان مې علم په پاسنــګ دی　　هېڅ خبرنــه یم له خپــله بیش و کمه

او په دې بیتونو کې د مشبه مقدار بیان شوی دی:

څو به شمېرم زه غمــونــه د هجـران　　هومره ډېر دي لکـه رېګ د بیـابان
دا باران نه دی چې اوري له آســـمانه　　د مرغانو په رحمان باندې ژړا شوه
سترې کېږي مین زړه په فریاد کلـــه　　لکه دود هسې د اور په لمبه سپورځــي

په دې تشبیه ګانو کې د تشبیه غرض د مشبه ښکلاو ښایست دی:

دا زما د قاتل لاس دی نه پــوهېږم　　کـه تر باغ وتلی شاخ دی د ســروګـلو
زرغونو مځکوکی ځل کا لکه ستــوري　　چې پر هسك باندې ځلېږي سپین ګلونه
په سپین مخ یې د عرق دانه لیـده شي　　د ســـحر په وخت کې سترګه د صبـا ده

# د تشبیه خواوې

تشبیه دوې خواوې لري چې یوې خواته مشبه او بلې خواته یې مشبه به وایي. تشبیه د خواوو په لحاظ پر دریو برخو ویشله کېږي:

الف: مرکبه او مفرده تشبیه: د تشبیه یوه خوا مرکبه او بله خوا مفرده وي یا دا چې دواړه خواوې مرکبې یا مفردې وي، نو ځکه په دې برخه کې څلور ډوله تشبیه راځي:

۱- چې مشبه مرکب او مشبه به مفرد وي لکه کاظم خان شیدا چې وایي:

ښه اټکل دی شیدا وکړ نشته ځای د فریاد چاته

لکه شمع پټه خوله ځه په ژړا له دې محفله

په پورتني بیت کې شاعر په داسې حال کې چې پټه خوله په ژړا له محفله څخه ځي یو ترکیبي حال لري او مشبه دی- خو شمع چې مشبه به ده مفرد واقع شوې ده. حمید ماشوخېل وایي:

د یا رغم را سره څه وایم چې څه کړې    تل مې ویني د زړه روې (۱) لکه روې (۲)

د یار غم په داسې حال کې چې د مین د زړه وینې روي یو ترکیبي حال لري او مشبه دی، مګر روې چې مشبه به راغلی دی مفرد دی.

۲- چې مشبه مفرد او مشبه به مرکب وي:

هغه زړه به له طوفانه په امان وي

چې کشتۍ غوندې د خلکو باربردار شي

په پورته بیت کې زړه مشبه او مفرده کلمه راغلې ده، په داسې حال کې چې کشتۍ د خلکو باربرداري او له طوفان څخه په امان کېدل بېل بېل حالتونه لري چې مرکبه راغلې، یعنې مفرده تشبیه له مرکبې تشبې سره.

۳- چې مشبه او مشبه به دواړه مرکب وي لکه پیر محمد کاکړ چې وایي:

رنګ د مخ دې په عرق کې نمایان دی — د ګل عکس څرګندېږي په شبنم کې

په پورتني بیت کې د مخ رنګ په عرق کې مشبه او د ګل عکس په شبنم کې مشبه به دی او دواړه مرکب دي په دې لاندې بیتونو کې مشبه او مشبه به دواړه مرکب راغلي دي:

بوی په زلفو کې زما ګلبدن راوړ — که په دام کې یې آهو د ختن راوړ

تورې زلفې دي په سپینو لېچوزانګي — ښاماران دي د چندنو په شاخونه

۴- چې مشبه او مشبه به دواړه مفرد وي، لکه په دې بیتونو کې:

عاشقان یې د دنیا له غمه خلاص کړه — عاشقي د سلیمان پاچا غمی دی

ښه چې زړه مې مسافرشو ستا په لوري — عقیق لاشي قیمتي چې وطن پرېږدي

د یار غم مې لکه تاج دی په سرایښی — نورغمونه مې همه لاندې تر پښو دي

په پورتنیو بیتونوکې عاشقي، زړه او د یار غم مشبه او د سلیمان پاچا غمې، عقیق او تاج مشبه به دي چې ټول مفرد راغلي دي.

ب- عقلي او حسي تشبیه: عقلي تشبیه هغه ده چې د عقل په وسیله سړی پرې وپوهېږي، او حسي تشبیه هغه تشبیه ده چې د حواسو په وسیله یې پېژندنه کېږي یا په بل عبارت که مشبه یا مشبه به خارجي وجود ولري حسي او که نه وي عقلي بلل کېږي.

پیر محمد کاکړ وایي:

نصیحت پر سنګدلانو اثر نه کړي — بیهوده پیر محمد دروهي په سنګ

په پورتني بيت کې (نصيحت) مشبه او (در) مشبه به دی نصيحت کوم خارجي وجود نه لري او دَريې لري، نو ځکه موږ وايو چې په دې تشبيه کې مشبه عقلي او مشبه به حسي دي.

په عقلي او حسي تشبيه کې کله يوه خوا عقلي او بله خوا حسي وي او کله بيا دواړه خواوې عقلي يا حسي وي، نو ځکه په دې برخه کې هم څلور ډوله تشبيه راځي:

۱- چې مشبه عقلي او مشبه به حسي وي، لکه عبدالقادر چې وايي:

خيال يې چې په زړه کې د رخسار ساتم همېش
ننه په ګوګل کې ګويا نارساتم همېش

په پورتني بيت کې (خيال) مشبه او عقلي دی او نار مشبه به او حسي دی نورمثالونه يې دادي:

عشق عاشق لره يو هسې ګلستان دی — چې وباغ وته يې لار د خزان نشـــته
سعادت به لکه سيوری در ســـره وي — که په زړه کې دې څراغ د علم بل وي

۲- چې مشبه حسي او مشبه به عقلي وي، لکه ميرزا خان چې وايي:

مقصود يو دی په کعبه په بتخانه کې — که سپين مخ د يار اسلام زلفې کفار هم

په پورتني بيت کې (مخ) مشبه او حسي دی (اسلام) مشبه به او عقلي دی. پير محمد کاکړ وايي:

عمر به مې کم شي که يو تار ورځنې وخوت — ډېره يې په زلفو ډمې مه وهه شـانه
چې مې يار په ستر ګو وليد ماګـمـان کـړ — چې هم دا ساعت مې بيا مونده ژوندون

په پورتنیو بیتونو کې (زلفې) او (یار) مشبه او دواړه حسي دي (عمر) او (ژوندون) چې مشبه به دي دواړه عقلي راغلي دي.

۳- چې مشبه او مشبه به دواړه عقلي وي، لکه:

ښه لیده لکه آواز د روح خوراك دی ‌ ‌ ‌ ځکه هیڅوك ماړه نشو په لیدو
هم هغه ساعت مې روح له تنه کوچ کا ‌ ‌ ‌ که خالي مې ستا له خیاله خپل ضمیر کړ
نا پوهي ده لکه مرګ ځان ځنې ژغوره ‌ ‌ ‌ مرګ ته هیڅ سړی په خوښه غاړه نږدي

ښه لیده، د یار خیال او نا پوهي مشبه او آواز، روح او مرګ مشبه به راغلي دي چې ټول عقلي دي او کوم خارجي وجود نه لري.

۴- چې مشبه او مشبه به دواړه حسي وي، لکه رحمان بابا چې وایي:

لکه ګل چې څوك د طفل په لاس ورکا ‌ ‌ ‌ هسې رنګ دې زما زړه کړ شوك په شوك

زړه مشبه او ګل مشبه به دی چې دواړه حسي دي.

په دې لاندې بیتونو کې هم مشبه او مشبه به دواړه حسي راغلي دي:

محبوبا پر بستر واوښته له خوبه ‌ ‌ ‌ که هوسۍ وه د بهار په ګلو رغښته
د خونریز په وخت دی زړه وي هغه کاڼی ‌ ‌ ‌ چې جلات باندې د قتل خنجر تیز کا
ژوندی ځان په ځمکه خښ کـه لکه تخم ‌ ‌ ‌ که لویي غواړې د خاورو په مقام شه

ج: د تعدد په اعتبار د دواړو خواوو ډولونه:

د تعدد په اعتبار هم دتشبیه دواړه خواوې پر څلورو ډولونو باندې ویشل کېږي: ملفوفه، مفروقه، تسویه او جمع.

۱- ملفوفه: ملفوقه تشبیه هغې تشبیه ته وایي چې لومړی څو مشبه ذکر شي او وروسته بیا د هر مشبه له پاره مشبه به راوړل شي لکه علي خان چې وایي:

توري زلفې سپین رخسار ور ځخه غواړم ځکه خدای ته لاس په شام و سحر نیسم

په پورتني بیت کې لومړی توري زلفې او سپین رخسار چې دواړه مشبه دي ذکر شوي دي. او وروسته بیا د زلفو له پاره مشبه به (شام) او د (رخسار) له پاره مشبه به سحر راوړل شوي دي.

میرزا حنان په دې ډول تشبیه کې یو ښه غزل لري، چې موږ یې دلته دده له دیوان ځخه را نقلوو:

دا ځه زلفې، ځه رخسار او ځه ذقـــن دی ځه سنبل او ځه ګلاب ځه نسترن دی

دا ځه مخ دی دا ځه زلفې دا ځه خط دی ځه لالـــه ځه بنفشـــه ځـه یاسمن دی

دا ځه خال دا ځه جبین دا ځه تمکــین دی ځه پاچا اودا ځه تخت ځه نشـــتن دی

دا ځه قد دی دا ځه سترګې دا ځه مخ دی دا ځه سـرو ځه نرګـس دا ځه ګلشــن دی

ځه سبزه دا ځه ګلاب دی ځه غنچه ده دا ځه خـط دی ځه عذار دا ځه دهن دی

ځه مژګان دي ځه ابرو دی ځه کاته دي داځه غشي ځه لینده دا ځـه زدن دی

دا ځه یار دا ځه اغیار دا ځه حنان دی

داځه ګل دا ځه بلبل دا ځه زغـن دی

۲- مفروقـه: کـه پـه یـو بیت یا یـوه مـصرع کې ځومـشبه او مـشبه به ځنګ په ځنګ راوړل شي مفروقه تشبیه بلل کېږي، میرزا حنان وایي:

تن دې سیم، غاښونه دُرلبان دې لعل چو کیدار دا ستا د مخ پر خزانه یم

عبد القادر خان خټك وايي:

شونډې دې یاقوت دي مرغلرې سپین غاښونه سر تر پایه درست د پاچاهانو خزانه یې

رحمان بابا وايي:

مخ دې اور خط دې سبزه ده زه حيران يم چې سبزه په اور کې څنګه زرغونېږي

دا پرمخ يې خال و خط او زلفې نه دي تور اطلس يې پر کعبه دی غوړولی

۳. **تسويه:** تسويه هغې تشبيه ته وايي چې د يوې مشبه له پاره يوه مشبه به، د دوو مشبه له پاره دوه مشبه به او په همدې ډول د طرفينو ترمنځ توازن موجود وي، لکه په لاندې بيتونو کې.

دا هلال دی چې ليده شي په شفق کې که په لاس د ګل اندامې سپين وښی دی

د خپل عمر شپې او ورځې چې را ياد کړم هسې درومي چې ګويا د سيند اوبه دي

٤- جمع په دې ډول تشبيه کې د يوې مشبه له پاره څو مشبه به راوړل کېږي، لکه رحمان بابا چې وايي:

هغه سترګې چې نرګس وهم بادام دي تيرې توري دي زما په قتلولو

(سترګې) مشبه دي او درې مشبه به (نرګس، بادام او تيرې تورې) ورته راوړل شوي دي.

رحمان بابا په دې ډول تشبيه کې يوه خوندور غزل لري چې يو څو بيتونه يې دا دي:

مخ د یار شمس و قمر درې واړه یو دي　　قد و سرو صنوبر درې واړه یودي

حاجت نه لرم د شهد و په شکرو　　لب د یار شهدو شکر درې واړه یو دي

چې غبار یې د کوڅې را باندې راشي　　دا غبار مشك و عنبر درې واړه یو دي

په سبب د ظالمانو حاکمانو　　کوراوګور او پیښور درې واړه یو دي

(رحمان بابا)

یا بر عکس چې د څو مشبه له پاره یوه مشبه به وي، لکه:

دا پرمخ یې خال و خط زلفې نه دي　　تور اطلس یې پر کعبه دی غوړولی

په دې بیت کې خط، خال او زلفې درې واړه مشبه او تور اطلس مشبه به راغلی دی.

# د تشبیه ادات

هغه توري چې پرتشبیه باندې دلالت کوي د تشبیه ادات بلل کېږي لکه د (څېر) او (دود) توري چې په دې لاندې بیتونو کې راغلي دي:

یوه ورځ به بندیوان د باز په څېر شي — چې دې شپه او ورځ خوراك شوه د قام غوښه
چې د خیال په لاس کې تن د دلبر نیسم — د هلك په دود په لاس کې قمر نیسم

په پښتو کې د تشبیه مشهورادات دا دي: لکه، څېر، دود، شان، غوندې، ته به وایې، ته وا، سیال، مثالونه یې په لاندې ډول په ترتیب سره وګورئ:

ستا له غمه په ځان زړه د رحمان سوځي — لکه شمع په زیارت د شهیدانو
د هندارو په څېر غرونه سپین وړنګن دي — چې په واورو باندې ځل وکا لمرونه
د شبنم په دود مې اوښکې په شپه اوري — چې رایاد ښکلی جمال د ګلبدن کړم
چې نا اهلو ته د اهل وینا وایم — زه حمید به دمنصور په شان په دار شم
د مخ آب مې چې په سوال سره توی نشو — پوشیده په صدف دُر غوندې آبدار یم
دلاله غوندې مې داغ د بدن جز دی — درته چاوې چې زما د درد دوا کړه
ته به وایې چې غنچه په نمو راغله — پس له خوا به چې غځېږي ګل اندامه
ته به وایې په ګلابو شبنم پریوت — چې له قهره یې خولې شي رخسارونه
هر پلو د ګلوورېم دی لونلی — ته وا راغله له ختنه کاروانو نه
چې نه خط لري نه خال او نه سرې شونډې — څوك به څه وایي چې لمر د اشنا سیال دی

تشبیه د اداتو په اعتبار دوه ډوله ده: یوې ته مرسله او بلې ته مؤکده تشبیه وایي.

- مرسله تشبیه هغه ده چې ادات په کې ذکر شوي وي، لکه په پورتنیو مثالونو کې.
- مؤکده تشبیه هغه ده چې په هغې کې ادات نه وي راغلي او دا ډول تشبیه درې ډوله راځي. یو دا چې صرف ادات په کې نه وي راغلي دې ډول تشبیه ته موکد محض تشبیه وایي، لکه:

رنګ د مخ یې په عرق کې نمایان دی

د ګل عکس څرګند پرې په شبنم کې

دوهم ډول یې اضافي مؤکده تشبیه ده چې اضافي ترکیب لري، لکه د رحمان بابا په لاندې بیتونو کې:

| | |
|---|---|
| خدای وماوته ګلونه د جنت کړل | که داغونه مې په زړه باندې صنم ږدي |
| ترخې اوښکې د عاشق آب و نمك دی | خدای دې نه کا څوك بې آب و بې نمکه |

په پورتنیو بیتونو کې د زړه داغونه، عاشق ترخې اوښکې، او د محبوب درګاه مشبه او د جنت ګلونه، آب او نمك مشبه بهِ راغلي

دي چې ادات نه دي ورسره ذکر شوي. او بل دا چې سر بېره پر دې چې ادات نه وي راغلي مشبه مضاف اليه او مشبه به مضاف واقع شوي وي.

لکه په دې بيتونو کې:

وناوك ته د مژګانو دې هدف کړم    په سينه مې د زخمونو حساب نشته
ستا د خيال مېلمه مې ناست دی په ګوګل کې    تل مې خوري د زړه د غوښو کبابونه
که رحمان د عاشقۍ په تيغ شهيد شي    د جنت حورې همه واړه دلې دي

په پورتنيو بيتونو کې مژګان، خيال او عاشقي مشبه ناوك، او تيغ مشبه به راغلي دي. سر بېره پر دې چې ادات نه دي په کې راغلي په دې ټولو تشبيهاتو کې مشبه مضاف اليه او مشبه به مضاف واقع شوي دي.

دريم ډول يې توصفي مؤکده تشبيه ده چې مشبه او مشبه به صفت او موصوف راشي لکه: ګل بدن، ګل اندام، شکرلب، سمبل مو، سرو قد، او نور.

# مجاز

مجاز په لغت کې اجازه ورکړ شوي ته وايي او د زړورتوب او تجاوز کولو په معنا هم راغلی دی. د بيان د پوهانو په اصطلاح کې يو لغت چې د خپلې اصلي او حقيقي معنا څخه تجاوز وکړي، د يوې غير وضعي معنا له پاره راوړل شي مجاز بلل کېږي. د مثال په توګه که موږ زلمي ته خطاب وکړو چې زمريه دلته راشه. په دې جمله کې (زمری ) داسې کلمه ده چې اصلاً د زمري له پاره چې په زړه ورتوب کې شهرت لري وضع شوې ده، نه د زلمي له پاره، نو دا چې موږ دا کلمه د زلمي دپاره راوړو مجاز باله شي.

هر کله چې موږ کوم لفظ دمجازي معنا له پاره راوړو، بايد د حقيقي او مجازي معنا تر منځ هرو مرو کومه علاقه او نسبت موجود وي، که نه وي نو د هغه لفظ استعمال په مجازي معنا سره غلط دی، ځکه چې زمری او زلمی يو له بله سره د زړه ورتيا نسبت لري او دا د دوی يو مشترك وصف دی. له دې امله موږ د مخه زلمي ته د زمري خطاب وکړ او که سړی مثلاً ګل ته د زمري يا زلفو ته د لمر خطاب وکړي څرنګه چې د دوی په منځ کې کومه علاقه او نسبت وجود نلري، نو دلته مجاز غلط دی.

مجاز پر دوه ډوله ويشل کېږي: يوډول مستعار او بل ډول مرسل مجاز بولي. که چېرې د حقيقی او مجازي معنا په منځ کې د تشبيه علاقه موجوده وي مستعار مجاز يا استعاره ورته وايي، لکه سترګوته چې نرګس يا باڼو ګانو ته چې غشي وويل شي او که د دوی په منځ کې د تشبيه علاقه نه وي او د سببيت، مسببيت،

ظرفيت، مظروفيت يا داسې نورې علاقې موجودې وي نو مرسل مجاز بلل کېږي.

## ۱- استعاره ( مستعار مجاز )

استعاره په لغت کې عاريت غوښتلو او په اصطلاح کې د غير حقيقی معنا له پاره د کوم لفظ استعمالولو ته وايي په دې شرط چې حقيقي او مجازي معنا تر منځ د تشبيه علاقه موجوده وي.

## د تشبيه او استعارې توپيرونه:

**په لاندې بيتونو کې د تشبيې او استعارې بېلګې په غور سره وګورئ:**

د پرکار په دود پر سر باندې څر خېږم | د اشنا له هجره هسې سرګردان شوم
د يار خيال چې راولي د زړه ترکـوره | په قدم کې يې ګوهر له سترګو توی کړه

په لومړي بيت کې شاعر خپل ځان له پر کار سره تشبيه کړی دی، نو ځکه شاعر مشبه او پر کار مشبه به دی سرګردانی چې د شاعر او پرکار په منځ کې يو مشترك وصف دی وجه شبه بلل کېږي. د( دود) کلمه چې د هغې په واسطه تشبيه راغلې ده دتشبيه توری (ادات) بلل کېږي. په دويم بيت کې ګوهر د اوښکو له پاره استعاره شوی دی. يعنی شاعر د خپل بيت په دويمه مصرع کې ګوهر) ذکر کړی دی مطلب يې اوښکې دي په دې ځای کې (ګوهر) مستعار منهُ او (اوښکې) چې په نوموړي بيت کې يې ذکر نه دی راغلی مستعار له بلل کېږي.

د ګوهر او اوښکو تر منځ ارزښت او ښکلا يو مشترك وصف دی يعنې هغه قيمت اوښکلا چې ګوهر يې لري. د مين هغه اوښکې

چې دیار په قدمونو کې یې تویوي هم یې لري دغه مشترك وصف چې په تشبیه کې وجه شبه ده په استعاره کې وجه جامع بلل کېږي.

شاعر په دویمه مصرع کې وایي چې (ګوهر له سترګو توی کړه) په دې ځای کې (له سترګو څخه تویول) یوه قرینه ده چې ددغې قرینې له مخې له ګوهر څخه اوښکې مرادېږي، ځکه چې که دا قرینه نه وي ذکر شوی نو ګوهر پر خپلې حقیقي معنا (جواهرو) باندې دلالت کوي نه پر اوښکو باندې.

او س نو باید وویل شي چې د تشبیه او استعارې توپیر په دې لاندنیو موادو سره کېږي:

(۱)په تشبیه کې مشبه او مشبه به دواړه باید ذکر شي او په استعاره کې یوازې مستعارمنهُ (مشبه به) یا مستعار لهُ (مشبه) ذکر کېږي. او که مستعار لهُ (مشبه) راوړل شي نو د مستعار منهُ د لوازمو څخه هم یو شی باید راوړل شي. او که مستعار منهُ ذکر شي د مستعار لهُ له لوازمو څخه باید یو شی راوړل شي.
(۲)په تشبیه کې د مشبه او مشبه به په منځ کې مشترك وصف ته وجه شبه وایي او په استعاره کې یې وجه جامع بولي. په تشبیه کې کله، کله وجه شبه او ادات راوړل کېږي خو په استعاره کې وجه جامع نه راوړل کېږي او ادات بیخي وجود نه لري.
(۳)په تشبیه کې د قرینې راوړلو ته اړتیا نشته او په استعاره کې قرینه باید هرو مرو راوړل شي.
استعاره ډېر ډولونه لري. یوځو ډولونه یې په لاندې توګه دلته بیانوو:

## مصرحه استعاره:

مصرحه استعاره هغې استعارې ته وايي چې مستعار لهُ حذف شي او يوازې مستعارمنهُ راوړل شي. دا ډول استعاره په پښتو کې خورا ډېره راځي. خوشحال خان خټک وايي:

د نور چا په ما څه کار دی زه پرې خوښ يم　　　که مې دل و دين همه واړه بتان وړي

په پورتني بيت کې (بتان) مستعار منهُ دی او (ښکلی) مستعار لهُ دی چې دلته نه دی ذکر شوی. کاظم خان شيدا وايي:

خپلې تورې دې په چا دي نن ســرې کړي　　　چې ليده شي بيا په سرو وينو ککړې

له (تورو) څخه موخه سترګې دي، نو ځکه (توري) مستعار مِنهُ او (سترګې) مستعارلهُ دي چې نه دي ذکر شوی په دې لاندې بيتونو کې هم مستعارلهُ حذف شوی دی او يوازې مستعار مِنهُ ذکر شوی دی.

د پسرلي ښکلونکي بيا کړه سينګارونه　　　بيـــا يې ولونل په غرونو کې لالونه
څو يې ويني د خــپل ځان خون بهانښې　　　د ګلرخ پـــــه تېره تيغ به آشنا نشي
درېده مې ګريبان سترګې خونبـــارې　　　په ما وکړې خپل آفتاب دسحر چارې

## مکنيه استعاره:

هغې استعارې ته وايي چې شاعر مستعار لهُ ذکر کړي او مستعارمنهُ حذف کړی، خو د مستعارمنهُ له متعلقاتو څخه کوم شی راوړي، ځکه چې په دې ډول استعاره کې مستعار منهُ له خپلو متعلقاتو څخه پېژندل کېږي. رحمان بابا وايي:

هر ساعت زما د غوږ په تـــاوولو　　　د فلك لاسونه شنه شوه تر څنګلو

په پورتني بيت کې فلك د ظالم سړي له پاره استعاره شوی دی. يعني مستعارلهُ (فلك) او مستعار منهُ ظالم (سړی). لاس چې د مستعار منه (سړی) له متعلقاتو څخه شمېرل کېږي دا يې څرګندونه کړه چې مستعارمنهُ (سړی) دی.

کاظم خان شيدا وايي:

د جبين تر شي يې نښه د خامۍ ده　　　چې کباب وخوري په زړه تېره سيخونه

(کباب) مستعارلهُ او (سړی) مستعار منهُ دی. سړی ځکه مستعار منهُ دی چې (زړه) او (جبين) چې د سړي له متعلقاتو څخه شمېرل کېږي، ذکر شوي دي.

رحمان بابا وايي:

عشق يو هسې رنګ افسون په عالم پوکړ　　　چې عاشق په تورو سترګو نا بينا دی

په دې بيت کې مستعارلهُ (عشق) او مستعار منهُ (افسونګر) دی. ځکه چې (افسون) د افسونګر له متعلقاتو څخه شمېرل کېږي چې په پورتني بيت کې له مستعارلهُ سره ذکر شوی دی. د مکنيې استعارې نور مثالونه دا دي:

ورخساروته يې لاس غزوي زلفې　　　تماشا ددې چمن کا ګلچيني هم
يار بيرحم زه بې بخته طالع شوم دی　　　لاهنوز د کج فلك راسره کين دی

## اصليه استعاره:

هغې استعارې ته وايي چې شاعر په خپل کلام کې کوم جامد اسم استعاره کړي، لکه په دې لاندې بيتونو کې چې سنبل، تېغ، مرغلرې او تور نرګس استعاره شوي دي:

چې سنبل يې غوړوي پرمخ پوهېږم　　　اور د عشق به مې تازه د سبا باد کا
د هغه خونې څه باك د چا له مرګه　　　چې په تېغ يې جوړې شوې منارې دي
رانښکاره يې نکړه هېڅ دلبو لعل　　　تويوم که له چشمانو مرغلرې

ما ديار د مخ په باغ کې دي ليدلی
چاوی دا چې تور نرګس مونډلی نشي

**تبعیه استعاره:**

هغې استعارې ته وايي چې د مستعار لفظ جامد اسم نه وي په کې راغلی، بلکې فعل يا مشتق اسم په کې استعاره شوی وي، لکه ښکارندوی چې وايي:

هر پلو رڼې ولې بهاندې خاندي     له خوښیه سروهي په سنګرونه

په پورتني بيت کې (خاندي) فعل دی چې د اوبو د شرهار له پاره استعاره شوی دی. دغه رنګه د عبد القادر خان ختهك په دې لاندې بيت کې د ګوتو له وهلو څخه مراد ږمنځول دي:

له غیرته مې زړګی ټوکر ټوکر شـــي     چې يې ګوتې په وېښتو وهي شانه

**مطلقه استعاره:**

هغې استعارې ته وايي چې د مستعار منهُ يا مستعارلهُ له متعلقاتو څخه کوم شی نه وي په کې ذکر شوی.

لکه رحمان بابا چې وايي:

د ديدن په ګدايي کې مې ننګ نشي     د رويزګر يم د بتانو په بازار ګڼ

په پورتني بيت کې (بتان) د ښکلو له پاره استعاره شوی دی چې (بتان) مستعار منهُ او (ښکلی) مستعار لهُ بلل کېږي، ځکه چې د مستعا رمنهُ يا مستعار لهُ له متعلقاتو څخه کوم شی نه دی ذکر شوی.

ما په مخ د مځکې ولیــدو مهتـا ب     چې خجل ترې دا مهتاب دی هم آفتاب
تر خوږې خندا دې زار شم راته خانده     چې نثار کړې په ما لعـــل و مرغلرې
د ګلابه دې لالـه داغ پـــر زړه يـــوړ     ستا نرګس د باغ نرګس کړه په کفن کې

**مرشحه استعاره:**

هغه استعاره ده چې د مستعار منهُ له متعلقاتو څخه کوم شی ذکر شي لکه پیر محمد کاکړ چې وايي:

چې ویشتلی دې په زړه لکه نخچـــیریم ستا د غشو له پرهاره به روغ نشـــم

په پورتني بیت کې غشي د بانوګانو له پاره استعاره شوی دی ویشتل او پرهار چې د (غشي) یعنې مستعار منهُ له متعلقاتو څخه دی هم ذکر شوی دی، نو ځکه مرشحه استعاره بلل کېږي. رحمان بابا وايي:

او که نوي د ناصح غاړه ادا ده که په غوږ کړی دا ګوهر زیبا یـي ستا ده

ګوهر د پند او نصیحت له پاره استعاره شوی دی. یعنې ګوهر مستعار منهُ او پند مستعا رلهُ دی غوږ کول او زیبايي چې دګوهر "مستعار منهُ" علایم دي، هم ذکر شوی دی". د میرزا حنان په دې لاندې بیت کې هم (دُر) د پند او نصیحت له پاره استعاره شوی دی او له بحر څخه رایستل او را نیول د مستعار منهُ (دُر) علایم دي چې ورسره ذکر شوي دي، نو ځکه مرشحه استعاره بلل کېږي:

ولی نې [1] رانیسي هېڅوك پـــه کودري حنان دُر کړه را بیرون د زړه له بحره

**مجرده استعاره:**

هغې استعارې ته وايي چې د مستعار لهُ علایم او متعلقات راوړل شي، لکه حمید چې وايي:

نه د جورو د جفا رسم له دوي ولاړ نه له ما د مهرخوی ولاړ د بتـــانو

---

[1]- نې د (نه یې) مخفف دی.

په پورتني بيت کې (بتان) مستعار منهُ او (ښکلی) مستعارلهُ دی د جوراو د جفا رسم د ښکلو (مستعارلهُ) له متعلقاتو څخه شمېرل کېږي چې په نوموړي بيت کې يې ذکر راغلی دی، نو ځکه مجرده استعاره بلل کېږي.

پير محمد کاکړ وايي:

| | |
|---|---|
| پريشاني مې د خاطر ورځنې پاځي | چې سنبل شي په سپين مخ باندې پريشان ستا |

سنبل د زلفو له پاره استعاره شوی دی. يعنې سنبل مستعارمنهُ او زلفې مستعار لهُ دی.

پر سپين مخ باندې پريشانه کېدل د مستعارلهُ علايم دی چې د نوموړي بيت په دوهمه مصرع کې راغلی دی، نو ځکه مجرده استعاره بلل کېږي.

## ۲- مرسل مجاز:

موږ د مخه وويل چې که چېرې د حقيقي او مجازي معناوو ترمنځ بې له تشبيه څخه نورې علاقې موجودې وي مرسل مجاز بلل کېږي. مثلاً لاندې بيتونه ولولئ او ښه ورته ځير شئ:

| | |
|---|---|
| راته وکړه په دې سرو شونډو بيان لږ | دا زما په اوږو واچوه احسان لږ |
| که آهو مې د عصمت په وينو رنګ ده | ماته کړی يې مرۍ د غم زمرۍ ده |
| که يې ماته په شنو کانو کړه وران نشو | هغه ښکلی د حسين په ککرۍ ده |

په لومړي بيت کې شونډې ذکر شوي دي، خو مطلب ځنې ژبه ده. ځکه چې بيان په شونډو سره نه کېږي او د شونډو او ژبې تر منځ د

ګاونډي توب علاقه پرته ده نه د تشبیه علاقه. د دوهم بیت په دویم مصرع کې (مرۍ) ذکر شوې ده مطلب ځنې مغزی دی. ځکه چې "مغزی ماتېدل" په پښتو کې یوه ډېره مشهوره اصطلاح ده او د مرۍ د ماتېدلو محاوره په پښتنو کې نشته، نو ځکه مرۍ ذکر شوې ده او مراد ځنې مغزی دی. مرۍ او مغزی هم د تشبیه علاقه نه لري، بلکې د ګاونډیتوب او مجاورت علاقه لري.

د درېم بیت د دویمې مصرع په پای کې حسین (چې د افغانانو یو خوږ ژبی شاعر دی) ککرۍ ذکر کړې ده، مطلب یې تندی دی په پښتو کې ډېره مشهوره ده چې وایي (هر څه چې د چا په تندي کې لیکل شوي وي هغه نه بدلېږي) نو ځکه په نوموړي بیت کې د ککرۍ د کلمې څخه په څرګند ډول د تندي معنا اخیستل شوې ده. د ککرۍ او تندي ترمنځ هم د تشبه علاقه نشته، بلکې د ګاونډیتوب او مجاورت علاقه لري دا درې مثالونه چې ذکر شول د مرسل مجاز مثالونه وو چې د مجاورت علاقه یې درلوده. مرسل مجاز ډېرې علاقې لري چې له هغو څخه یو څو په لاندې ډول سره راوړل کېږي:

سببیت:

چې سبب ذکر شي او مراد ځنې مسبب وي.

لکه حمید ماشوخېل چې وایي:

هسې موړ کړم د یار غم له خپله عمره     چې په حلق کې مې او به د حیوان نښلي

په پورتني بیت کې له (موړ) څخه مطلب بیزاري ده، ځکه چې د یار غم شاعر له خپل عمر څخه بیزاره کړی دی. او موړ سبب د بیزاري

دی چې شاعر دلته د بیزارۍ معنا ځنې اخیستې ده. دا لاندې بیتونه هم د سببیت علاقه لري، یعنې سبب په کې ذکر شوی دی او مسبب ځنې مراد دی:

د شبنم دانه که تخم شي د ګلـــــو زړه به سوړ په بدن نشي د بلـــبــــلو
سپینکی غابښ دی په خندا کې دُر ګوهر دی د سرو شونډو ومستی ته دې مل هیڅ دی
نن شیدا له ځانه سیر دی لکه شمــــع ستا محفل ته یې بې سره ګردن راوړ

په لومړي بیت کې تخم د ګلانو د شنه کېدلو سبب ګرځي، په دویم بیت کې له (مل) څخه موخه مستي ده او (مل) (په خپله سبب د مستۍ دی،) په دریم بیت کې (سیر) چې د بیزارۍ سبب ګرځي په خپله د بیزارۍ معنا ځنې اخیستل شوې ده.

مسببیت:

هغه دادی چې مسبب ذکر شي مطلب ځنې سبب وي.
لکه میرزا حنان چې په دې بیت کې وایي:

هېڅ خبر مې بیا د ورك یوسف رانغی که یعقوب رنګه مې شول واړه مژګان سپین

په پورتني بیت کې (ژړا) چې د مژګانو د سپینوالي سبب ګرځي نه ده راغلې او مسبب چې د مژګانو سپینوالی دی ذکر شوی دی، نو ځکه مسبب بلل کېږي. په دې لاندې بیت کې هم د مسببیت علاقه پرته ده.

ښادي څه غواړي په عشق کې د ګلرخو تمـــــامي عمر د زړونو سولیده دي

(غم) د زړه د سولېدلو سبب ګرځي چې شاعرې ذکر نه دی کړی او د زړه له سولیدلو څخه یې دا معنا اخیستې ده.

**کلیت:**

چې کل ذکر شي مراد ځنې جز وي.

لکه رحمان بابا چې وايي:

چا پېژندم زه چې عاشق نه وم په جهان کـــې
اوس مې ستا له رويه نوم رسوا په درست جهان دی

په پورتني بيت کې (جهان) ذکر شوی دی موخه ځنې يوازې د رحمان بابا د مسکن شاوخوا او ځينې نور محدود ځايونه دي چې ټوله نړۍ اصلاً نه ځنې مراد يږي.

په دې لاندې بيتونو کې هم د کليت علامه موجوده ده. يعنې کل ذکر شوی دی او موخه ور څخه جز دی:

د آسمان تلې که ډکې په دانـــو دي ځني نکا خريدارد دانـــــې طمعـــه
يا تنور دی يا دکان د اهنګـــــــرو چې په عشق کې تصور کړم خپل قلوب

په لومړي بيت کې د آسمان له تلو څخه مراد هغه يوه تله ده چې په آسمان کې ښکاري او په دويم بيت کې له قلوب څخه مراد قلب يعنې د شاعر زړه دی.

**جزئيت:**

چې جز ذکر شي او کل ځنې مراد شي لکه په دې بيت کې چې پير محمد کاکړ لاس ذکر کوي او مطلب يې خپل ځان دی. او لاس د ځان، يعنې ټول بدن يو جز بلل کېږي:

آه افسوس به څه رنګ زه پير محمد نه کړم چې نه زړه لرم په لاس کې نه دلبـــر

او پـه دې لاندې بیت کې لـه زړه څخـه چې د انـسان د بـدن جز دی موخه خپله انسان دی:

هغه زړه به له طوفانه په امـــــان وي | چې کشتۍ غونډې د خلکو بار بردار شي

ظرفیت:

چې ظرف ذکر شي مراد مظروف دی، لکـه پـه دې بیتونو کې چې لـه ویالو څخه اوبه، له دیګ څخه خواړه او لـه جام او ساغر څخـه شراب مطلب دی:

هر پلو رڼې والي بهاندی خانــــدي | له خوښــیه سروهي په ســنګرونه
رقیبان مې دی په آه پورې نه خاندي | د مردانو دیګ پخېږي په مهـال پس
ستا په بزم کې مې جام د شراب و چیــښ | که ساغر مې په چشمه د آفتاب وچیښ

مظروفیت:

چې مظروف ذکر شي موخه ترې ظرف وي، لکـه دعبدالقادر خان خټک په دې بیت کې.

په رویمال مې اوښکې وچې کړي داد را کړي
زه فریـــاد کـــړم تـــه زمـــا په دلاســـاشې

پـه پـورتني بیـت کـې اوښـکې مظـروف او سـترګې ظـرف دي چـې مظـروف ذکـر شـوی دی او مـراد ځنـې ظـرف دی. یعـنې سـترګې وچېږي نه اوښکې.

# کنایه

که کوم مطلب داسې ادا شي چې صراحت په کې نه وي راغلی، یعنې معنا یې ښکاره او څرګنده نه وي کنایه ورته وایي.

کنایه په درې ډوله ده:

**له صفت څخه کنایه:** چې له کنایې څخه صفت مراد شي لکه حمید ماشوخېل چې وایي:

د رویزه له درویز ګره ناکـــــسي ده        د فلك کچکول ته مه نیسه کچکول

په پورتني بیت کې د کچکول نیولو څخه مطلب ګدایي ده او ګدایي صفت دی چې دلته له کنایې څخه مراد شوی دی.

**له موصوف څخه کنایه:** چې د کوم شي یو یا څو صفتونه راوړل شي او مراد څنې په خپله موصوف وي، لکه زرغون خان چې په دې لاندې بیت کې د شرابو صفت ذکر کړی دی او مطلب یې شراب دی:

اورمې بل د زړه په کور کړه        له هر چا هر څه یې تورکړه

**له نسبت څخه کنایه:** له نسبت څخه کنایه داده چې یو یا څو صفتونه ذکر شي او د سړي متعلق ته یې نسبت وشي، خو موخه څنې د هغه امر نهې یا اثبات وي په خپله د سړي، له پاره، لکه: خوشحال خان ختك چې وایي:

ته چې ماته وایې وایه څوك دې وژني        ته له خپـــلو سترګو غواړه دا څواب

په پورتني بیت کې د وژلو نسبت د معشوقې سترګوته شوی. سترګې د معشوقې یو متعلق دی چې د کنایې په توګه په خپله معشوقه څنې مراد یږي.

د نشه يي توکو پرضد مبارزي وزارت

د کوکنارو کښت او مخدره موادو قاچاق، تروريزم، اداري جرمونه او فساد غښتلی کوي او زمونږ دګران هيواد دټولنيزې او اقتصادي بيا رغونې خنډ ګرځي.

دمخدره توکو معامله ګران دژورې په شان د بزګرانو او بې وزلو خلکو له وينو څخه ګټه اخلي .

له نيشو سره مرګوني مرضونه ملګري دي لکه : ايډز، زيړئ او داسي نور.